# زما دَ گلونو جنت

تاج رحیم



# سوغات

ډاکټر محمد همایون هما

او

فیروز خان افریدی

ته دا د خپل جنت گلونه پیش کوم



Pukhto.Net

# فہرست


| شمیر | سر خط | صفحه |
|---|---|---|
| 1 | زما د ګلونو جنت ------ داکتر محمد همایون هما | 7 |
| 2 | زما يو څو خبرې ---- فيروز خان افريدی | 17 |
| 3 | ولې ليکم ؟ ----------- تاج رحيم | 23 |
| 4 | زما د ګلونو جنت | 27 |
| 5 | پښتو | 38 |
| 6 | د شرابو په صفت | 45 |
| 7 | د امن ژوندد | 55 |
| 8 | د ژوند څلورم دور | 63 |
| 9 | ابليس، نسوار او پښتون | 75 |
| 10 | ډيورنډ لائن که د چين ديوال | 89 |
| 11 | د خر قرباني | 103 |
| 12 | پښتون | 113 |
| 13 | راځی چې دروغ وائيو | 127 |
| 14 | نا راستي او نيستي | 133 |
| 15 | د چرګ ډِش | 144 |
| 16 | خدای شته | 155 |
| 17 | ريسرچ ګرانټ | 165 |
| | خواږه تراخه يادونه | |
| 18 | خيرات ورکړه سخی له | 173 |
| 19 | مين کې کران | 189 |
| 20 | په سترګو مې نظر ولږيد | 197 |




Pukhto.Net

Dedicated to my elder Brother
Taj Mohammad Shah who guided me through
out my life, appreciated and
encouraged me for my Creative Work.

## **ترون**

د خپل مشر ورور تاج محمد شاه په نوم
چې ټول عمر ئې زما رهنمائي او تخليقی
کار کې حوصله افزائي کړې ده



Pukhto.Net

## د لیک ښنائیست

د تاج رحیم صاحب لیکونه د دې خبرې ثبوت
دې چه هغه په ډاګیزه وینا کې د څه مصلحت
ښکار شوی نه دی او دغه ئې د لیک ښنائیست
دی عظمت هما



Pukhto.Net

ډاکټر محمد همايون هما

# د تاج رحيم د ګلونو جنت

روښان فکره ليکونکي تاج رحيم، تير کال په ۏم دسمبر يو برقي ليک کې ما ته د خپل يو ارمان سرګندونه په دې ټکو کې کړې وه ـ

” زه که چرې يو شل کاله نور د ښه صحت سره ژوندې پاتې شوم نو هر کال به په مختلف موضوعاتو دوه کتابونه ضرور ليکم “

تاج يوسپين زړې او درويش خويه بنيادم دې ـ

چې څه ئې په زړه وی د هغې په اظهار کې چرې شومتيا نه کوی ـ نه په قلم، نه په خُله، لوئ ښتن د خپلو پاکو بنديانو خبره چرې ښکته نه غورزوی ـ لکه چې د هغه



Pukhto.Net

خواست د خدایؒ په لویَ دربار کې د قبولیت فائیل ته رسیدلې وی ـ هم د روان کال په سر کې د هغه د ښائسته افسانو مجموعه" قیصی میصی " چاپ شوې وه ـ او دا دې لخیره د نوی کال د را بره کیدو نه وړومبې ئې دوئم کتاب " د ګلونو جنت "مونږ ته راورسیدو ـ

د ګلونو په دې جنت کې، تاج چې د خپل سحر طرازه قلم په ډاډ کوم ګلونه نال کړی دی، زه په دې فکر کې یم ګلورینه لیکونو ته په ادب کې رائج الوقت کوم اصطلاحی نوم ورکړم ـ مضمون ورته ووائیم، په تکل ئې یاد کړم او که د اِنشائې ادب مروّجه سرخط لاندې راولم ـ د تاج د دې ګلونو د جنت د سیل نه پس زه په دې نتیجه رسیدلې یم چې د یو ښیرازه ذهن ځښتن د ادب په میدان کې په زړو رسمی لارو تګ په ځائې ځان د پاره همیشه نوې لارې جوړوی ـ خلق بیا ورستو د هغه د لیکونو د پاره د اصطلاحاتو چوکاټونه لټوی ـ په شاعرئ کې د ټولو نه مقبول صنف، غزل او په نثر کې د افسانې وړومبې تخلیق کار څه ووائیم، که خپلو تخلیقاتو ته دغه نومونه ورکړی



Pukhto.Net

وی ـ زما دا پوخ یقین دې چې غزل، افسانه، مقاله، مضمون او ناول د اصطلاحاتو رائج کیدو نه وړومبې دغه اصناف په تخلیقی سطح نمودار شوی دی په دې نومونو پیژند ګلن ئې بیا ورستو شوی ده

نو ځکه زه وائیم چې لوستونکی، د فن ماهران د خپلې پوهې په رڼا کې " د ګلونو جنت " دغې تخلیقی هڅې ته چې کوم نوم ورکوی د هغوئې خوښه ده ـ خو زه ورته تر دې وخته نه مضمون وایم، او نه تکل ـ ځکه چې نه خو دا د مضمون په رنګ د معلوماتو د وړاندې کوؤلو سپور انداز لری او نه ده تکل په شان د یوې خبرې د بیا بیا د شاربلو نیم مزاحیه رنګ پکې بیا موندې شی ـ د تاج په قلم کې چې کوم غورزنګی صفت دې او هغه چې په کومه روانه، بهانده، ساده او عام فهمه ژبه کې خپل محسوسات، مشاهدات، تجربات او د مطالعې نچوړ وړاندې کوی، " زما د ګلونو جنت " د هغې ژوندې او ګویانه نمونه ده ـ

مضمون څه ته وائې ؟ او د تَکل مروّجه تعریف (Definition) څه دې ؟ زه دلته د دغې نثری اصنافو په



Pukhto.Net

خصوصیاتو اوغوښتنو د نصابي تشریح څه ضرورت نه محسوسوم ـ په کتابونو کې د فن ماهرانو او د ادب پوهانو په دغه موضوعاتو اوږده بحثونه کړی دی ـ زما د ګلونو جنت کې راغلی لیکونه د تاج د رسا ذهن ، روښانه فکر او د تخلیق کارئ داسې ناویاته شکلونه دی چې زمونږ د دغې ذهین لیکونکی د فکر ځانګړی رنګونه لری دلته زه د دې خبرې وضاحت لازمی ګڼړم چې په پښتو کې د تکل په نوم د لیک بنیاد ګر ستر محقق دوست محمد خان کامل دې او هغه د پنځوسمې لسیزې په وړومبنو کلونو کې د تکل په لیک لاس پورې کړې وه د دغې نثری صنف د پاره د تکل د اصطلاح بانی نوم کامل صاحب دې ـ هغه په خپل روانه او شګفته ژبه کې لیکلی تکلونه د اولسی ادبی جرګې (پېښور) په اجلاسونو کې اورولې وو ـ چې ئې اوریدونکو او لوستونکو ډیره ډیره ستائنه کړې وه ـ دغه شان نومړی دانشور ایاز داؤدزی په دغه زمانه کې د زمانې فراغ، د ژوند ښکلا او د اختر میاشت، په نامه خوارږه تکلونه ولیکل ـ چې د هغه کتاب ادبی هڅې کې بیا موندې شی ـ نو ځکه زه د دې تاثر سره اتفاق نه کوم چې



Pukhto.Net

ګڼي په پښتو کې د تکل ابتدا ورستو یا بل چا کړې ده ـ خو ځني لیکونکو دغه نثري صنف په شعوري ډول خپل کړو او په هغې کې نوې تجربې اوکړې ـ خو د هغوئ په دغه تکلونو کې د اردو انشائیې اثرات څرګند دي ـ زما د تاج د هر لیک د پاره د ترکیب نسخهٔ استعمال د لیک نه به ځان ژغورلو ـ چې دا بیخي د لوستونکي په پوهه شک دې ـ دلته د خپلې خبرې په تائید کې " ډیورنډ لائن که د چین دیوال " مثال وړاندې کوم ـ دا لیک د مضمون د رسمي انداز نه په یوه ډېره داسې معلومات لري چې لوستونکي د خلیق او تحقیق به خپلو کې ګډو رنګونو ته سیلمه کړي اودغه لیک د معلوماتو نوې لیتکې بل کړي ـ او د تاریخ داسې نوي ګوتونه پرې روښانه شي ـ چې مونږ پرې سره د پوهې په خپله پوهه کې څه نیمګړتیا محسوسه کړې وه ـ په دغې لیکونو کې د طنز لشې هم دي اود مزاح مالګین خوند هم ـ زما په خیال د تاج دا لیک د نوي سیاسي حالاتو په رڼا کې د دوه ملکونوتر مئینځه د ډیورنډ لائن په نوم د حد بندئ یوه داسې تصویرګري ده چې په دغې موضوع د



Pukhto.Net

ډېر علمي ليکونو نه زيات درانه معلومات لري ـ

تاج ډيره خوږه ژبه ليکي ـ او بيان ئې ډېر اثري وي ـ ټکی ئې د اِمروزه ژوند د خبرو نه راخستې شوی دی ـ چې په پوهيدو کې لوستونکی ته هيڅ گرانه، نه پيښيږی ـ

زما د گلونو جنت د هر ليک په ورستو کې فاضل ليکونکی د قرآن او حديث حوالې د خپل نقطه نظر د وضاحت هڅه کړې ده ـ چې ترې د هغه په اسلامی تعليماتو ژور نظر او مطالعې اندازه لگی ـ او دا چې هغه په حقيقی معنو کې د عالمانو قدردان دې ـ د کتاب په څنې ليکونو کې چې ځائ په ځائ د کوم مُلا ذکر راغلې دې، دې د هغه ټولگی نمائندگی کوی چې ذهن ته ئې جرندې پرتې دی ـ هميشه خپله وائې او د بل نه اوری ـ په صحت مند مکالمه يقين نه ساتی ـ د جديد دور د علمونو زده کړه چې د روان وختونو اهم ضرورت دې، نه هغه منی او نه ئې د زده کولو کوشش کوی ـ خو د دغې ټولگی په مقابله کې د تاريخ په هر دور کې داسې علما ئ حق هم پيدا شوی دی چې د علم او پوهې مشالونو په لاس د جهالت تيّرو ته



Pukhto.Net

مخه نیولې ده ـ د حق بیرغ ئې پورته ساتلې دې ـ او د وخت هر ظلم او جبر مقابله ئې ښه په نره کړې ده ـ تر دې چې په دغه لار کې ئې خپل سرونه هم قربان کړی دی داسې عالمان، پوهان او مُلیان د پوهې مهذبې معاشرې ښائست وی ـ او په هر دور کې مانځلې شوی او قدر ئې شوې دې ـ یوه بله خبره دا چې په یوه مهذبه معاشره کې د رائې د اظهار نه انکار نشی کیدې خو د دغې رائې د اظهار حدبندی هم ضروری ده ـ د کوم ځائې نه چې د بل د زړه ازاریدواو جذباتو ژوبل کیدو امکان پیدا شی هم دغلته نه بیا د اظهارِ رائ د آزادی حد ختم شی ـ ځکه هر لیکونکی ته دغه نکته په نظر کې ساتل پکار دی ـ

د پښتو کتاب خرخول ډیره لویه مسئله ده ـ په دې باب له" ولې لیکم ؟" کې تاج وائي " پښتون لیونې نه دې چې د پښتو کتاب واخلي ـ ځان له په دې پیسو نسوار ولې نه اخلي چې خوند ئې په خپل ځائې، ولې شونده ئې چې پرسیدلې وي نو پښتون خو به ښکاري کنه " ـ اُس به زه تاج ته څه ووایم چې د نسوارو زمانه تلي ده ـ او نسواري پښتون هم په ورکیدو دې ـ پښتون د خپلې پښتون ولی د



Pukhto.Net

اظهار د پاره نورې ګڼې لارې بیا موندې دي ـ او پښتون به د پښتو کتاب ولې اخلي ـ هغه د ایاز لاله خبره، چې پښتون لیډر د حاجت په وخت ووټ په پښتو کې، دَ پښتو په نوم غواړي او چې واکمن شي نو بیا حکومت په انګریزۍ کې کوي ـ پښتو خواره، تاج او د هما په غاړه ده ـ ته ئې لیکه زه به ئې لولم ـ او چې زه اولیکم نو ته به ئې لولې ـ دغه وجه ده چې پښتو نه په پجیرو او لینډ کروزر کې سورلي اوکړه او نه په پیراډو کې سوره شوه ـ سرکار پښتو عام کوؤلو ته وزګار نه دې ـ او قوم د ګیډې په غم کې اخته دې ـ هغه ښه پوهه دې چې په پښتو کې نه روزګار شته او نه کار ـ نو بیا پښتو ولې زده کړي ـ د عربۍ دوه ټکي زده کړي نو په جُمات کې به مُلا شي ـ او چې انګریزي ووائي نو په دفتر کې بابوګیرت بیا مومي ـ مونږ لیکونکي که هر څومره ژړا فریاد اوکړو ـ پښتو زمونږ په نصیب ده ـ هم به ئې لیکوَ هم به ئې لولو ـ او پښتو به د خپلې پښتو په زور ژوندۍ وي ـ

خبر نه یم، دروغ دي که رښتیا خو خلق داسې وائي چې شیخ سعدي په زوړ عمر کې زده کړې ته



Pukhto.Net

لاندې وتې وه ـ نو که تاج ورور هم د پښتو اِملا زده کړې د پاره په دريم جماعت کې داخل شو نو څه ډيره بده به نه وي زه به هم ورسره ملګرې شم ما هم ډير کوشش اوکړو خو د ملاستې "ے" او ولاړې " ی " باندې سم پوهه نه شوم ـ ملاستې سره ډډه ووهم، سملم، او ولاړې سره ايغ نيغ اودريږم ـ نو زده کړه په هر عمر کې خوند کوي نو که املا لږه ډيره زده کړو نو پښتو به بيا پختو نه ليکو ـ په پښتو او پختو ( د پختی جمع ) کې څه فرق خو پکار دې کنه ــــ

تاج لکه زما د کوهي چيندخ نه دې ـ هغه د رحمان بابا خبره، زه خو نه د کوره چرته ووتم، نه مې سفر اوکړوــ او بې سفره مې لار د عمر غوڅه کړه ـ تاج لخيره دنيا کتلې او ګرځيدلې دې ـ د باجکټې (بونير) نه په هلکوانه کې را اوتو ـ کراچی، لاهور ته اورسيدو ـ په وطنونو اوګرځيدو ـ هانګ کانګ، برطانيه، امريکه ئې د پښو لاندې کړل او اوس په کينيډا کې ښه پوخ ديره دې ـ نو



Pukhto.Net

ځکه خو د هغه په ليکونو کې د مشاهداتو يوه دنيا آباده ده ـ هغه په خپلو ليکونو کې د خپلو دغې مشاهداتو او تجرباتو څرګندؤنه په ډيره فنکارئ کوي ـ او زه په ځائې وايم چې د تاج علمِ، پوهه، ذهانت، مشاهده، تيره احساسِ شرق و غرب، د ادب مطالعه ، چې سره خپلو کې وا خَلې شي نو کله " قيصی ميصیٰ " شي او کله ترې د " ګلونو جنت" ساز شي ـ راځئ چې اوس د دغې روښان فکره ليکونکي په قلم جوړ کلورينه سيل اوکړو ـ

10 نومبر 2012
دوه منټه او درې بجې
(کوز ماسپښين)

ډاکټر محمد همايون هُما
هسکه مينه شيخ ملتون
مردان



Pukhto.Net

فیروز خان افریدی

# زما یو څو خبرې

که هر څو د پښتنو په خاوره هره ورځ نوې نوې پیښې ،لوئې لوئې واقعې او حادثې رامخې ته کیږې خو د دې درنو پیښو او کړکیچنو حالاتو هغه انځور ګره او بوګنونکې لیکنه تر اوسه پورې زمونږ د نظره تیره نه شوه چې د دنیا عالمې ضمیر په راولړزیږي . یا پخپله د وطن د خلکو په فکر او نظر څه اغیزه راولي .داسې ښکاري چې د اولس سره سره د لیکونکي فکر هم ګنګس شوې دے.

د پښتون اولس د دې د ږدیدلي فکر او لوستې د پاره اوس محال داسې لیکنې پکار دي چې پکې د دې دړدیدلي او زبیخلي وجود او فکر د پاره څه لګ ډیر د دوا



Pukhto.Net

او راحت سوب وګرځي. ځیني رجحان سازه لیکني د انسان په جذبو او ولولو کې غورځنګ پیدا کوي او د هغې په رڼا کې لوستونکي ځان له یوه فکري او عملي لاره ټاکي ـ زمونږ پښتون ادیب او شاعر ډیر په ناخوالئ لیکني کوي سبب ئې چې هر څه وي خو د ژوند شوخي او تودخي پکې نه بریخي بلکه د یاسیت او نامیدئ سبب ګرځیږي ـ نه پکې هغه تازګي او شګفتي ښکاري چې د سړي مزاج نورو لوستلو ته اماده کړي ـ نه پکې څه فکري او علمي رعنائي بریخي چې لوستونکي راوپاروي.

ډیره موده وړاندې مې یو کتاب د تکل په تکل کې لوستلې وو، چې په لوستلو مې بے کچه مینه د پښتو نثر لوستلوسره پیدا شوې وه . ځکه چې په هغه لیکنو کې زمونږ د چاپیرچل خبرې،ستونځې شخړې ډیر په خوند خوند او د طنز په پیرایه کې لیکلې شوې وې . بې ځایه او خود ساخته ثقیله لفاظي پکې نه وه . بلکه د یو ستر عالم لیکونکي عامیانه خبرې ډیر په چست او شګفته انداز کې لیکلې شوې وې.

زما یقین دے چې د تکل په تکل کې د خوندي شوي



Pukhto.Net

تکلونو او انشائیو لوستلو وروستو به د پښتو نثر لیکونکیو د پاره د نثري لیکنې لاره پراخه شوي اواسانه شوي وي.

ډیره موده پس چې کوم کتاب زما په شان د ډیرو نورو نثر خوښونکي کسانو مخ ځان ته راګرځولې دې هغه د تاج رحیم صیب چې زه ورته درویش لالا وائیم د افسانو کتاب قیصې میصې دے کوم چې اوس اوس د ډاکټر همایون هما او پروفیسر عظمت هما په زیار خپور شوې دے.

د تاج رحیم صیب تازه ښپور شوي کتاب قیصې میصې د لوستونکیو د مطالعې د میز نه پورته شوي نه وو چې حسب دعوې د تاج رحیم صیب چې "په کال کې به دوه کتابونه لیکم" د زیري سره سم دغه دوئیم کتاب "زما د ګلونو جنت "هم زمونږ مخې ته راتلونکي دے.

تاج رحیم هغه لیکوال دے چې د ډاکټر اسرار په ښیر د مغربي علومو او ادبیاتو خزانې ئې په سینه کې رانغاړلې دي، او اوس ئې دغه دې مونږ ته راسپاري.

قیصې میصې ئې ښه په ارام ارام داسې په مزه مزه او خوند خوند واورولې چې د پښتو ادبیاتو شوقین ئې په



Pukhto.Net

خوندونو نه مړېږي او لکه زما په شان خلک ترې دا تقاضه کوي چې نورې لیکنې چرته دي؟

تاج رحیم صیب لکه څنګه چې ډاکټر همایون هما او پروفیسر عظمت هما صیب لیکلي دي چې د قند د وختونو دریافت دے خو بیا په مغرب کې داسې غروب شو چې پوره پنځوس کاله پس ئې په مشرق کې یو ځل بیا ښه په اب و تا ب سره مخ را څرګند کړو او د پښتو ادب په ورشوګانو ئې وړانګې او ځریکې وپاشلې . د اوۀ سمندرونو پورې غاړو نه ئې یاقربان کړو او خپلو زړو او نوو لیکوالانو او لوستونکیو ته ئې د قیصې میصې په شکل کې د خپل ذات د ننه او بهر محسوسات ،تغیرات ئې په تازه، خسته، شګفته، طنزیه او برجسته مکالمو کې واورول.

د تاج رحیم صیب دا کتاب """"زما د ګلونو جنت """"هم په شګفته، طنز او مزاحیه مضامینو مشتمل دے چې په رمز رمز کې ئې د خپل قام او اولس په ناسور د طنز نشتر چلولې دے . په دې مضامینو او انشائیو کې د تاج رحیم صیب د حس مزاح و طنز سره د هغه د



Pukhto.Net

مشاهداتو، تجرباتو، مغربي او مشرقي علومو د لوستلو هضمولو او بیرته د رابهر کولو استعداد هم ښه جوت ښکاري .

د تاج رحیم صیب د لیکلو اسلوب، انداز، فکر او دانش د مغربي ادبیاتو له برکته ډیر پراخ او بے باکه شوي دے او هم د دې اثراتو لاندې ئې بې له څه روک ټوک لیکل کړي دي.

تاج رحیم صیب د ادبي مروجه اصولو پرواه که بقول د دوئي ساتلي نه ده خو بیا هم په خپلو لیکنو کې ئې د خوند رنګ راوړولو د پاره د مروجه چل او هنر نه بے خبره نه دے . ډیر مضامین ئې داسې په بے باکه پیرایه کې لیکلي دي چې په سر سري نظر به د ادبي روایت پسندو په مزاج او تندي تلخي او ترشي راولي خو که په ژور نظر ځوک دې لیکنو ته پام وکړي نو هغه ټول نقائیص چې د سوونو کالو راهسې زمونږ په اجتماعي او انفرادي ژوند کې رارون دي ښۀ په اسانه ئې ادراک کولې شي

د حیرانئ خبره دا ده چې په دې عمر کې انسان او د



Pukhto.Net

هغه فکرونه بيرته د رواياتو په لاره راستانه شي او د لوئي لوئي شخصيات هم د قدامت پسندئ ښکار شي ليکن د تاج رحيم عرف درويش لالا په فکرونو کې لکه د شل کلن ځلمي تودخي، توانائي او شوخي ښکاري. داسې تازه او شګفته ليکنې د نن د دې ويرجن وخت د پاره ضرورت او د مرهم پټئ کار کوي.

ادب هسې هم د ژوند د ښکلا ننداره وي خو نن سبا ژوند دومره تريخ شوې دے چې اثرات ئې په ادب هم پريوتلي دي او د هر ليکوال په تحرير کې د بارودو د بوئي او وينو زوو منظر کشئ محسوسيږي . د شعري او نثري بيلګو نه ساندې او نوحې جوړي شوي دي. په داسې حا ل کې زمونږ د درويش لالا دا مضامين لکه د پسرلي د باد نسيم کار کوي چې په رنځور وجود کې د ژوند روح نناباسي.

زما يقين دے چې د تاج رحيم صيب دا کتاب زما د ګلونو جنت به د قيصې ميصې په شان لوستونکي ډير خوښ کړي

په درناوي

فيروز افريدي پيښور 24 نومبر 2012



Pukhto.Net

تاج رحيم

# ولې ليکم؟

زړه مې غواړی نو ليکم ـ پيسو له خو ئې نه ليکم ـ پښتون ليونې نه دې چې په پيسو کتاب واخلی ـ ځان له په دغو پيسو نسوار ولې نه اخلی چې خوند ئې په خپل ځائ ولې چې شونده ئې پړسيدلې وی نو پښتون خو ښکاری کنه

زه څه ليکم ؟ چې څه مې زړه غواړی هغه ليکم  د يو رسالې ايډيټر راته او وې ـ دا ليک دې لږ سم کړه هسې نه چې مُلان خپه شی ـ ما ترنه تپوس اوکړو چې کوم مُلان؟  د مُلانو خو ډير قسمونه دی - اول قسم هغه دې چې د ګيره خرايلو پيسې نه لری نو ګيره اوساتی ـ که کلمه هم نه ورځې خو هر څوک ئې په مُلا بلې ـ بل قسم د هغو مُليانو دې چا چې دوه څلور رُکوع زوتې کړې وی او امامت ئې موندې وی يا ئې چرته په يو جومات قبضه کړې وی ـ او د بې سر و پا خطبو مړنې وی ـ دريم قسم کې د دين عالمان راځی ـ چې د بد قسمتۍ، مونږ جاهلان هغوئ ته هم مُلان وائيو ـ او اول و دويم قسم مُلانو کې ئې شميرو ـ

زه د عالمانو د خپلو ډېرې ته هم نه رسم خو دومره جاهل



Pukhto.Net

هم نه یم چې د هغو په شان کې د طنز ګستاخی اوکړم ۔

لیکم نو د خپل زړه د پاره ۔ کله ورته مُسکې شم، کله وخاندم ۔ د ژړا کردارونه راته ډیر وَر تکوی ۔ وائې بهر باران دې او ګلئ وریږی ۔ هله زر شه وَر راته لر کړه ۔ نو په وَس سره ورته وَر نه لر کوُم ۔ ورته مې وئیلی دی چې د دې کتاب نه پس ناول لیکلو ته مې نیت دې نو هلته به ئې کله نا کله لږ ساعت ته پریږدم ۔ خو د کټ پوزی طمع دې نه ساتی ۔ د شپې میلمستیا ته ئې نه پریږدم ۔

د ادب مشرانو د ادب هر صنف له اُصول او لارې جوړې کړې دی ۔ او ښه پاخه لیکوال د دغې اُصولو پابندی کوی ۔ زه ځان په لیکوالو کې نه شمیرم ۔ د ادب د شریعت پابندی رانه نه کیږی او په دغه نیغه لاره تله راله خوند هم نه راکوی ۔ لکه دَ ماشومانو په شاړو، په پولو پټو او په وښو کې تله خوند راکوی ۔ که کیسه شروع کړم چې ختمیږی نو کیسه رانه په لاره کې ورکه وی ۔ او که بل څه په لیک شم نو بیا ئې پخپله نه پیژنم چې دا چائ ده، قهوه ده، شومبلې دی، او که شیربت دې ۔ چې خوند او ذائقه پکې وی نو څوک خو به ئې سکې ۔

پوهه او ګران لوستونکي رانه ګِله کوی چې زما اِملا سمه



Pukhto.Net

او آپ ټو ډیټ نه وی ـ نو څه وکړم ـ پنځه شپیته کاله مخکې مې تر دویم جُمات پښتو وئیلې وه ـ او بیا وربانديې پنځوس کاله بلَسیدلي نه یم اوس په دې عمر کې راله یوسکول هم په دریم جُمات کې داخله نه راکوی ـ وائي ماشومان به درپوري خاندی ـ

په دې پنځه شپیته کاله کې د پښتو په اِملا کې سمه سنسکرتي ترقی شوې ده ـ لکه ملاسته "ے" ئې کښینولې ده او د "ی" لاندې ئې ورته چښچې "ې" ټومبلې دې چې ټول عمر ملاستې په وجه ئې ملا کمروري شوې ده هسې نه چې اوغورزیږی ـ دې دوه ی ګانو لخیره څلور بچی هم راوړی دی او دا کورنۍ شپږو ته رسیدلې ده ـ "ڼړ" په ځائ "ڼ" چې د دوه حرفو، نه یو ښه دې ـ د لیکونکی په دوه حروف لیکلود هغه قیمتی وخت ضائع کیږی ـ نور ټکی لکه ځ او ښ، ز او ځ، ګ او ږ ئې په خپل حال پریښودی دی چې مشرانو پکې کلک میخونه ټک وهلی دی ـ د ویستو په بند ئې نه پوهیږو ـ او په بلا ټکو ئې قدغن لږولې دې چې پښتو به **پختو** نه لیکي، پښتونخوا به پښتونښوا نه لیکي ـ یره که سنسکرت مې ایزده کړې وې نو نن به راته د پښتو د یو اواز مختلف لفظونو کې د هر لفظ د پاره د ټکو فرق ساتل



Pukhto.Net

اسان وو ـ د لر او بر عالمانو ډیره خواری کړې ده او خپل ټول عالمانه قوت ئې په یوه ی صرف کړې دې ـ د ناستې نه پاسول او کښینول او بیا ورته موړې ټومبل او ځلور بچې راوړل څه اسان کار خو نه دې ـ نو په دې رفتار دهر نسل عالمان د یو یو ټکی سره که خواری وکړی نو ډیر زر به که خیر وی یو څو نسلو کې د پښتو الف ب بلا نور بچی راوړی او دومره ترقی به وکړی چې د پښتو لیک به د سنسکرت ځائې له ورشی ـ زه او زما غوندې کم علمه لیکوال به د پښتو سکرپټ کې لیکلو نه توبه ګار شی او لکه د زلمی کول پشان به پښتو په رومن سکرپټ کې لیکو ـ

زما د زړه کړې رفتار د لر او بر د عالمانو همره تیز نه دې نو خبر نه یم که په دریم جُمات کې داخل شوم نو اِملا به مې آپ ټُو ډیټ شی او که نه ـ ماته او هم تاسو ته اسانه دا ده چې زه به ئې په خپل کلی واله زړه پښتو کې لیکم او تاسو ته چې څه رنګ درست ښکاری لوستې شئ ـ او زه به په دریم جمات کې د داخلې نه او د ماشومانو د خندا نه بچ شم ـ

تاج رحیم



Pukhto.Net

# زما دَ ګلونو جنت

دنیا د ګلونه باغ دې ـ هر پله چې ګورې، رنګا رنګ ګلونه دي، خوږې خوږې میوې دي څوک وائي چې آدم ئې د جنت نه شړلې دې ـ په څه ګناه ؟ د جنت میوه ئې خوړلې وه ؟ دا خو ګناه نه دې ـ خالق دا خوږې میوې د چا د پاره پیدا کړي دي ـ بل کوم مخلوق دې چې دا ښائسته ګلونه، دا خوږې میوې، دا فصلونه، دا شنې وَنې، دا خوړونه او سیندونه، دا سمې او غرونه ئې ورله پیدا کړي دي؟ـ بل کوم جنت دې چې په دې ښکلې زمکه نشته؟ وائي چې د ابلیس په لمسه آدم علیه السلام ګناهګار شو او جنت نه شړونې شو ـ زهٔ نه منم ـ دا خو د خالق د نعمتونو نه انکار



Pukhto.Net

دي ـ د هغه د بخشيشونو نفي ده ـ د هغه د ميني نه مخ په بله اړَول دي ـ دومره منم چې ابليس ورله په سترګو لاس اېښودي دي، سترګې ئې ورله پټې کړي دي ـ او بنيادم خپل خواؤشا نه ځان ړوند کړې دې ـ په جنت اوسيږي خو په پټو سترګو ځان په دوزخ کې ګڼړي ـ د جنت ښائست ورته نه ښکاري او د دوزخ په اور کې سوَزي ـ چې سترګې پټې کړې وی او ځان په دوزخ کې وينې نو د جنت مزې به ئې په نصيب چرته وي ـ مشرانو د يو ښکلي واقعي ذکر کړې دې چې يو سړې د واؤرو ډک غره کې لار هيره کړه او شپه راغله ـ دومره ساړه وۀ چې ژوندې پاتيکيدل پکې ممکن نه وۀ ـ سحر له د هغه په لټون چې خلک هغه له ورسيدل او هغه ئې ژوندې او صحيح سلامت بيا موندلو نو ډير حيران شول او تپوس ئې ترې اوکړو چې د واؤرو په دې منفي تمپريچر کې هغه ځنګه شپه تيره کړه ؟ نو هغه ورله جواب ورکړو چې يو ځو



Pukhto.Net

میله لرې ښکته چا د وږر بانبړه اچولې وه نو د هغې وږر په ګرمی مې ځان تود ساتلو ـ

خالق انسان له د تخیل دومره لویَ طاقت ورکړې دې چې هغه د دغې تخیل په برکت داسې ناممکن کارونه کړي دي چې انسان ورته پخپله حیران دې ـ د دغې تخیل په سبب نن دې د مارغه نه هم ښه الوتې شي ـ د سیندونو د پاسه او په اوبو کې دننه اوږد اوږود سفر کولې شي زرګاؤ میلونو لرې د یو بل سره مخا مخ خبرې کؤلې شي ـ نو د دې تخیل په قوت دې که دوزخ کې وي نو ځان ته ترې جنت جوړه ولې شي ـ خو د انسان د سوچ دا ډیره لویه المیه ده چې په جنت کې ناست دې او ځان ته ئې دوزخ پیدا کړې دې ـ ځان ئې د جنت نه شړوني کړې دې ـ او جنت ته د ننوتو شرائط ئې ځان ته دومره ګران کړي دي چې سر ته ئې نه شي رسولې ـ ځان ئې وچ په وچه ګناهګار کړې دې او سترګې ئې پټې کړي دي چې د



Pukhto.Net

ښائسه ګلونو په جنت کې ناست، نه د ګلونو ښائست وینـي، نه د ګلونو په خوشبوئې پوهیږي، نـه د خوږو میوؤ پـه خوند پوهیږي، نه د مرغو خوږې سندرې ئې په غوږو خوږې لږي ـ د جنت ټول نعمتونو تـه ئې شا کړې ده او ځان ئې ورته ړوند کونړ کړې دې - ولې؟ د ابلیس په لمسه ؟ـ تر دې خو ربنتیا ده چې په جنت کې اوسیږم خو د جنت نه ئې ویستې یم ـ جنت بره په آسمانونو کې به وې ـ خوهم دا زمکه، دا زما وطن ټول جنت دې ـ دا هم د خـالق خپل تخلیق دې ـ د ا هم جنت دېَ، زما د پاره، ستـا د پاره، د انسان د پاره ئې پکې هر څه پیدا کړي دي ـ نه ئې ترنـه زۀ شړلې یم، نه ئې ترنه نور انسان شړلې دې ـ خو مونږ ترنه ځان پخپله شړلې دې ـ دا زمکه مو په ځان تنګه کړې ده ـ ځان ته مو پکې کربنې راښکلې دي چې د کربنې دې خوا زما، آخوا ستا ـ ته به د کربنې نه دې خوا نه راځـې او زۀ به په زور او طاقت دا کربنه ورانه ؤم، تـا بـه ترنـه



Pukhto.Net

شرم یا به دې وژنم او ستا په ډډه به قبضه کوم ـ ولې ؟ څه به ورسره کوم ؟ د دې نه زهٔ خبر نه یم چې چرته به ئې وړم ـ خو تا د خپل جنت نه دوزخ جوړ کړې دې نو زهٔ به ئې درله نور زیات دوزخ کړم ـ

مونږ ټول په دې جنت اوسیدې شو ـ ښه خوشحاله ژوند تیرولې شو ـ د یو بل عزت او قدر کولې شو که زهٔ ځان د هغه خالق مخلوق اوګنړم او تا هم د هغه مخلوق اوګنړم ـ دا جنت دهغې خالق دې، زما هم دې ستا هم دې ـ مونږ ټول د دې باغیچې ګلونه یو ـ بې شکه چې جدا رنګونه لرو، جدا خوشبوئې لرو، جدا شکلونه لرو، جدا ژبې لرو، جدا عادتونه لرو جدا جدا کلتور لرو خو د دې باغیچې د ګلونو، رنګ و بو کې فرق د باغیچې ښائست نور هم سیوا کوي ـ که دې جنت کې هر خوا زهٔ او زهٔ وې ـ بل څوک پکې پاتې نشي نو د دوزخ وؤر به پکې بَل وي ـ یوه باغیچه کې تش ګلاب وي، د بل رنګ و بو ګلونه



Pukhto.Net

پکې نه وي او بله باغیچه د رنګا رنګ، د بلا قسمونو، د جدا جدا ساخت او خوشبویو نه ډکه وي نو دا باغیچه به د یوازې ګلاب د باغیچې نه ډیره ښکلې او ډیر زیات ښائیست لري

د قدرت نظام کې یو شې هم یوازې، یو نشته ـ که مرغی دي نو د هغوی د رنګونو، د شکلونو، د جسامت او اواز بې حسابه قسمونه دې ـ که ځناور دې نو د قسمونو او نسلونو حساب ئې نشته، که د اوبو میَان دي، که لوی لوی وَنې دي که شنه ګیا ده، که غرونه دي که ګټان دي، که معدنیات دې، چرته اوسپنه ده نو بل خوا سره زر دي، یو خوا خوږې رنړې اوبه دي نو بل خوا تور سخا تیل دي ـ هر شي خپل قدر او قیمت لري ـ د یو بل دشمن نه دي ـ د یو بل سره خوا په خوا په امن موجود دي ـ او د دې زمکې، د دې جنت حصه دي ـ د دوئې نه بغیر به دا جنت، جنت نه وي ـ هم په دې رنګ، بنیادم هم د دې جنت حصه



Pukhto.Net

دې ـ او د جنت ښائیست پرې جوړ دې چې جدا شکلونه، جدا رنګونه، جدا ژبې او جدا کلتورونه لرې ـ  چې ټولې ژبې رایو ځای شي نو د میوزک خوږ اواز ترې پیدا کیږي ـ که په دنیا یوه ژبه وې نو به پکې د میوزک د خوند په ځای، یوه بې سوره، بې خونده تشه چغه وه ـ هره ژبه د ژوند د خوږ میوزک ځان ځان له یو خوږ سور لري ـ په دې جوړ یوه ژبه په بله فوقیت نه لري ـ  د جدا ملکونو بنیادم هم په یو بل هیڅ فوقیت نه لري ـ خالق د ښکلې، د ښائیسته، خوږ او مکمل ژوند د پاره ټول لکه د رنګا رنګ ګلونو په شان، ګلونه پیدا کړي دي ـ د یو بل بې قدري او سپاکوې د خالق بې قدرې او سپاکوې دې ـ

که زهٔ سترګې او غږوَم، د ابلیس لاس د خپلو سترګو نه په ډډه کړم، نو خپل جنت به او وینم ـ په خپل جنت کې د قدرت د نعمتونو احساس به مې په زړه کې ویخ شي ـ له دې احساس نه به ازاد شم چې زهٔ د خپل ښکلي او خوږ



Pukhto.Net

جنت نه شړوني يم، بې کوره شوي يم ـ ځان ته مې د جنت نه ولې دوزخ جوړ کړې دې ـ دا زمکه، دا وطن، زما اصلي جنت دې، د ژوند ټول ښائيست او خوند دلته دې، اوس، نن او په دې وخت دې ـ د صبا او د آسمانونو د جنت په طمع ناست يم او ځان مې د دې جنت د خوند نه محروم کړې دې ـ خالق خو راته په دې ځاى، په دې زمکه، په دې وطن کوم جنت راکړې دې د هغې نه ځان ولې شړوني ګڼړم ـ هغه چې کوم نعمتونه او بخشيشونه بخښلي دي د هغې نه مې ځان ولې منکر کړې دې ـ دا زما ښکلې جنت دې ـ د هر کس د پاره پکې پريوانه ځاى شته، پريوانه رزق شته، پريوانه خوشحالي شته ـ د بل په ځاى، د بل په رزق او د بل په ژوند که نه بلسم نو زما په رزق کې به هيڅ کمي زياتې نه راځي ـ څومره ځاى چې خداى، د دې جنت خالق زما په برخه کې مخصوص کړې دې په هغې کې به کمي زياتې رانشي ـ خالق دا جنت دومره اَرَت،



Pukhto.Net

دومره وسیع جوړ کړې دې چې مونږ ټول پکې په خندا، خوشحالۍ او په امن ژوند تیرَولې شود یو بل نه نفرت، د نورو قومونو نه نفرت، د نورو ژبو نه نفرت، د نورو کلتورونو نه نفرت کې مونږ ته هیڅ ګټه نشته، هیڅ فائیده نشته ـ که زهٔ بل نه نفرت کوم او د هغه نه د مینې او عزت طمع لرم نو دا بې مطلبه لیونتوب دې ـ د نفرت جواب، په نفرت کې وي او د مینې جواب په مینه کې راځي ـ زهٔ به ستا عزت کوم نو ستا زړه به زما عزت کول غواړي ـ که زهٔ د نورو عزت او قدر زده کړم نو زما ژوند به د خوشحالۍ ډک شي ـ

که د آخرت جنت غواړم نو چې کوم جنت راله خدایٔ په دې جهان راکړې دې اول د دې جنت په قدر او عزت ځان پوهه کړم نو پس له هغې د آخرت د جنت د طمع حقدار کیږم ـ ولې مې په دې جنت د بربادئ لاس پورې کړې دي ـ هر خوا په ورانې لګیا یم او طمع لرم په



Pukhto.Net

آخرت کې د جنت، نو مطلب ترې داسې خیژي چې زهٔ ځان، د دې جنت د خالق نه، ډیر هوښیار او چالاکه ګنړم او خدایٰ راته ( نعوذو بِالله ) بیوقوف ښکاري ـ د خالق په مخلوق مې د وژلو لاس پورې کړې دي او د هغه نه د انعام په طمع یم، چې دا وژله خو زهٔ د هغه د پاره کوم ـ لکه چې هغه بې لاسو پښو دې ـ ما ته محتاج دې، هغه خپل سوچ او فکر لرلو اهل نه دې ـ ټول سوچونه ورله زهٔ کوم ـ نو ځکه زهٔ هر څه چې کوٶم د هغه د پاره ئې کوٶم او په بدل کې د انعام حقدار یم ـ

لویهٔ خدایا! ما د دې ټول منفي او شیطاني سوچونو نه خلاص کړه ـ ډیره بربادي او تباهي مې ستا په دې ښکلي جنت اوکړه ـ د دې ښائیسته جنت شکل مې وران کړو، تا جنت راکړې وه، ما ترنه دوزخ جوړ کړو ـ ستا ټول مخلوق رانه بیزاره او ستړې دې ـ زهٔ د ځانه هم ستړې یم ـ هره ورځ خودکشي کوٶم، هره ورځ ځان وژنم د هره



Pukhto.Net

ورځ د مرګ نه ډېر ستړي شوې يم ـ ستا دا جهان جنت دې ـ خدايه ! ما د جنت په مزو پوهه کړه چې په قلاره شم، په امن شم او خوشحالي اووينم ـ د خپل وطن، د خپل جنت په قدر مې پوهه کړه ـ په خپل نعمتونو او بخششونو مې پوهه کړه ـ دومره قوت، طاقت، او همت راکړه چې د ابليس لاس د خپلو سترګو لرې کړم ـ رنړا راکه چې ښه او بد وپيژنم ـ په ژوند پوهه شم ـ امن وپيژنم ـ او ستا په دې بخښلي جنت کې په استوګړه پوهه شم ـ خدايا، زما لويا خدايا، زما فرياد واؤره او ما له عقل او فکر راکړه ـ

**********

بِسْمِ اللَّـهِ الرَّحْمَـٰنِ الرَّحِيمِ

وَالْأَرْضَ وَضَعَهَا لِلْأَنَامِ ﴿١٠﴾ فِيهَا فَاكِهَةٌ وَالنَّخْلُ
ذَاتُ الْأَكْمَامِ ﴿١١﴾ وَالْحَبُّ ذُو الْعَصْفِ
وَالرَّيْحَانُ ﴿١٢﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿١٣﴾

سورة الرحمن



Pukhto.Net

# پښتو

پښتو، پښتو ده او پښتو ژبه هم ده ـ دا ځکه داسې ده چې د پښتو ژبې پشان بله ژبه نشته ـ او په بله ژبه کې پښتو نشته ـ په کومه ژبه کې چې پښتو نه وی هغه د اولس ژبه وی او چې پښتو پکې وی هغه د باچانو ژبه وی ـ بلا پښتنو باچانو په سوونو کاله په هند باچائي کړې ده او د پښتو ئې ډیر عزت ساتلې دې ـ مجال وه که د محل د خدمت گارو سره ئې د پښتو نه سیوا بله ژبه وائیلی وی ـ د بیگماتو سره به فارسی کې غږیدل او د اولس سره هندکو کې ـ خو په نورو ژبو ئې د پښتو درجه ډیره اوچته گڼړله او په دی جوړ ئې د بهرنی الائیشو نه پاکه ساتلې ده ـ که دوئی د اولس سره او سرکاری کاروبار په فارسی کې نه وې ساتلې نو نن به د پښتو مقام دومره اوچت نه وه او تولـه به د بهرنی ژبو د تکو نه ډکه وه ـ دی پښتنو باچانو د



Pukhto.Net

پښتو ژبې دومره لوئې خدمت کړې دې چې نن ئې مونږ ستائینه کوؤ ـ بس دا شاعران خدائې لیونی کړی دی - ټول عمر ئې شاعری په پښتو کې کړې ده - دوئی له پکار وه چې د باچانو په لار تلې او **د پښتو شاعری ئې په فارسی کې کولې** ـ نواول خو به پښتو ژبه د دې شاعرانو نه پاکه وه او دویمه فائده به د شاعرانو په حق دا وه چې نن به دوئې د پښتو د اوچتې پائې شاعران ګنړلی شو د نثر لیکوال په دې لار هډو تیر شوی نه دی ـ د ملانو تعلق خو د اولس سره وی ولې دوئې چرې د باچانو صفت نه دې کړې ـ او د اولس ژبه کې ئې اولس ته خطبې ورکړې دی ـ دا به منو چې د پښتو ژبې عزت ئې قائیم ساتلې دې ـ او تر اوسه ئې ساتې ـ

ډیره موده پس په څه کار کلی ته روان وم ـ هغه زمانه کې سوزوکې او موټر رکشې نه وې ـ سائیکلې هم نه وې ـ هر کلی ته سړک نه وه جوړ نو ټانګې به هم نه



Pukhto.Net

تلي ـ مونږ به پياده سفر کولو ـ نو په لاره کې يو کلي پريوتو ـ ورته وراوگرزيدم چې لږه دمه به اوکړم او د چا به د چائيو ميلمه شم ـ

د جمعې ورځ وه ـ په جمات ورغلم ـ بلا گڼه وه ـ او د ملا صيب خطبه ښه په گرمه روانه وه ـ اتفاق ورته او وايه چې د خطبې موضوع، پښتو ژبه وه ـ ملا صيب په خپله خطبه کې د خپل استاذ کوهستان ملا صيب ، په

حوا له دا بيان داسې اوکړو چې پښتو د جنت ژبه ده او د محشر په ورځ به ټول تپوسونه په پښتو کې کيږي او چا چې په پښتو کې جواب ورنکړې شو هغه دې د خپل انجام پخپله اندازه ولگوي ـ زما وينا ته پکې حاجت نشته ـ او هغه دا هم اوې چې په قبر کې منکر نکير فرښتې هم په پښتو کې سوال جواب کوی ـ ځوک چې په پښتو کې جواب ورنکړې شی نو هغه به برزخ کی تر قيامته په پښتو ايزده کولو ژوند تيرَوي ـ



Pukhto.Net

په پښتوئې ډېر وسيع او عالمانه بيان وه ـ زما علم کې ئې بلا اضافه وکړه ـ دا ئې هم وئيل چې پرَدی ټکی په پښتو کې راننوستل ډېر سخت ګناه دې او د قيامت په ورځ به دا ټکی لکه د سرو سروټکو د هغه په وجود کې ننوځي ـ په دې خبره زما ټول وجود ورپيد ـ دا ګناه خو زما د لاسه ځو ځو ځله شوې دې ـ پوښتنه مې ترنه وکړه " يا حضرت! د دې ګناه د خلاصون څه کفاره خو به وي" جواب ئې راکړو ـ " بالکل شته ـ يو د پاسه سل ډالرې که دې جمات له ورکړې ـ او بيا د پاره خيال ساتې " ـ ما ورته اووې " ملا صيب ! ډالرې به د کومې راوړم ـ په روپو پيسو کې راته وايه" ـ نو جواب ئې راکړو ـ " د روپۍ هيڅ اعتبار نشته ـ چې صبا له به روپۍ د دوه پيسو وي او که نه وی" ـ

ما ورته اووې ـ " ملا صيب که تاسو نه وئې نو مونږ به چا پوهه کولو ـ د پيښور غټو غټو ملانو چرې داسې دَ



Pukhto.Net

پوهه خبرې راته نه دی کړې“ ـ

جواب ئې راکړو چې ”هغې په څه پوهيږي ـ په سرکاری مدرسو کې ئې سبق وئيلې دې ـ د هغې استاذان هم د سرکاری مدرسو دي ـ نو علم به ورڅخه د کومې راشي“ ـ

ما د کوهستان استاذ پوره يو کال شاګردی کړې ده او يو روغ کال مې ورته د کوهستان په غرونو کې د علم په زده کړه تير کړې دې “ ـ

” ملا صيب مخکې تاسو څه کول ؟“

” ستا نه څه پرده ـ مخکې مې د خان ټانګه چلوله“

ما ترنه نور تپوس اوکړو ـ ” که يو پردې ټکې په پښتو کې د سره هډو نه وي نو بيا ؟“

” نو بيا څه ! په پښتو کې ورله ټکې جوړ کړه“

” که ټکې نه جوړيږی نو بيا ؟“

” څه بيا بيا دې جوړ کړی دی ـ غټ جاهل ئې ـ چې ټکې درنه نه جوړيږی نو اسان چل دې ـ کلمه ورته اووايه،



Pukhto.Net

مسلمان ئې کړه"۔

" د کلمې دا چل خو ډیر اسان دې "

" دومره اسان هم نه دې ۔ د ټکې جوړولو سل ثوابه دي ۔ او د مسلمانولو لس زره ۔ چې ټکې مسلمانوې نو اول به په خوَړ کې په انګریزي صابون ولامبې ۔ اِستري کړې پاکې جامې به وا غوندې، یو ځل به بیا اودس وکړې ۔ نو پس له هغې نه به ورته په یوه ناسته کې لس زره د پاسه سل ځله کلمه وائې"

د ملا صیب په چل مې سوچ اوکړو نو دې نتیجې ته ورسیدم چې اول خو ما پخپله په ټول ژوند کې لس زره د پاسه سل ځله کلمه نه ده وئیلې ۔ دوئیم که یو کافر له سل ډالرې ورکړم او ورته اووائیم چې مخې ته مې چپ کینه ۔ زه به درته لس زره ځله او سل د پاسه، کلمه وائیم او ته به ئې اؤرې ۔ نو یقین مې دې، نیمې ته به نه یم رسیدلې چې هغه به په چغو شی ۔ په غوږو به لاسونه کیږدی او هغه سل ډالرې به هم واپس کړی چې بس دې، وشوه، مسلمان



Pukhto.Net

شوې یم ـ خدائې خبر چې دا پردې ټکی د کومې ختې نه جوړ دې ـ چې پښتو کې ئې راړول دومره ګران دي ـ درې ټکی مې مخې ته راغلل ـ ټوله شپه مې په ویخه تیره کړه او چې سحر کیدو نو پښتو ته مې راړَولې وو ـ

۱ـ ټمبکټُو: ډکشنری وائې د افریقې یو ښار دې ـ ډیر په ګرانه مې ورله پښتو جوړه کړه ـ **تمبا کو** ـ

۲ـ برازیل : ډکشنری وائې ـ په لر امریکه کې د یو وطن نوم دې ـ ما ورله د پښتو نوم جوړ کړو ـ

د **بَر ذ لیل** ـ

۳ـ امریکه : ډکشنری کتو بغیر راته پته ده ـ پښتو مې ورله جوړه کړه ـ **ورکه ئې که** ـ

د ملا سره دِ خدائې ښه شی ـ لار ئې راته برابر کړه ـ اوس که خیر وی نو پښتو به ترقې کوی ـ

*****

وائې اغیار چې د دوزخ ژبه ده
زه به جنت ته د پښتو سره ځم
حمزه



Pukhto.Net

# د شرابو په صفت

## چې ستړې نشی

وائي افلاطون ته چا اوې چي فلانکی سړی ستا ډير صفت کولو نو افلاطون په ژړا شو ـ

"دا ولې؟" هغه سړی ترِ تپوس اوکړو ـ

نو افلا طون اوئيل " زما نه به د جاهلانو څه حرکت شوې وی چي دَ هغه به خوښ شوې يم " ـ

که شرابو ته پته اولږی چي ما دَ هغې په صفت کې څه ليکلی دی نو خپل بوتل به په يو غټ ګټ مات کړی

دَ شرابو دَ صفت ټول حقوق خو دَ شاعرانو په حق



Pukhto.Net

کې محفوظ دی ۔ زهٔ شاعر نه یم خو دَ هغوئي دَ حقوق په حدود کې بې تپوسه قدم ګدم ۔ او دا بې تپوسه دخل اندازی هسې ماله خوند راکوی لکه چې په غیر قانونی طورد چا په کور یا زمکه قبضه کوم ۔ خو اکثر شاعران کنګال وی نو هغو ته زړه ور یم

اول به د شرابو قِسمونه اوشمیرو مثلاً دَعشق شراب، دَ عشقِ حقیقی شراب، دَ معشوق د شونډو، د سترګو، د مینې شراب، د انګورو شراب، اصلی ولائیتی شراب، پنجابي شراب چې ورته ټره وائي او دَ شاعرانو خیالی شراب ۔ دَ قسمونو څه شمار نشته او دلته مطلب دَ قسمونه سره نه دې ۔ د شرابو دکان د جوړولو اراده هم نه لرم ۔ ګټه پکې ډیره ده خو پیسه هم ډیره پکار ده ۔ د شرابو یو لیوال راته په ارزانه د کاروبار کولو چل خوولی دې ۔ وئیل ئې په بازار کې یا په ګران ځا ې کې دکان مه اخله ۔ شریف خلق او غټ غټ نومړي ملان او سیاسي خلق به درله د بازار دکان ته نه راځي ۔ پولس او ورځ پاڼرو نمائندګان به د خپل کمیشن او یو بوتل نیم د پاره ، هر



Pukhto.Net

وختې ستا د دکان په ور ولاړ وي ـ چرته د غریبو په علاقه کې، د خاؤرو ختو په آبادۍ کې، یوه کچه کوټه په ارزانه واخله ـ نو غټ غټ ګاهکان به درله راځي ـ که څوک یو وزیر دغلته اوینې او تپوس ترې اوکړي چې

” وزیر صیب تاسو دلته په دې سخا اوغریب ځائ کې! -

نو وزیر صیب به درله سمدستي جواب درکړي چې

” د غریبانو حال نه ځان خبر ساتم چې ورله څه د مدد کار اوکړې شم “

او که یو غټ ملا او جرنلسټ په دې ځائي په یو بل ورشي نو د هغوی ډائیلاګ به څه په دې جوړ وي

ملا صیب جرنلسټ ته: ته دلته څه کوې ؟

جرنلسټ : مونږ خو خدائي خدمت ګار یو ـ دنیا او حکومت د غریبانو د حال نه خبرول زمونږ فرض دې او د دغې فرض پوره کولو د پاره په دې سخا خاؤرو ختو کې ګرځو-

ملا صیب : نیک کار دې خدا ئ به درله جزا درکوي



Pukhto.Net

جرنلسټ : ملا صیب تاسو دلته څنګه ؟

ملا صیب : دا ځا ئ یوه غریبه کونډه زنانه ناروغه وه ـ چي خبر شوم نو تپوس له او دم درود له ورته راغلي ؤم

په دې جوړ به درله غټ غټ ګاهکان راځي او د هغوئ عزت به هم بچ وي ـ او ستا بلا خرچې به هم بچ وي ـ ډیره قیمتي صلاح راله دې شرابي راکړه ـ دا خلق هیڅ بیځه شرابیانو ته بد وائي چي شراب مزغو ته نقصان رسوي ـ که ما د بزنس کنسلټنټ نه دا صلاح غوښتې وې نو اول خو به هغه زما نه سم غټ فیس اخستې وه او بیا دومره درست او ښکلې صلاح هغه ما ته نه شوه راکولې ـ دا ټول د شرابو برکت دې چي زهٔ د ډیرې خرچې نه بچ شؤم ـ خو یو نفع ورکونکې بزنس زما قسمت کې نشته نو دې کې د شرابو او شرابیانو څه ګناه ـ هغه خو ماته نیکه لار بې پیسو او ښو وله ـ خدا ئ دِ ورسره ښه شي ـ

که سکلې ئې نه شم چي دومره پیسې نه لرم نو د ښه شي صفت خو کول ګناه نه دې ـ ټول جهان بې مطلبه صفتونه کوی ـ لکه غریب دَ خان صفت کوی، چپړاسی د



Pukhto.Net

خپل صیب صفت کوی ۔ وزیرِ اعظم دَ صدر صفت کوی ۔ زهٔ غیرتي پښتون یم ۔ د خلقو صفتونه نه کوُم ۔ شراب خو شراب دي په دنیا د هرصفت نه پس، بس دغه یو شي د صفت حقدار دې ۔ پیسې راځخه نشته، سکلې نشم نو صفت خو کولې شم کنه ۔ بلا شاعران زما غوندې په جیب کې پیسه ټکه نه لری خو خیالی شراب سکی ۔ گوره د دې شاعر جیب تش دې سکلو ته ئې هم زړه کیږي خو خپله غریبي څنکه پټَوي وائي:

دَ سحر څهٔ مزه نشته، دَ ماښام څه مزه نشته

بې لتا په هغه ځائې کې اوس د جام څهٔ مزه نشته

که دزړه خبره درته په رښتیاؤ اوائم نوسکلوته مې ډیرزړه کیږي خو لکه د شاعرانو راځخه دومره پیسې نشته چې یو بوتل پرِ واخلم او چرته سپوږمۍ لاندې کښینم او یو وړوکې وړوکې گوټ ترِ اخلم او په دې جوړ شپه سحر شي او چې ملا بانګ او وائي نو جومات ته مونز د پاره ورشم ۔ او په دې حال کې د مانزه د خوند نه ملان څه خبر دي ۔



Pukhto.Net

نو که زه د شاعرانو پشان خیالی صفت ئې کوم نو څه ګناه خو مي نه دِې کړې ـ ملانو هم شراب حلال کړي دي ـ بس لږ د شرمه وائي چې دلته نه، هلته ـ او هلته شراب طهور شي ـ نو فرق د یو خیالی لکیرې دې ـ او ملان ډیر هوښیار دي د دلته او هلته په هیر پهیر کې ئې ځان ته حلال کړي دي او په مونږ ئي حرام کړي دي ـ که حرام دي نو څه داسې ګرانه خبره هم نه ده ـ یو مُلا مي اشنا دې ـ عالم خو بس زما غونده په دروغه دې ـ او په دې معامله کې د علم څه کار دې ـ څه د دین مسئله خو نه ده ـ د شرابو یوه اسانه غوندې معامله ده ـ هغه هسې هم بې پیسو فتوې نه ورکوی ـ خو د خپلې غریبئ جړا به ورته او کړم چې :

شراب خو شراب دي
که هلته کې حلال دي
نو ملا صیب ورکه فتویٰ
چې دلته هم حلال شی

بس یو شرط دې پکې که د سکلو په وخت ځان



Pukhto.Net

مړ او په جنت کې اوګنړې ـ په خیا لي دنیا باندې فتوې په یو مذهب کې  هم جائز نه دي ـ

په عیسایانو کې یو مذهبي رسم دې  چې څوک د خپل ګناهونو نه توبه غواړي  نو د هغوئ ملا ورله په اوبو کې سر غوپه کړي ـ د یو خوَړ په غاړه خلک داسې توبې ته ولاړ وه او ملا صیب به په وار وار یو یو له په خوَړ کې غوپه ورکوله او بیا به ئې ترې تپوس کولو چې یسوع  دِې بیا موندلو نو د غوپې نه پس به ورله هغې کس جواب ورکولو چې هؤ بیا مې موندلو ـ او ملا به آواز وکړو
" هیلو  لِیا "

دا رسم روان وه چې یو په شرابو موړ شرابي په خپل مود کې تیریدو نو په ملا صیب ورغې ـ ملا صیب ورنه تپوس اوکړو چې د یسوع لټون له راغلې ـ شرابي ورله په چُرت جواب ورکړو  "هاؤ "

نو ملا صیب ورله سر اونیولو او په خوَړ کې ئې



Pukhto.Net

ورله یوه  غوپه ورکړه ـ چې د اوبو نه ئې ورله سر اوچت  کړو نو تپوس ئې ترِ اوکړو، " یسوع دِ بیا موندلو" ـ نو شرابي ورله جواب ورکړو۔

" نَک" ـ

ملا ورله بله غوپه ورکړه او تپوس ئې ترِ اوکړو

" او دې موندلو ؟" ـ

شرابي ورله بیا جواب ورکړو

" نَک"۔

ملا ته غصه ورغله چې دا څنګه خر سړې دې او په دریم ځل ئې ورله ښه سمه اوږده غوپه ورکړه چې ساه ئې په ډوبیدو شو نو سر ئې ورله د اوبو نه راوچت کړو

" بیا دې موندلو که نه ؟"

شرابي ورته اوې " ستا پوخ یقین دې چې یسوع دلته په  دې ځائې کې ډوب شوې دې" ـ

ملا ورته په غصه اوې  "څه خبیثه ورک شه چرته



Pukhto.Net

دَ شرابو دا ډير لوئ كمال دێ چې سړې د دروغو د گناه نه بچ ساتي ـ كه چرې ټول ملان په سكلو راواوړي نو په دنيا به امن راشي ـ د وَچې فتوې به بندې شي او دوئې به ښكلې ښكلې د رشتياؤ خطبې وركوي ـ كه وزيران، ممبران سره د صدر صيب په سكلو شي نو قوم له به په ښه كارونو اخته شي ـ خو يو شرط دێ پكې چې سكي خو د خپلو حلالو پيسو به ئې سكي ـ د حرامو په پيسو خو دَ شرابو خوند هم حرام شي ـ

*******



Pukhto.Net

## د شرابيانو منطق

که څوک شراب اوسکي ـ نو نشه به شي ـ چې نشه شي نو خوب به ورشي ـ چې خوب ورشي نو اُوده به شي ـ اُوده اِنسان خو هيڅ ګناه نشي کولې او چې بې ګناه وی نو جنت ته به ځی ـ راځئ چې ټول هر وختې نشه کې اوسو نو جنت له به ځو ـ



Pukhto.Net

# دَ امن ژوند

څه وخت چې ماته د خپل جنت نه د وتو پیغام راغې نو زړه مې ډیر خپه شو ـ ډیر ستومانه شوم ـ که مې په ژوند کې لږ ډیر د نیکئ کارونه کړې وې ـ یو کس دوه مې د خدائ د پاره وژلې وې او د چا یو کور نیم مې وران کړې وې نو نن به لکه د دې نورو خلقو پشان خوشاله خوشاله په جنت کې اوسیدم ولې څه وخت چې د جنت نه بهر شوم او دوزخ ته را ننوتم نو د خدائ شکر مې اویستو ـ



Pukhto.Net

دَ بونیر په وطن کې پښتون د پاره د هتئ دنده د لوئ شرم خبره وه او د پښتون ولی نه زا ن غورځول وو۔ نو د پښتون شرم او پښتو ساتلو د پاره دا کسب هندو په خپل سر اخستې وه ۔ هر کلي کې به یو دوه کورنئ د هندوانو وې او د پیرو نه وې ۔ ښه په امن او عزت به ئې ژوند تیریدلو ۔ د خپل مذهب او پوجا پا ټ ورته مکمل آزادي وه ۔ او هیڅوک به ورباندې نه بلسیدل ۔ د دوئي خپله د کورنئ ژبه هندکو وه ۔ میاشت نیمه کې به ورله یو پنډ ت راتلو، د مذهب تلقین به ئې ورته کؤلو او د جمع پوجا پارټ به ئې ورسره کولو ۔ خپل تیکس به ئې ترنه وصول کړو او بیا د تیکس د پاره راتلو له به رخصت شو ۔ دا ځل یومشرپنډ ت راغلي وه نو د نزدو کلو لس دولس عقیدت مند ورته را ټول شوي وو او مسئلې ترنه تپوسلې ۔ د یو ځلمي ورسره مکالمه څه په دې رنګ وه :

ځلمي: پندت جی ! جنت ته به کون کون جاسي ؟



Pukhto.Net

پنډ ت : " اسي توسي"

ځلمي : " پنډت جي ! نور به کون کون جاسي "

پنډ ت : " پِيران شِيران "

ځلمي : " نور کون کون "

پنډ ت : " ملان شولان "

ځلمي : " نور کون کون "

پنډ ت :" بس کر دلې دِ يا پتره ـ جنت هويا که غوجل ـ

پنډ ت جي د لوې زړه خاوند وه چې پيران او ملان ئې هم د زان سره جنت ته پريښو دل ـ کنې زمونږ ملان خو خپل سم مسلمان د زان سره تر هغې پورې جنت ته نه پريږدي تر څو ئې ترنه د جنت ټيکس نه وي لاس ته کړې ـ دنيا اوس ډيره ترقي کړې ده او جنت ته تله ډير اسان شوي دي ـ پخوا دا جهازونه، نه وو ـ د پيښور نه کراچۍ ته سفرد پاره ريل ګاډی وه او دا د درې څلور ورځو شپو سفر وه ـ او نن د نيويارک نه جهاز کې کينه او



Pukhto.Net

لس دولس ګینتو کې په کراچۍ کوز شه ـ د دې ترقۍ اثر جنت ته په تلو هم پریوتې دې ـ بس یو شي ترقي نه ده کړې چې جنت له د اجازت ټیکه لا د ملا او پیر په لاس کې ده ـ خو نن صبا اولس هم پکې څه نه څه اختیار په لاس کړې دې ـ چې څوک ئې خوښ وي نو مخکې ئې شهید کړي او د ملانو د اجازت نه بغیر ئې جنت ته واستوي ـ او بیا پرې ملان هم غلي شي چې پریږده ئې اوس تلې دې ـ او داسې هغه مړې جنتي شي ـ څکه خو بهټو او ضیا صیب دواړه په جنت کې په یوه کوټه کې ښه په امن او خندا خوشالۍ اوسیږي ـ که ملا او پنډت دواړهٔ په یو ځائ جنت ته تلې شي او په یو ګاونډ کې اوسیدې شي نو قاتل او مقتول څه لوئ ګناه خو نه دې کړې ـ

زما ځان له دوزخ ډیر خوښ دې ـ چې دائمي ژوند پکې په امن خو تیریږي ـ په جنت کې هر وختې سم غوبل جوړ وي، درزه دروزه وي ـ یو خوا پکې ملان په لاؤډ



Pukhto.Net

سپيکرو باندې په بانګونو اوخطبو لګيا وي نو بل خوا پکې د مندرو د ګينټو کنړنګا وي ـ بنده خوا کې ناست سړي خبره نشي اوريدې ـ مخکې به پکې فرښتې ګرزونو په لاس ګرزيدلې او د امن امان کنټرول به ئې ساتلو ـ اوس هغه چرته د يرې تښتيد لي دي او د جنت ټول کنټرول بدمعاشانو سمبا ل کړې دې ـ وائي چي هغه مشر فرښتې اوې چي مونږ له خدائ ګروزونه راکړي دي او د دې په زور مونږ امن قائيم ساتو نو يو بدمعاش ورپسې غلي غوندې د ځادر نه کلاشنکوف را اويستو او ډزه ډزه د سترګې په رپ کې ئې ورله ټول وجود سورې سورې کړو ـ نورو فرښتو چې دا منظر اوليدو نو ګروزونه ئې په ځائ اوغورځول او په تيزه منډه د جنت نه او وتل ـ د هغې ورځې د جنت ټول کنټرول د غنده ګانو او بدمعاشانو په لاس راغې ـ په جنت کې امن خو څه، هر خوا شر غوبل جوړ دې ـ



Pukhto.Net

امریکنیان او یورپوال د اولس کنټرول نه مني او اولس د جنت د ژوند نه په امان ساتي ـ

د مشرانو نه مو اوریدلي وو چي دوزخ به د سور اور نه ډک وه نو هغه ټول اور جنتیانو دَ ټوپک په زور جنت ته یوړلو چي هلته یو بل سیزلو لـه د اورحاجت ډیر زیات شوې وه ـ اوس په دوزخ، نه اور شته نـه ګرمي ـ ساړه پکی ډیر شوی دی-- واؤرې پکې هم پریوزي ـ ماړه جنتیان د ګرمو چټیاني کې دوزخ ته راځي ـ او بلا جنتیانو پکې خپل بزنسونه شروع کړي دي ـ او زبردست لنډه بازار پکې چلیږي ـ د ګرمو کپړو، بړستنو او کمبلو، او د اور د انګیټو په بزنس کې ډیره ترقي شوې ده ـ

د ویرې خبره دا ده چي جنت دومره ډک شوې دې چي پخواني جنتیان چي د ځۀ نیکئ په صلـه کـې جنت تـه تلي وو په هغوئـې جنـت تنـګ شوې دې او دوزخ تـه هجرت د پاره ئې ویزو لـه درخواستونه ورکړي دي ـ



Pukhto.Net

اوريدلي مو دي چې درخواستونه دومره ډير شوي دي چې فرښتې ورباندې شپه ورځ لګيا وي خو کمې پکې نه راځي ورځ په ورځ زيا تيږي - زۀ دې غم اخستې يم چې اوس خو مې په مزو سر دې - په دوزخ کې مې يوه وړه شان کوټګۍ اخستې ده - د خدائ لوئ فضل دې - هر څه پکې پريوانه دي - په خپله خوښه په څه رنګ غواړم اوسيږم - په خپله خوښه اوده کيږم په خپله خوښه پاسم - که ښکلي لباس ته مې زړه کيږي نو اچوم او که بربنډ ناستې ته مې زړه غواړي نو بې لباسه کينم - نه مې د چا يره شته او نه راته څوک ګوري او نه رابندې بلسي او نه زۀ په پردي کارونو کې ګوتې وهم - د ابدي ژوند د پاره مې دا ځائ په نصيب کې وه نو خدائ راکړې دې - د جنتيانو پشان نا شکره او نا خوشاله نه يم - بس دغه يو غم لکه د نورو دوزخيانو، اخستې يم چې که په دې حسا ب جنتيا ن دلته راروان وي نو هسې نه چې د دې ځائ نه



Pukhto.Net

راته جنت جوړ کړي ـ اوزمونږ د دوزخيانو امن اوسکون برباد کړي ـ چا ته به فرياد کوو ـ هغه ښه وختونه لاړه تير شول چې خدائ ته به مو فرياد اوکړو نو هغه به واؤريد ـ خدائ هم پوهه وه څکه خو ئې زان ته وۀ اسمانه جوړ کړي دي ـ چې يوه ورځ به له دې خپل مخلوق د لاسه تنګ راځي ـ او هغه ورځ راغله او په غصه کې ئې مخلوق ته اوې :

" ځې ورک شئ ـ تاسو پوهه شئ او ستاسو دا زمکه، ستاسو دا جنت، ستاسو دا دوزخ ـ زۀ مو پوزې له راوستم ـ څم چې زان له قلاره بره يو اسمان کې ستاسو نه لرې کينم او تاسو راباندې نه بله سئ ـ که ستاسو خوا کې اوسم نو ليوني به شم ـ

********



Pukhto.Net

# دَ ژوند ځلورم دور

دَ ژوند سفر خو د هغه وخت نه شروع شي چې ماشوم دې دنیا ته د خپل راتلو خبر، په یوه خوږه غوندې چغه ورکړي ـ خو دا ورته معلوم نه وي چې د سفر اغاز اوشو ـ او چې څه وخت زنکدن وربانديې راشي نو هم یا پوهیږي نه، یا ئې یقین نه راځي چې په هغه به، بې تپوسه دا مرحله هم راځي او سفر پوره شو ـ د دغې مرحلې یا تجربې حا ل درته نشم وئیلې ځکه چې د عزرائیل صیب سره مې لا ملاقات نه دې شوې ـ او څه وخت که دا ملاقات اوشو نو هغه به مې لیکلو ته پرې نه ږدي ـ په ما خو څه داسې تادي نشته ولې که په عزرائیل



Pukhto.Net

صيب وي نو خبر نه يم ـ اوس د دنيا آبادي ډيره شوې ده ـ خدائې خو بس د ځان پشان يکي يو عزرائيل پيدا کړې دي ـ دَ دې راز نه به خداې پخپله خبر وي چې دوه درې ئې ولې نه دي پيدا کړي ـ زهٔ څه لږه ډيره اندازه لږولې شم خو چاته ئې د ملانو د ويرې ذکر نه کوم ـ چې دا د هغوئ حقوق دي او دَ خدائې د ټولو ارادو خبر ساتل، پکې رد و بدل کول او د هغه راز، راز ساتل، يا افشا کول، زما غوندې سړې چې د مدرسې مخ ئې نه وي ليدلې، په هيڅ جوړ دا حق نه لري چې د دې راز نه خبر شم چې يو واحد عزرائيل ئې ولې پيدا کړې دې ـ او بيا زما څه حيثيت دې چې د دې راز افشا کؤلو دعوا اوکړم ـ او که دا جرأت مې اوکړو نو د کفر دا فتوې دَ چا د پاره دي ـ ملان زبردست خلک دې ـ زهٔ ترنه ويريږم ـ

د دنيا په ټولو انتظامي امور کې يو مشر وي، دوه يا درې نه وي ـ لکه د يو رياست مشر يو وي ـ که هغه دا



Pukhto.Net

مشري په وراثت کې موندې وي نو بادشاه دې ـ که په زور ئې اخستې وي نو ډکټيټر دې ـ که په چالاکۍ د اولس په ووټونو په مشرۍ قابض شوې وي نو صدر دې ـ دَ بنديانو په دې دنيا اصلی باچائي خو د اِبليس ده او دَ اِبليس باچائي کې هر څه جائز دي ـ وائي چه مخکې وختونو کې به بادشاه د خداې د ډډې مقرر کيدلو خو هغې کې خرابي دا راغله چې هغه بادشاهان پخپله د خدائېې دعويدار شو خو د خداې ځان سره بل دعويدار خوښ نه شو ـ بيا ئې پيغمبري جاري کړه ـ پيغمبران ډير ښه او نيک بنديان وو خو اولس ورته غوږ نه ايښود ـ ډير ئې پکې سولئ ته وخيژول يا ئې ورله ژوند په عذاب کې اچولې وه ـ نو خداې پيغمبري هم بند کړه دغه نظام ئې ختم کړو ـ او خلک ئې خپلې خوښې ته پريښود چې څه ئې په زړه راځي، کوی دې ـ نو اِبليس خو دې ورځې ته په طمع ناست وه خپلو مريدانو ته ئې اختيار ورکړو



Pukhto.Net

چې څوک په خپل زور، یا هوښیارتیا یا په دهوکه او چالاکۍ اولس قابو کولې شي هغه دِ ځان مشر کړي او کوم نوم ئې ځان له خوښ وي په ځان دې ئې کیږدي ـ

په یوه تیره زمانه کې به د ریاست مشر خلیفه بللې شو ـ خو خلیفه به د مُلانو په خوښه د ریاست مشر کیدې شو ـ بیا په ورو ورو مُلان په ډیرو مذهبونو، فرقو، جوماتونو او خدایِ خبر په څه څه کې تقسیم شول نو نه خلیفه پاتې شو، نه خلافت ـ بس بې حسابه مطلبي مُلان د خلافت په ارمان پاتې شول ـ اوس شپه ورځ د فتؤو د تشو کارتو سو په ډزو ځان سترې کوي د چا په غوږو نه پریوځي

د عزرائیل صیب دا محکمه ډیره لویه محکمه ده ـ محکمه څه ده ځان له یوه لویه باچائي ده ـ هر قسم مخلوق پکې بې حسابه ملازم دې ـ د انسان نظر ډیر محدود دې ـ د عزرائیل ټوله باچائي په سترګو نشي لیدې



Pukhto.Net

نو ګنړي چې دا ټول مرګونه عزرائيل يوازې په خپل لاس کوي ـ لکه چې افواه مشهور ده چې زرداري صيب او اولس مشر کرزئې صيب د اولس نه پيسه راټولوي او په خپل بنکونو کې ئې جمع کوي ـ د اولس نه پيسه را ټولول او بيا بنکونو کې جمع کول، داسې اسان کار خو نه دې چې زرداري صيب يا کرزئې صيب، شپه ورځ په دې مشقت لګيا دي ـ هغه ځان له قلاره د باچائي په تخت ناست دي ـ د اولس په ناچارئ او بد حال ئې دَ غم اوښکې بهيږي او هر سړې او ښځه خپل ځان په دغې تخت د ليدو په ارمان د لوډ شډنګ په تيَّرو کې ژوندی ناست دی ـ هغوئې د اولس دولت، دَ اولس د پاره، په خپل بنکونو کې په حفاظت جمع کوي ـ بلا وزيران، ممبران، سرکاري افسران، لوې واړه سرکاري ملازمان، او د پارټۍ کارکنان ئې په دې کار لګولي دي ـ خلک دومره جاهل دي چې د هغو نامه ئې هسې بدنامه کړې ده چې دا



Pukhto.Net

تول د مشقت په کار هغه پخپله لګیا دي ـ هم په دې رنګ عزرائیل هسې وچ په وچه بدنام دې چې د هر چا ساه د ده په قابو کې دې ـ لکه چې خدائې د پیدائیش محکمه ځان ښځه پریښې ده او د مرګ دا بد نامه او نا خوښې محکمې دا باچائي ئې عزرائیل ته بخښلي ده ـ عزرائیل خو باچا دې ـ د خپلې باچائې په تخت ناست دې ـ د خلکو مرې خپه کولو پسې خو مندې نه وهي ـ دا لوئې لوئې بادشاهې ، لکه چې مخکې روس وه، د هغه نه ونشوه نو چارج ئې امریکې ته او د هغه تولګې نیتو ته او بخښلو ـ په پښتون اولس باندې ئې د پاکستان او افغان فوځیان، سره د وزګار بدمعاشانو، په دې دنده اخته کړی دی ـ پښتون قام هم په خپل مرګ ښه خوشاله دي ـ چې څوک مړ شي نو وائې شهید شو ـ نیغ ئې جنت ته او لیږي او بل خوا ورله د شپې په تیاره کې د نورو غازیانو د پیدائیش انتظا م برابر کړي ـ



Pukhto.Net

روسیانو وربانديِ څه لس کاله خپل وس اوکړو ـ اصلحه او رُوبل ئې خلاص شول، خو د افغانستان په آبادئ کې هيڅ کمې رانغې ـ روسيا ن لاړل نو عزرائيل، مجاهيدينو ته حکم ورکړو ـ چې په آبادي کې کمې کول اوس ستاسو ذمه ده ـ خدائې هم دې بربنډ لغړو ته په رزق ورکولو سترې شوې دې ـ خو مجاهد په خپلو کې لګيا شو ـ نو دوئې ئې هم د ملازمت نه برخاست کړل او دا فرض ئې بدمعاشانو ته وسپارلو ـ د دوئې تجربه هم د عزرائيل په عدالت کې نا منظورشوه ـ او د افغانستان او پښتنو آبادی کمولو ټيکه امريکې او د هغه نيټو والو ته ورکړې شوه ـ دوئې وربانديِ د تيرو لسو کالو، د بدمعاشانو په مرسته لګيا دي چې آبادی ئې لږه کمه شي ـ ولې د خداې د پيدائيش محکمه، د عزرائيل د با چائې نه زياته تکړه ده ـ د عزرائيل عليه السلام مشيران د زړې زمانې ښکاري ـ کنې ورله به ئې صلاح ورکړې وه چې خدائې ته عرض



Pukhto.Net

اوکړي چې د پيدائيش دا محکمه دِې پريږدي او چا کمزوري غوندې فرښتې له دِ ورکړي ـ نو د افغانستان او پاکستان آبادي به په يو څو ورځو شپو کې ځائې له راشي ـ او د پخواني زمانې پشان به د عزرائيل په باچائې کار سپک شي ـ چې څوک به د ژوند په څلورم دور کې داخل شو يعنې بوډا به شو نو کټ به ئې اونيولو ـ څه موده به ټوخيدو او هائې هائې به ئې کول نو که د عزرائيل چُوړې به په کوڅه تيريدو نو دَ يرې به د دې سړي ساه ختلې وه ـ

دلته زما په وطن، کينيډا کې، د اويا اتياؤ کالو عمر والو ته څوک بوډا نه شي وَئيلې، سينئر ورته وائې ـ دا سينئيرز، دومره زړه ور دي چې د اوياؤ اتياؤکالو عمر ته اورسي خو ځان ورته ځلمې ښکاري ـ په غټ غټ پنشنونو اوسي، غاښونه ئې روغ رموټ وي ـ مَلا ئې ټيټه نه وي ـ جامې ئې خيرنې نه وي ـ غټ غټ گاډي



Pukhto.Net

ورسره وي ـ واړه ګاډي ځلمي ساتي چې پټرول ګران شوی دې ـ په ژمي کې فلوریډا ته، ایروزونا ته، هوائي ته او کیوبا ته، جهازونه د دې مشرانو نه ډک وي ـ دځامنو لونړو سره اوسیدل نه خوښوي چې په اولاد باندې ځان نه بوج کوي ـ او نه د هغو د بچو په بې بي سِټِنګ خپل ازاد ژوند خرابوي ـ لکه د مرغو ازاد ژوند غواړي ـ څه وخت او چرته ئې زړه کیږي په سیل روان شي ـ چرته جِم ته لاړ شه اوګوره نو دا مشران ځلمي به په ورزش لګیا او وینې ـ هغه ورځ په جِم کې د یو سره په ګپ شوُم نو راله ئې دعوت راکړو چې صبا زما د پیدائیش ورځ ده ـ ډیره د درزې دروزې پارټي به وي ـ او یو څو ښائیسته پیغلو له مې هم دعوت ورکړې دې ـ خا مخا به راځې ـ زاړه شراب مې راټول کړي دي، سکو به او ګډیږو به ـ ډیر خوند به اوکړي ـ دا ځل زما د ژوند ډیره سپیشل ورځ ده " ـ ما ترنه تپوس اوکړو چې د



Pukhto.Net

پیدائیش ورځ سپیشل وي خو دا ځل پکې څه سپیشل دي ـ هغه ماته او وئیل چې ګیس Guess کړه زما به څو عمر وي ؟ ما هغه ته کته بره اوکتل ـ ځان ته مې اوکتل ـ ما وې لا ځلمې دې ـ زما نه مشر خو نه ښکاري ـ ورله مې جواب ورکړو ـ

" اویا کاله ! " ـ

هغه په تق تق او خند ل ـ بیا ئې خوله زما غوږ ته نزدې کړه او په رو غوندې ئې او وئیل ـ " سبا به زهٔ د سلو کالو شم " ـ

زهٔ هم د یو پنځه کالو نه د سینیرز کلب ممبر یم ـ

په دې ټولو مزو مې سر دې ـ کله کله راته زړه وائي چې هسې دې عمر برباد کړو ـ پنځه کاله ولې، پنځوس کاله مخکې ولې سینئیر شوې نه وم ـ دومره په انتظار ولې ناست وُم ـ ځان نه مې د رهټ غوئې جوړ کړې وه ـ ورځ او شپه به په کارونو اخته وم ـ ډیره ټُوره



Pukhto.Net

مې وهله چې پیسې مې گټلې -

زۀ چې د پنځه شپږو کالو هلکې ؤم نو د کلي مشرانو نه مې اوریدل چې د افغانستان خلک تر لوئې عمر پورې ژوندي او ښه صحتونه لري - پنجابیان او هندیان ورته مړی ښکاری - نو سوچ کؤم چې اوس وربانديې څه چل اوشو - ولې ورته عزرائیل خپل هیډ کواټر دغلته قائم کړیدې ؟

*****



Pukhto.Net

## مفروران

د یونائټډ نیشن په حساب 455000 ژوندې بندیان، دَ سل کالو یا زیات عمر په دنیا موجود دي ـ او د عزرائیل نه مفروران دی ـ د حیرانتیا خبره ده چې دا دومره ژوندی خلق د عزرائیل نه څنګه پټ شوی دی ـ په دنیا بلا نور هم دی خو څوک ترنه لا خبر نه دی او عزرائیل ورته د افغانستان، پاکستان نه وزګار نه دې۔



Pukhto.Net

# اِبلیس، نسوار او پښتون

کیسه داسې وائي چې خالق په پښتون با با ډیر مئین وه، ډیر ئې زړه ته نزدې او خوښ وه ځکه چې دې د هغه په ټول مخلوق کې یو بې مثال شاهکار وه او جنت کې ورته هر ځائې د ګرځیدو ، اوسیدو اجازت وه ـ د خوراک سخاک د پاره چې کومه میوه به ئې خوښه وه، خوَړې شوه، د کوم نهر پېئ ئې زړه غوښتلو، سکلې شو ـ بس د یوې خبرې قدغن وه وربانديې چې د نهر په بله غاړه د تمباکو بوټې له به لاس نه وروړې ـ نو ده به ډیر احتیاط



Pukhto.Net

کولو او  په دغه ډډه به ئي هڅو نه کتل ـ

ابلیس ورسره اشنائي جوړه کړې وه  ګپ شپ له به ورسره کیناستلو ـ یوه ورځ د  پَیئو د  نهر په غاړه دواړه ناست وُه ګپ ئي لګولونو اِبلیس د تمبا کو بوټي  پله اشاره اوکړه ـــ

" په جنت کي دغه ډېر د کمال بوټي دي" ـ

پښتون با با ورله جواب ورکړو ـ " په ما خو دغي بوټي له ګوتي وروړه هم منع دی" ـ

"ما ته پته وه ـ د جنت هر ښه شي په تا منع دي" ابلیس ورته  ووئیل

"ماته خو اجازت دي چي دلته زما څه ته زړه کیږي خوَړې سکلي شم"  با با ورته اووې

"چي اجازت دې درته نو ولي وائي چي دغي بوټي له ګوتي نه شي وروړې ؟" ـ   ابلِیس وربانديِ طنز وکړو

"خبر نه یم ـ ته مي پو هه کړه چي پکي څه کمال دي؟"



Pukhto.Net

" ته ورله ګوتې مه وروړه کنه ـ یاران د څه د پاره وی ؟

ـ زه به ترنه پانړې اوشوکوم، دارو به درله ترې جوړ کړم او تیّار به ئې تا له درکړم" ابلیس ورته اوې ـ

ګوتې وروړومطلب چې په ما ئې خوراک حرام دې -

با با ورته اووې ـ

د خوَړلو درته څوک وائي؟ ـ ما درته نه دی وئیلي اِبلیس ورله جواب ورکړو-

"چې خورم ئې نا، نو اچار به ترنه اچَوَم ؟"

" پښتون ئې کنه ـ ډیر ساده ئې ـ بس یو چونډئ ترې په شونډه کې کیږده چې یخ یخ باد دې پرپوس ته ورسي نو په کمال به ئې پخپله پوهه شې" ابلِیس ورته وضاحت اوکړو

اِبلیس ورله دارو جوړ کړل او یو ډک ډبلې ئې ورته ورکړو او ورته ئې اووې چې خلاص شي نو بل به درته ډک کړم ـ اوس مزې کوه ـ

یو ورځ خالق په سیل راوتې وه چې د پښتون د ډیرې په خوا تیریدو نو په ښکلې شین کبل ئې تورې تورې پچې ولیدې نو فرښتې نه ئې تپوس وکړو چې چرته مارغان په دې ډ ډ ه راغلی وو چې دَ پښتون ډیرې مخې ته ئې خپل گند پریښې دې

فرښتې عرض وکړو " نه جي ـ دا دې پښتون ټُوکلی دي"

" ولې بیمار دې ـ گیډه ئې خرابه ده چې دا گند ټُوکي؟"

فرښتې بیا عرض وکړو "نه جي روغ رموټ دې ـ ابلیس ورله د تماکو نه نسوار جوړ کړی دی ـ او په نسوارو ئې اچولې دې"

" ښه نو ابلیس خپل کار دلته د پښتون نه شروع کړې دې ـ اول دا کار اوکړئ چې دا اِبلِیس فوراً د جنت نه وشړئ چې بیا په دې مخه رانشي ـ او دا پښتون راته په دې ساعت حاضر کړئ"

د سترگې رب کې پښتون با با حاضر وه ـ خالق ورنه



Pukhto.Net

تپوس اوکړو " دَ تماکو د بوټي نه مې منع کړې وې نو نا فرماني دې ولې وکړه ؟"

" نه جي، زه خو د تماکو بوټي خوا له هم نه يم تلې"

" نو دا شونډه دَ په څه پړسيدلې ده ؟"

" دا خو راله اِبليس دارو راکړی دی ـ ډير مزه ناک دي"

"غرق شې ـ دَ اِبليس په لمسه کې راغلې کنه ـ په ټُوکلو دې ټول جنت پليت کړې دې"

" نور ئې چرته ټُو کړم ؟"

" زمکې ته دې ليږم ـ هلته ئې ټُوکه ـ او کله چې دې ترنه ځان خلاص کړو نو جنت ته واپس راتلې شې"

بابا په ځان هډو پوهه نه شو چې فرښتو دَ پامير غر په اوچته څوکه کوز کړو ـ ډيرې چغې ئې ووهلې او زوګ ئې جوړ کړو خو دَ غره په څوکه دَ واؤرو نه سيوا هيڅوک نه وه چې دَ ده فرياد ئې اؤريدلې وې ـ غلې شو او غمجن په سپينو واؤرو کيناست ـ چې په دې کې ورله اِبليس



Pukhto.Net

راغې او تپوس ئې ترِ وکړو ـ "پښتون با با ! خیر خو دې ـ ډیر غمجن ناست ئې؟ "

با با ورله په ډیر خراب مُوډ کې جواب ورکړو

"غمجن به نه یم ـ نو پاسم او په دې واؤرو درته په ګډا شم ؟ دَ جنت نه دې راویستم او تپوس رانه کوې چې غمجن ناست یم

اِبلیس ورله ډیر په قلاره جواب ورکړو " مړه ولې خپه کیږې هلته خو دِ نسوار نه شو توکلې ـ دلته چې دې څومره زړه غواړی، ټُوکه ـ څوک به درنه تپوس نشی کولې او غم ولې کوې دَ تماکو بلا تخم مې درله راوړې دې" ـ

" دلته دَ جنت هغه نورې مزې خو نشته کنه ـ زه دَ نسوارو او ټُوکلو نه ځان خلاصوَم چې جنت ته زر واپس شم" ـ

اِبلیس ورته ډیره په مینه اووې " بس په دومره وړه خبره دې زړه خپه شو ـ بل دارو به درته تیار کړم ـ څه موده چې ئې استعمال کړې نو دَ نسوارو دَ عادت نه به خلاص شې او جنت ته به تلې شې ـ فې الحال دَ غر د څوکې نه ښکته راکوز شه ـ د استوګړې دَ پاره درته



Pukhto.Net

چرته غار پیدا کړو ـ دلته به د سړځۍ نه مړ شی" ـ

با با د یو ورځ په مزل ښکته راغې ـ د پامیر د غرونو دا سلسلې څه وَړې خو نه دی چې په یو ورځ کې به ترنه سمې ته راکوز شي ـ داسې ځائې له را او رسید چې لږ.ه ډاګه وه ـ دَ اوبو چینه پکې وه ـ او یو خوا ته پکې غار هم وه ـ با با چې غار ته ننوت نو هغې کې د یَګ درې بچې ناست وو ـ دې په سوچ پریوت نو د شا نه ورته اِبلیس اووې ـ " ولې په سوچ کې پریوتې ـ غټ ډانګ دې په لاس کې دې ـ دَ یو سَر له ئې راپریږده نو ټول به دَ غار نه اوتښتي"

ده دَ ابلیس په خبره عمل اوکړو نو درې واړه یګان بچې د غار نه اوتښتیدل خو لږ ساعت تیر نه وه چې د بچو مور یګه د درې واړو بچو سره غار پله راروانه وه ـ با با ویّرید خو اِبلیس ورته اووې " یریږه مه ـ دا خوا کې پروت ګټ اوچت کړه چې یګه درته نزدې شي نو په خپل



Pukhto.Net

ټول زور ئې ورله تندی له راپرېږده

با با یو ځل بیا د اِبلیس په خبره عمل اوکړو ـ ګټ چې د یګې په تندی ولږید نو په هغې ملک وګرزید او یو خوا ته په منډه شوه ـ بچو ورپسې منډه کړه او لاړه په ځنګل کې غیب شول ـ

اِبلیس ورته اووې " په زمکه د ژوند دغه طریقه ده ـ په زور به ځان له ځائې د بل نه اخلې په چا به خوا نه اړوې کنې ټول عمربه پرَدئ حجره کې پروت ئې‘‘ ـ

با با وَچ خشاک او لرګی راټول کړل او غار کې ئې ځان ته اور بل کړو او تودیدو ته ورته کیناست ـ چې لږ ګرم شو نو نسوار ئې واچول او بیا ئې ابلیس ته اووې چې هغه بل دارو راله زر راکړه چې نسوار پرېږدم ـ اِبلیس لاس اوچت کړو او ډک چلم ئې د با با مخې ته کېښود ـ او ورته ئې د سکلو چل وښولو۔ بابا د چلم په نچه خُوله کېښوده او کش ئې راښکلو نو ټوخې وربانده راغې او تر



Pukhto.Net

ډیر ساعته ټوخیدو ـ چې دَ ټوخی نه لږ سم شو نو ابلیس ته ئې اووې :

" دا څنګه دارو دی ـ زه ئې په ټوخی اوژلم" ـ

اِبلیس ورته اووې " یو څو ورځې به ټوخیږې چې پړپوس دې ورسره سمون اُوخري نو سم به شي"

با با د نسوارو نه خو وا نه وړید ـ په چلم سکلو هم اخته شو ـ میاشت دوه پس چې اِبلیس ورله ملاقات ته راغې نو با با ورته ګِله وکړه چې د نسوارو طلب مې د چلم په دارو خلاص نه شو. اِبلیس ورته ووئیل "خیر دې ـ غم مه کوه ـ نور داروګان بلا دی ـ هغه مخا مخ د غره په سورې شنه بوټی وینې ـ دغې ته بنګ وائي ـ لاړ شه شنې پانړې ئې راما تې کړه او په لاسو ئې جوخت جوخت ومږه ـ بیا د لاسو خیرې را یوځائې کړه او په غرمو ئې وچ کړه ـ چې وَچ شي نو چرس به شي ـ یو پوټې ترنه د چلم په تماکو کې ګډ کړه او چلم سکلو باندې بښه زړه ډک



Pukhto.Net

کړه چې ډیرې ورځو پورې ئې وسکې نو خپل اثر به دربانديې شروع کړي ـ هسې ته ډیر سخت سړې ئې ـ دارو دربانديې زر اثر نه کوي ؛ ـ

یو میاشت پس اِبلیس ملاقات له راغې نو با با ورته اووې ؛ دا چرس خو ډیر د مزې شې دې چې جنت مې رایاد شی نو چلم کې ئې واچوم او یو څو کشه اولګوم نو د څه ساعت د پاره رانه ټول غمونه هیر شي خو چې لږ په ځان شم نو دَ نسوارو طلب مې زیات شي ـ اِبلیس وروره څه چل اوکړه ـ دَ دې تور غار نه مې زړه ډک شوې دې ـ جنت مې ډیر زیات یادیږی ـ واپس خپل کور ته مې زړه کیږي ؛ ـ با با جړه غونې وه ـ

اِبلیس ورله حوصله ورکړه ؛ مړه ولې غم کوې ـ کور ته به زر لاړ شې ـ اوس به درته ډیر زبردست دارو وښائیم ـ دا ازمیئلی دارو دي ـ

؛ په چا دې ازمیئلی دي ؟ ؛ ـ با با تپوس اوکړو



Pukhto.Net

؛ د چین په ټول قا م مي ازمیئلی دی ؛ ـ

؛ ښه ! نو هغوئي نسوار پریښودل ؟ ؛ با با ترنه ډیر په شوق تپوس وکړو ـ

؛ هغوئي ورپسي غټي غټي با د شا هئ پریښودې ـ نسوار لا څه ته وائي ؛ ـ اِبلیس ورله جواب ورکړو ـ

؛ هَله زر کړه اِبلیس وروره اوښائیه ـ تر وسه دِ رانه ولې پټ کړی وو ـ څه نوم ئي دې؟ ؛

؛ افیم ورته وائي ـ خو نوم ئي څه کوې ـ دَ خوراک سره دي غرض دې که دَ نوم سره ـ جوړول ئي لږه خواری غواړی ؛ ـ

با با ورته اووې ؛ زه دلته څه غوا میښي څروَم ـ وزګار ناست یم ـ زر شه چل راته وښا ئیه چې ئي جوړ کړم

اِبلیس دَ ډاګي بل سر ته اِشاره وکړه ـ ؛ دغه ښکلی ښکلی ګلونه وینې په دغه بوټی پورې یوه غوٌنډ ه میوه ده ـ نوکونه دِ ځنګ دي ـ اوښا ئیه ؛ ـ با با ورته خپل



Pukhto.Net

نوکونه مخې ته کړه ـ ابلیس ورته وکتل او بیا ئې اووئیل ؛ ښه دی نوکونه دې تیره دی ـ مازیګر به دغه بوټو له لاړ شې او هغې میوې له به په خپل نوک دوه درې څیره ورکړې او پرې به ئې ږدې ـ صبا سحر له به ورپسې لاړ شې نو په هغې به تور او سره کنډ راغلی وي ـ هغه ترنه راټول کړه ـ وړې وړې ګولۍ ترنه جوړې کړه او یو وخت کې یوه ګولۍ ډیره ده جنت ته به دې رسوي ـ که دې زیات وخوړل نو د جنت نه به تیرشې او دوزخ له به ورسې او له دوزخه څوک واپس نه دې راغلی ؛

؛ چې یوه ګولۍ جنت ته رسولې شي نو دوه به ولې خورم ـ څه کم عقل درته ښکارم ؟ ؛ با با ورته اووې

بابا دوه ځله د افیمو ګولۍ اوپکلې ـ او په نشه کې مست پروت وه چې ابلیس ورله را ورسید ـ او پوښتنه ترنه وکړه ؛ وایه کنه با با په څه حال کې ئې؟ ؛

؛ څوک ئې ؟ اِبلیس ورور ئې ـ پخیره راغلې ـ دومره



Pukhto.Net

موده چرته وې ؟ ؛ با با د نشې په حال کې پوښتنه وکړه ؛ پرون خو درنه تلې وم ـ ښکاری ګولئ دِ وهلې ده ! ؛ ابلیس ورته اووئیل ـ

؛ یوه نا، دوه مې وهلې دی ؛ با با ورله جواب ورکړو

؛ بیا خو به جنت ته رسیدلې ئې؟؛

؛ په یوه رسیدلې وم ـ نو هلته چې د بنګو او کاشکاشو بوټو له لاړم نو سمدستی راپسې فرښتې راغلې او د جنت نه ئې راوشړلم ـ ما ورته اووې خپل کار دې کوی ستاسو دا جنت ـ نه مې دې پکار ؛

؛ سوچه پښتون ئې کنه ـ ښه دې وکړه ؛ اِبلیس ورله حوصله ورکړه

؛ چې واپس شوم نو مُوډ مې خراب شوې وه نو بله ګولئ مې ښکته کړه نو لږ سم شوم ـ د جنت نه مې زړه تور شوې دې دلته ښه یم ـ د هر څه ازادی ده ؛ با با ورته ټوله کیسه وکړه ـ



Pukhto.Net

اِبلیس ورته اووې ؛ ښه شوه چې عقل دې راغې؛

او بیا ئې ورته اووې ؛ تا ته مې د ژوند ټولې لارې برابر کړې ـ ته اوس په خپل ښه بدو پوهه شوې ئې ـ په دې زمکه ښه ژوند تیرولې شې ـ زه یو څو ورځو له په یو بل مشن روان یم ـ دا دې زړه له را نه شي چې ما ستا ملګیرتیا پریښوده ـ دَ یارانو یار یم ـ تر مرګه به ستا سره ملګیرتیا وي ـ غم فکر به نه کوې ـ تر قیامته به ستا دَ اولاد او راتلونکي نسلونو سره ملګیرتیا ساتم ـ او دَ ژوند لارې به ورته ښائیم

با با د نشې پټې سترګې لړې وغړولې ؛ یره که ته راسره نه وې نو زه خو به د دنیا په تیرو کې ورک شوې وم ـ ځې خو دیر مه ایساریږه ـ ستا په طمع به ناست یم ـ په مخه دې ښه ! ؛

### دټول ګناهونه د ابلیس په سر

مونږ له الله پاک دا حق کله راکړې دې چې خپلې خطا او ګناهونه دابلیس په سر ورچوؤ او زان ترنه خلاصوؤ هر بنده د پاره د خدائې یو اصول دې ـ که ښه کوې د هغې جزا ستا، که بد کوې نو ګناه او سزا ستا په سر ـ ابلیس نه تا ګناه ته لمسولې شي او نه تا د ګناه نه خلاصولې شی ـ هر بنده به خپل پند په خپل سر وړي ـ



Pukhto.Net

# ډيورنډ لائن او د چين ديوال

پيرنګي ډير اوښيار دې ځان ئې په ارځانه کې خلاص کړو ـ بس يوه خيالي کرښه ئې راښکله او عبدا لرحمٰن باچا ته ئې اوې َ نيم پښتانه ستا ، نيم زما ـ که ټول تاله درکړم نو زما فوځ به خوشې شې ـ په هند کې دا بې حسابه قامونه به راله څوک په قابو کې ساتي ـ او که ټول ستا شي نو صبا به ته نه ئې، دوئې کې به راته ابداليان او درانيان پيدا شي ـ دوئې کې دومره عقل خو شته نه چې ځان له باچائي جوړه کړي ـ د غزني والو او غوري والو د باچائی د پاره به زمونږ بادشائي ورانوي ـ او ستا د تخت نه به په لږو ورځوکې تخته جوړه کړي ـ



Pukhto.Net

نو ښه دا ده چې ویش ئې کړو ـ نیم ستا نیم زما ـ که مونږ ته ئې په زړه کې خیرې راغي نو په خپلو کې ئې جنګول ډیر اسان دي ـ مونږ به دوئې قابوساتو او دوئې به راله دا نور قامونه په قابو ساتي او د دې سودا په بدل کې به مونږ په تا نه بلسو ـ ته اخوا ځان له مزې کوه او مونږ به دې خوا په قلاره ناست یو ـ سودا بده نه وه ـ باچان بدل شول او تر قیامته به بدلیږي خو تر اوسه ئې دواړو ډډو ته فائیده رسې ـ د افغانستان د ډډې پښتانه دریوال شول او د پاکستان د ډډې دا نه پنجا بیان' نه سندیان او نه مهاجران شول خو د پښتو نه اوتل ـ او خپله ژبه هم اوس د انګریز په ژبه کې لیکي او وائي دا پښتو ده ـ ځه بیا هم بده نه ده چې د پنجابئ په ګورمکهي، یا د سنسکرت په خط خو ئې نه لیکي ـ دومره هم ډیره ده چې خپله پښتون ولي د انګریز په رومن کې ساتي ـ

خبره خو د چین د دیوال وه ـ خدایۍ خبر دې چې چینیان د



Pukhto.Net

چا نه یریدل چې دا دومره اوږد او د غرونو په سر ئې دیوال جوړه وه ـ باید چې د پښتون نه یریدو ـ پښتون خدایځ خبر چې د کومې را پیدا شو او راته راته نو په قندهار کې ئې پړاؤ واچوۀ ـ بیا هم قلار نه شو او په بره را روان شو ـ کابل ، پیښور، مردان ، صوابی، بونیر، سوات، دیر، باجوړ، تردې چې د کوهستان غرونو ته اوخوت ـ نو د چین بادشاه به خبر شوې وې چې یاجوج ماجوج را روان دې، د هندو کش او پامیر غرونو ته را اوختل، دې غرونو خو هندوان خوړیلي دې ځکه ئې ورله نوم هندو کش کیښودې دې ولې پښتانه خو هندوان نه دې ـ دوئې خو یاجوج ماجوج دي ـ او د چین بادشا ته به د هغه جوتشیانو د خپل جوتش په زور وئیلي وي چې پښتنو ته به ځان تینګ نه کړې شې - د غره په سر ورته غټ او مضبوط دیوال جوړکه ـ که دوئې پرې پیاده نه شي راؤخوتیدې نو په ښنځورو به ئې کني او بیا هم وه



Pukhto.Net

نشوه نو په ځنګلو به پټې سورې جوړوي نو چې دیوال داسې درونډ او پلن وي چې څو سورې بل سر ته رسي نو دیوال به پرې ښکته کیني ، سورې به بیا بندیږي اوکه یونیم لیوني پټې په ځنګلو لګیا وي نو د هغوئ به قبر کیږي او ستا بادشاهي به د پښتون یاجوج ماجوج نه په امان وي ـ بادشاه مطلب ته اورسیدو او خپل ټول قام ئې په دې بیګار باندې اخته کړو اوپخپله ئې په شنو چائیو سکلو ځان د پښتون د حملې نه بې غمه کړو ـ

د چین بادشاه د پیرنګي په شان چالاکه نه وه کنې پښتنو خانانو ته به ئې وظیفې مقرر کړې وې او په قلاره به ئې بادشاهي کوله ـ پیرنګي ته معلومه وه چې دا وَږږې قام دې په وچو زمکو ئې ګزران دې ـ څوک چې د کرښې نه د پیرنګي ډډې ته په ویش کې راغلل نو ملکان او خانان ئې پټې جوړ کړل او وظیفې ئې ورله هم مقرر کړې ـ نو پیرنګي ځان له په امن کینا ست او خانان ملکان



Pukhto.Net

ځان له په مزو شو ـ کله کله به پکې د ايپي غوندې ليونـي پيدا شول نو د خانانو پروموشن به اوشو، وظيفو کې به هم زياتې راغي ـ

کاش چې پيرنګې د چين د بادشاه پشان عقل لرلې او يوه کرښه راښکلو په ځائي ئې ديوال جوړ کړې وې ـ نو ډيرې زياتې فا ئيدې به وې پکې ـ يو خو به ديوال د چين د ديوال نه ښه او مضبوط جوړ وه ځکه چې پيرنګې کار ډير پوخ کوي ـ د ځان د پاره ډير ايماندار دې ـ او بې کلمې ډير پوخ مسلمان دې ـ نو د دې ديوال په سبب به د پيرنګې بادشاه نوم په دنيا خور وه ـ دويمه فا ئيده به ئې دا وه چې غريبانو به په کې مزدوري موندې وه ـ او د مزدورئ د پاره به بمبې ته منډې نه خلاص شوې وه ـ او د فوځ د نوکرئ حاجت به ورته هم نه وه پاتې ـ د نن دا نسل به د ټوپک او د مرګونو ليوال نه وه ـ ولې پيرنګې د ومره اوښيار وه چې هغه د مستقبل نه هم ځان بې خبره



Pukhto.Net

نه ساتلو ـ پښتون له ئې داسې مستقبل چرته جوړولو ـ دريمه فا ئيده به ئې دا وه چې پښتون به د هميش د پاره دوه ټوټې شوې وه ـ او نن به پښتنو د پښتونستان جوړولو خبرې نشوې کولې ـ د وچې دا غوئيمه به نه وه ـ د آخوا پښتنو به ځان ته پښتانه وئيلو په ځائ افغا نيا ن وئيل او په ډير خوند خوند به په دري کې د يو بل سره غږيدل، او د پښتو د جنجال نه به بچ وو ـ او د پختونخوا دې پښتون به ځان ته پښتون په ځائې پټان وئيل، دوه قامي نومونوپه جنجا ل کې به نه وه پروت ـ غريب خو اوس هم د ويرې ځان ته پښتون نه وائي ولې نور اولس ورته پټان وائي او څوک چې د پختونخوا نه بهر بل ځائ ميشته دي که د پاکستان جوړيدو نه ډير مخکي ديره وو ، خپل کورورنه او جائيدادو نه ئې وو او اوس ئې پنځم شپږم نسل دې خو بې وطنه مسافر ورته وئيل شي ـ د هند نه چې مهاجر بې وطنه او بې کوره شوي وو د



Pukhto.Net

خدائي قدرت ته ګوره هغه ځان مالکان ګنړي او پښتون ورته بې وطنه ښکاري ـ

د کله چې د بدمعاشانو دا غويمه جوړه شوې ده نو د لائن دواړو ډډو ته د پښتون بل نوم دهشت ګرد دې ـ ډير کم پښتانه به د مولا توب پيشې ته تله ـ دغه د ملانو پيشه وه ـ د پښتنو ځامن بچو به پښتو ساتله او په وچو ميرو به ئې خواري کوله ـ اوس که پاکستان دې که امريکه ده، پښتون نه ئې وچ په وچه طالب جوړ کړې دې او بې تپوسه ئې لکه د ماشو ميړو وژنی ـ د رنجيت سنګ په پوليسو پورې توقې جوړې دي وائې چې د قيد نه يو قيدې مفرور شو ـ نو د رنجيت سينګ راجا پوليسو په لاره کې يو بې ګناه سړې را اونيولو ـ او ورته ئې اوې چې يو قيدي مفرور شوې دي ـ هغه غريب ورته اوې چي زۀ خو هغه نه يم ـ نو پولسو ورته اوې که ته هغه ئې او که نه ئې ـ زمونږ ډيوټي د قيديانو شمير پوره کول دي ـ



Pukhto.Net

نو نن پښتون غريب د دهشت ګردواو بدمعاشانو د شمير پوره کولو د پاره ګير دي ـ او دا خو لا څه کړي ـ بدمعاشان دي که دهشت ګرد دي د پښتون په مرګ پسې دي او د بلې ډډې ئي امريکي او پاکستاني فوځونه په وژلو لګيا دي ـ نو که ډيورنډ لائن په ځاى ورته د ډيورنډ ديوال جوړ وې نو د پاکستان بدمعاشان به آخوا نه شو تلې او د افغانستان بدمعاشانو که وژله کولې نو خپل اولس به ئي وژلو ـ اوس خو مونږ نه پوهيږو چې څوک څوک دا وژله کوي ـ پيرنګي دا ورځ ليده ځکه ئي کرښه راښکله او ديوال ئي جوړ نه کړو ـ يو ځل مو اوريدلي وو چې پاکستان د ډيورنډ ديوال جوړولو پروګرام تيار کړې وه ـ خو امريکي به ورله ډالري نه وي ورکړي بيا مو واؤريدل چې د افغانستان د اولس مشر پکې ډالرې اوليدلې نو دا تاريخي کارنامه ئي په خپل نوم کړه خو امريکي ته چا اوي چې مخکې په خپل بادر د



Pukhto.Net

کینیډا سره دیوال جوړ کړه ـ یو خو به دا تایخي دیوال په امریکه کې پاتې شي او بله دا چې امریکه کې بې روزګاري ډیره شوې ده ـ اولس بې کوره شوي دي نو روزګار به پیدا شي ـ د امریکې د حکومت خیا ل وه چې اولس وږې شوې دې تش په ډوډۍ به دیوال جوړه ولو ته غاړه کیږدي ـ نو شپه په شپه د دیوال د مزدورانو یونین جوړ شو او تر سحره پورې ئې یو څو لکه غړي رجسټر کړي وو- د حکومت سره سودا ته شو چۀ لس لکه مزدورانو له به اول د استوګړې ځائې جوړه وئې - د استوګړې ځائې جوړولو مزدورانو ځان له بل یونین دې ـ د هغوئې د مزدورۍ د ریټ او نورو مراعاتو سودا به د هغوئې د یونین سره کیږي ـ بیا به د دیوال د مزدورانو د یونین سره خبرې کیږې ـ ورستو خبره د دیوال د پاره د سامان راغله نو کرینونه او بلډوزرې به ورله امریکي کمپنۍ جوړه وي خو نور سامان به ورله په ارزانه د چین



Pukhto.Net

نه راشي - کانګرس د چين نه سامان اخستو د پاره رضا نه وه - خو هند ورته هم د چين نه ارزان مال ورکولو ته غاړه نه کيښوده - چې کانګرس کې د ديوال بجټ پيش شونو هغه د افغانستان، او عراق د جنګ د بجټ نه ډير زيات وه - نو کينيډا ته ئې اوې چې دا ټول دهشت ګرد ستاسو د وطن په لارې راځي - د نيم بجټ خرچه به تاسو راکوئ - نو کينيډا ورله جواب ورکړو چې خرچه نه شو درکولې ځکه چې زمونږ اولس دا ديوال نه غواړې او مونږ له به اجازت رانه کړي چې په ديوال کې حصه واچوؤ - ستاسو دومره مرسته کولې شو چې کوم دهشت ګرد زمونږ د وطن په لارې بې پاسپورټه اونيسئ نو مونږ ته ئې واپس کړئ - ګؤيټه نامه بې جيل ته ئې مه اَستوئ - مونږ به ذمه واخلو او قطب شما لي ته به ئې واستوؤ هلته مزدورئ له څوک نه ځي - او پيسې به ورله هم بنه ورکوؤ چې تبنتي نه - نو د امريکي د کانګرس



Pukhto.Net

دا سودا خوښه نه شوه او د کینیډا نه چې کوم د تیلو پا ئپ لائن امریکې ته د راتلو پلان وه هغه ئې ورله  په نیمه لار کې ودرو‌ۀ ـ کانګرس بله لار او نه لیدله او چین ته ئې اوې چې دیوال راته تیار که ـ نو چین ورته اوې چې بسم ا لله زمونږه فیکټرۍ به پرې د نن نه کار شروع کړي خو دا راته اوائې چې دیوال د سیمټو او کنکریټ پکار دې که د سټائرو فوم ـ د سټائرو فوم دیوال به زر او ارزان جوړ شي، نیم په نیمه خرچه به راشي ـ سپک به وي نو شپمنټ به هم ارزان وي او اودرول هم په لږ وخت کې او په ارزانه به اوشي ـ زمونږ کاریګر به درشي ـ تاسو بې غمه شئ ـ

کانګریس لا په دې غور کولو چې خبره د میډیا په لاس ورغله ـ او ټوله میډیا، ورځ پاڼې، ریډیو ګان، تیلیویژنا ن، انټر نیټ ، فیس بک ، ام ایس ، آئي پا ډ او خدائ خبر په څه څه پاډونو او څیزونو لکه د اور، لوئ



Pukhto.Net

وړوکې ته دا خبر د ماښام کیدو نه مخکې ورسید او سحر له د امریکې اولس سړکونو ته را اوت ـ هر پله ټریفک اودرید ـ ټریفک څه ټوله امریکه په ځائ اودریده ـ څه صدر، څه کا نګرس. سینټ ، څه وزیران، مشیران او جرنیلان، ټول په نیمه ګینټه کې راغونډ شول او بله نیمه کې فیصله اوشوه او د میډیا مشرانو سره میټنګ اوشو او اعلان اوشو چې نه چین له ټیکه ورکوؤ، نه به دیوال جوړیږي او بیا امریکه د ماښام کیدو نه مخکې ژوندئ شوه او هر څه روان شو

که ګرځې ګرځې خو ځاې دې کنډول دې ـ نو مونږ به بیا ډیورنډ لائن له راشو ـ د سټا ئرو فوم دا آئیډیا د دواړو ولائتو اولس مشرانو ډیره خوښه شوه د یو بل سره ئې په ټیلیفون هم صلاح اوکړه او بیا ئې د امریکې د صدر،سکریټري او یو نیم جرنیل سره په ټیلیفون خبرې اوکړې چې که تاسو د ډالرو ناوه دیخوا راواړه وئې نو ډیورنډ لائن نه به مونږ " امریکي وال" جوړ کړو د هغې



Pukhto.Net

ډډې ورته جواب راغې ـ" لرې د اوږسترګو ځامنو ـ مونږ ایله خپل کور کې دغرقیدونه بچ شو او تاسو د دیوال په نامه کچکول رامخې ته کړو "ـ دا دواړه غریبان د امریکې د سخاوت نه نا امیده شول او خوله خوله کې ئې ورته دوه ځلورکنځل اوکړل او بیا دواړو په صلاح چین ته مخه کړه ـ چین ورته اوې ـ "قربان ولې نه ـ ستاسو نه دیوال خوږ دې څه ـ مونږ خو دا هنر د پلار نیکه بادشاهانو نه میراث کې موندې دې ـ دا میوه به تاسو ته ولې نه درکوؤ ـ خو یو شرط پکې دې ـ یوه یوه پرزه به د چین په فیکټرو کې تیاریږي ـ د چین په جهازونو کې به شپ کیږي او زمونږ هنرمندان به ورسره درځي او هغوئې به دا دیوال د یو سر نه تر بل سره اودروي ـ او ستاسو بې هنره لږ ډیر مزدوران به پکې اولږي" ـ دې دواړو په یوه چغه کې اوې ـ زمونږ مزدوران دې ورک شي ـ وږې ګیډې ئې نیولې دي ـ بیخي د څه کار نه دي ـ بیشکه هغه ورله هم د چین نه را اولیږئ ـ نو چین ورته اوې " چې اخرې او اهم خبره دا ده چې تاسو له به پیسه ټکه په لاس نه درکوؤ ـ ټول به په تاسو، سره د سود،



Pukhto.Net

قرض وي اوپیسه به زمونږ د منتظمین په لاس کې وي" ـ دې دواړو یو بل ته اوکتل، مخونه ئې مړاوي شول او سوچ کې پریوتل چې ډالرې پکې نشته نو مونږ لیونې سپي چیچلي یو چې دیوالونه جوړه وو۔ دا تشه کرښه دې پرته وي ـ نه ئې ماتوو، نه ئې بدلوو چې ځنګ ده او چرته پرته ده هم دې په دغې ځائ ، په دغه جوړ پرته وي ـ او د ډیورنډ لائن تشه کرښه ، تر اوسه کرښه پاتې شوه، نه ورانه شوه، نه دیوال شوه ـ یو خوا افغاني پښتون، افغاني پاتې شو او بل خوا پټان پښتون، پټان پاتې شو ـ

## سرحدونه

زمکه د خدائې لویه، غرونه دی که سمه ـ پکې رزق دې پریوانه ـ ټول مخلوق ئې پکې پیدا کړې دې آزاد ـ ولې کوم خوا ته چې زه ګورم ، هر باچا پکې ځان ته راښکلي دی کرږې وږې لکیرې ـ او ورته وائی سرحدونه دا خو د قید خانې دی دیوالونه ـ په خپله خوښه ترې نه وَتې شې، نه پکې اوسیدې شې ـ اولس دومره ساده دې، دې جیلونو ته وائي وطنونه ـ



Pukhto.Net

# دَ خر قرباني

ګوره دا خر راپورې خاندې "

دي ګډ، خواته ولاړ ښه ته اوے نو ښه ورله جواب

ورکړو

" ولې به راپورے نه خاندي، خر دې کنه "

ګوره دې ګډوري ته او دې ښوکي ته ـ زما په خندا ئي

اعتراض دے ـ نو وژاړم ! سبا له به دوئي قرباني کيږي ـ

دومره قدرته همت پکې نشته چې څه زوګ جوړ کړي،

چغې جوړې کړي، ځان خلاصي د پاره ترپکې اوهي ـ د

ګياه په خوراک داسې لګيا دي چې اوس دې خيټه ډکه شي

که سبا له ئي ورله تشه کړي نو خير دې ـ زه ورته نور په

زوره اوهينړيدم نور به څه اوکړم ـ زما دا خندا، خندا



Pukhto.Net

نه ده اصل کې ستاسو په دې بې حسۍ پورې ژړا ده خو تاسو کې پخپله احساس نشته نو زۀ درپورې خاندم"

ګډ راله جواب راکړو "دا ته څه د احساس او غيرت خبرې کوې که زه قربان شوم نو ته به چرته پټ شې "

ما ورله هم سمدستي جواب ورکړو ـ ” زه خر يم او خر خدائې د قربانۍ نه بخښلي دې ـ د خر غوښه که منزرې وخرې نو دستونه ورباندې ولړي او پټيدو له ځائې نه مومي ـ انسان زما غوښه نشي خوړې ـ ته ګډ ئې، زۀ نه يم “

زما د خر ګاډي خوا کې ولاړ ګډ زما په خبرو او هنړا بد اوګنړل ـ په دې منډ ئې کې د قربانۍ يو دوه زره ګډان او پسان به وه ـ ټول د خرڅ د پاره وو سيوا زما نه ـ زه نه پسه يم نه ګډ يم ـ سمدم يو اصيل خر يم ـ زما د دې ګاډي مالک د دې ګډانو او پسانو د خوراک د پاره شنه ګياه



Pukhto.Net

راوړي او دلته ئي خرخوي چې د دې ګډانو پسانو خيټې پړې ډکې ښکاري او هډوکي ئي لړ پټ وي چې ګاهک پرې په آسانه دهوکه کيږي

او رښتيا خبره دا ده چې بنيادم او خرپه خپله کې سره دواړه تربوران يو - خدایَ زهٔ په دې زمکه پيدا کړې يم او مکمل ئي پيدا کړې يم - بنيادم ئي په جنت کې پيدا کړې وه او لا زلمې نه وه چې ابليس په ډيره اسانه اولمسوَلؤ او د جنت نه شړوني شو - چې زمکې له راغې نو زما په پوهنه او مدد باندې ټکاؤ شو کنې نن به دے هم د دې ګډانو پسانو سره په دې منډیَ کې د خرخ د پاره تيټ سر ولاړ وه - او چل مې ورته وخوولو چې تر کومې به زما پشان په وَخو

ګذاره کوې - لکه دَ زمري دا ګډان او پسان خورهٔ چې په ګيډه موړ اوسي - دومره لړ ډير عقل پکې وهٔ زما خبره ئي اومنله - او د ګډانو پسانو غوښې ئي په طبيعت سمې راغلې - بيا چې ئي ماته ګوډه مسلماني زده کړه او د



Pukhto.Net

قرباني چل ئي په لاس راغې نو نن دا منډئي د ګډانو پسانو نه ډکې شوې -

تير اخترزما د خر ګاډي خاوند، سره د ګاډي يو جومات خوا کې اودرولم او پخپله جومات ته دننه مونز ته لاړو -
ملا صيب په چغو چغو په لاؤډ سپيکر لګيا وه - د ابراهيم عليه السلام د ځوئي د قرباني کيسه ئي را خستې وه نو زۀ ورته ساه نيولې شوم او چې ملا کيسه دې ځاۍ له راوسته چي خداۍ ورته ګډ مخې ته کړو نو زړه مې په ټکاؤ شو او بيا ئي د پلِ صراط کيسه راواخستله چې دَ قيامت په ورځ به دَ قرباني په دې ډنګرو، پلِ صراط ته سورلي کوۍ او جنت له به مو پورې باسي - د ملا صيب په دې خبره پورې دومره خندا راغله چې په خندا مې په ګيډه درد شو - په دې ګډورې به په پلِ صراط سورلي ګيرې ! او دې به د سرې ټوله کورنۍ جنت ته پورې باسي!

دا ملا صيب دَ ربنتياؤ ملا دې که ټوقمار دې - دا ګډورې



Pukhto.Net

او په ده سورلي ! ـ سورلۍ له خدایٔ زهٔ پیدا کړې یم ـ زما مشر ورور آس ئي پیدا کړې دې ـ دا ګډان پکې چا سورلۍ له راوستلل ـ ګډان د خوراک شې دي ـ دې دِ په ګډ سور جنت له اورسي کنه ـ که دَ پلِ صراط عین مئینځ کې ئي ښکته دوزخ ته ور ډ وب نکړو نو زما نوم به خَر نه وي ـ زهٔ چې دې ګډوري ته ګورم او د ملا صیب دې غتې خټتې ته ګورم نو بې حسابه خندا راشي او ښه او هنړیږم ـ ګډ به ئي څه پورې باسي که زهٔ ورله دوه لتې ورکړم نو دوزخ ته به ئي اورسوم ـ د نن دے مسلمان چرے نیک کار کړے دے چې جنت ته به لاړ شي ! ځکه خو ئي پښې رپیږي او په خپلو پښو په پلِ صراط نشی تلې نو پسانو او ګډانو په سورلۍ به جنت له ځي! خدایا چې تا انسان له لږ عقل ورکړے وے چې د ځان سره خو ئي توقې نه کولې ـ خدایٔ پیغمبران هم په ازمیښت کې اچولي دي ـ که دا ګډ نه وې او د پیغمبر د لاسه دغه کار شوې وې نو نن به



Pukhto.Net

مسلمان څه کول، دَ بندیانو منډ ئې به ئې لړولې ! توبه مې ده خدایا ! ته په خپل کارونو ښه پوهیږې کنې دَ انسان دومره عقل نشته چې په یو ډګر روان شي نو بیا لکه د ګډو بزو ایسته اورته نه ګوري او ټوله لار ورته صراطِ مستقیم ښکاري - زهٔ دَ خدائ ډیر شکر ګذار یم چې زهٔ ئې خر جوړ کړے یم او خَر ئې په حلالو ځناورو کې نه دې شمار کړې - که دَ ګډ په ځائې ورته خر دَ چاړې لاندې راوستې وے نو دې انسان بهَ زمونږ ویخ ایستې وه -"

دې اِنسان زه هسې بدنام کړې یم او ما پورې ئې ټوقې جوړې کړې دي چې "خدا ګدے کو سینګ نه دے" - ما څه داسې بد کارونه کړي دي - انسان دې په ټول تاریخ کې یو مثال راوړي چې خر څوک وژلي دي - دَ انسان دَ مرګونو او ظلم شمار نشته - خر نه چرے دَ بل خر مرګ کړې دې او نه ئې دَ خدای مخلوق کې بل څوک وژلې دې - زهٔ خو دَ خدای په ټول تخلیق کې یو بې ضرره مخلوق یم



Pukhto.Net

ـ زۀ دَ چا غوښې نه خورم که واښه ګیاه بیا مومم نو د خدایځ شکر اوباسم که زۀ بې وښو او بې ګیاه پاتې شم نو هم د خدایځ نا شکري نه کوم ـ زما همره صبر او استقامت دَ خدایځ په بل مخلوق کې نشته ـ زما زړه د هر چا د پاره دَ مینې او دَ خدمت دَ جذبې نه هر وختې ډک وي ـ خدائ ما له ډیر صبر راکړې دې زۀ ترنه څه غواړم هم نه ـ زما زړه کې چې کومه مینه او د خدمت جذ به ده زۀ په هغې ډیرخوشحاله یم ـ دا انسان زما په قدر نه پوهیږي، نه مې په عزت ـ دې دَ نورو انسانانو په عزت او قدر نه پوهیږي نو زما په قدر به څه پوهه شي ـ ما تول عمر دَ انسان سره مینه کړې ده، خدمت مې ورله کړې دې، د ده هر ظلم مې په خوشحاله تندي برداشت کړې دې ـ خپل تول ژوند مې د ده آرام ته قربان کړې دې ـ خو څه او وائیم ـ دا انسان د سرې څوې نه دې ـ بس په خپله خیټه مئین دي ـ چې ګد حلال کړي او په غوښه ئې خیټه ډ که شي نو وائي



Pukhto.Net

خدایا ! ما ستا د خوشحالی دَ پاره قرباني اوکړه قبوله ئي
که ـ او دا زهٔ چې خپل ټول ژوند ده ته قربان کوم خو ده
کې دومره سړیتوب نشته چې ماته یو وخت ښه خوراک
راکړي، د چنړو ډکه ټوکرۍ راته مخې ته کیږدي زما
وجود اوګرئي او مالش راله او کړي ـ داسې به ولې
اوکړې شي چې دې خو په خپله خیټه مئین دے، دَ ده دَ
خیټې تنورزماغوښې نه ډکوي ـ
زهٔ خر یم خو دَ انسان نه زیات حساس، نر، غیرتي او
اوښیار یم ـ ده دا په زرګاؤ ګډان، پسان دلته راټول کړي
دي او دَ قربانۍ دَ پاره ئي په خرخ لګولي دي او دا
ځناور غریبان د دې انسان په نیت او ارادو ډیر ښه
پوهیږي خو ترت نشي کؤلي ـ په دوئي کې د خرا هغه
نرتوب او جرات نشته ـ دا انسان دې نر شي او د یو زر
خرو منډ ئي خو دِ اولګوي ! بیا ګوره که دوئي د خرو
مستۍ ته تینګ شول ـ تاسو چرته دَ خرو منډ ئي په دنیا کې



Pukhto.Net

ليدلې ده؟

انسان تر اوسه زلمې شوې نه دې ـ نه پکې مينه شته، نه پکې سرېتوب شته ـ ظالم دې ـ د رحم، دَ مينې، او دَ خدائ دَ مخلوق دَ خذمت جذبه پکې د سره هډو نشته ـ که ده له خدائ زمونږ دَ خرو دَ عقل او جذبې لسمه برښه ورکړې وې نو په دنيا به فسادونه، جنګونه، ورانې او د يو بل نه نفرتونه نه وو ـ امن امان به وه، مينه محبت به وه، خوشحالي به وه او دا دنيا به جنت وه

دا خو زمونږ د خرو دَ انسان سره مينه او دَ قربانئي جذ به ده چې دَ ده وهل برداشت کؤ کنې دې زمونږ يو ې لتې ته دَ تېنږيدو نه دې ـ

*****



Pukhto.Net

## جنت که دوزخ؟

خدایٔ خپل مخلوق ته په دنیا یو جنت بخښلې وه ـ او هغه جنت دا زمکه ده ـ د ټول مخلوق د پاره ئې پکې پریوانه رزق پیدا کړې دې ـ د خوږو اوبو چینې، خوړونه او سیندونه روان کړی دی ـ د خوږو خوږ میوو ونې ئې پیدا کړی دی ـ خوږو خوږو پئیو له ئې غوا میخې پیدا کړی دی ـ هر رنګ موسمه ئې جوړ کړی دی ـ

خو انسان دومره نا شکره او د لالچ د لاسه دومره غرق دې چې د خدایٔ د دې دومره لوئ نعمت نه، د دې جنت نه، زان له او نور مخلوق له دوزخ جوړ کړې دې پخپله د دوزخ په اور کې سوځی او د خدایٔ بیګناه مخلوق ئې هم پکې راګیر کړې دې ـ

*****



Pukhto.Net

# پښتون

چې کله په دنیا بل مکمل انسان نه وه نو پښتون وه ـ په دې حساب پښتون د مادرن انسان پلار کیږی - چې په دي ـ او بیخی ږومبې مکمل سړې دې شوې جنت کې پیدا د اسمان نه زمکې ته د پامیر غره په لاره چې نیغ راکوز شوې دې ـ او بیا د هندوکش غره خواؤشا کې دیره شوې دې ـ مخکني مخلوق د پښتون زمکې ته په راتلو خوشحاله نه وه خو څه ئې کولې نه شو نو دراوړ چې د اباسین نوربناته کې وه ـ د یرې نور ښکته وتښتیدل ـ څوک خو سری لنکا او استریلیا ته ورسیدل څه په تیښته کې په اوبو کې ډوب شول او څه د هند په لکی پورې زوړند شول ـ بیا ئې هلته کډه واچوله ـ او تر اوسه هلته پراته دي بل قام چې ورته نیندرتل وائي ، قطب او قبلې ډډې ته



Pukhto.Net

پراته وه هغې د ویرې یورپ ته مخه وکړه او د یورپ په ځنګلو کې اباد شول ـ د دې نسل باقیات اوس هم زیات په جرمنی کې او نورو یورپي ملکونو کې موندې شي ـ

جنت خو بې حسابه لویه او د خدایٔ پاک یوه ښائسته دنیا ده ـ او هلته د زمکې همره لویه یوه ډیره زبرد سته ریسرچ لیبارټری هم دهٔ ـ خدائې خبر چې د کومې زمانې راسې پکې ځناور، مرغۍ، مرغان، کبان اونور حشرات جوړیږي او زمکې ته پارسل کیږي ـ او په دې رنګا رنګ مخلوقات دا شاړه زمکه آبادیږی ـ او ښائیست ئې ورځ تر ورځه زیا تیږی ـ او دا سلسله به تر قیامته روانه وی ـ به وې جوړد ابلیس واده دې ـ هغه فرښتې چې د کلونو راسې وزګار ناست وې او زنګ وهلې وې ـ ویخ شوې او داسې تکړه شوې چې د ناراستی خوبونه ئې خلاص شول ـ او ټول د دې تاریخي ځناور په تیاری کې خپله پوره پوره حصه اچولو له چاق چوبند شول



Pukhto.Net

بیا چې د وړومبی قالب کولاولو وخت راغې ـ د لیبارټری د فرښتو ټول ستاف، مشر ابلیس او نور اهم فرښتې د کمپلیکس لوی هال کې راجمع وۀ ـ دَ ناستې ځائې پکې نه وه ـ هال کې داسې خاموشي وه چې باد هم رپ نه وهلو ـ قالب د هال سټیج ته راوړې شوه ـ ابلیس د خپل سیټ نه پاسید ، مائکروفون له راغې او ګویا شو ـ

د خالق یو نایاب تخلیق به اوس ستاسو مخکې د سانچې نه بهر راشي ـ د خالق ثنا په اوچت اواز ووائې ـ " اللهُ اکبر" او دَ سانچې وَر ئې اوچت کړو

دروازه کولاویدو سره ترنه د دوه پښو یو تور زنګي بهر راټوپ کړو او په ټوپونو او ګډا شو ـ

ابلیس په قهر شو " دا مو څه شي جوړ کړې دې؟ تاسو ته د یو مکمل انسان د جوړولو حکم وۀ ـ دا خو سَوې سروټکه ده" ـ

کیمیکل انجینئر فرښته ورله جواب ورکړو ـ چې د



Pukhto.Net

چمپینزو د پاره د افریقې لږه توره خټه پرته وه ـ د تجربې
په طور مو هغې کې دوه فیصد د افغانستان خټه شریکه کړه نو دا زنګی ترنه جوړ شو ـ او هسې هم پرون تولـه ورځ د بجلۍ لوډ شډنګ وه نو مونږ د قالب لاندې د وَچو لرګو اور بل کړې وه ـ تمپریچر په کنټرول نـه وه اُور لږ تیز شو
نوتمپریچرډیر اوچت لاړ ـ لږ وسوَلو او په لوګي ئې رنګ ډیر تور شو ـ که خیر وي بل به سل فیصد دَ افغانستـان دَ خټې نه زر تیار شي ـ ابلیس ورتـه ووئیل ـ "دا ځل غلطي او تادي مه کوئې ـ کنې تاسو به د هندو کُش غرونو ته ولیږم" ـ

فرښتو یو مضبوط جال را پیدا کړو او هغه تور زنګي ئې پکې قابو کړو او دَ مشر ابلیس نه ئې پوښتنه وکړه چې ده سره څه اوکړو ـ ریسائیکل ئې کړو؟
مشر ورته اوې چې امریکې لا د جنت په دې زمکه د



Pukhto.Net

ریسائیکل فیکټرۍ نه ده لګولې ـ دا کار په دوزخ کې کیږی او دوزخ ته ګناهګار ځي ـ د ې کې د زنګی غریب څه ګناه دې چې دوزخ ته لاړ شي ـ د افریقې زمکې ته ئې پارسل کړئې ـ

ذمه وار فرښتو ته ډیرپه قهر شو او چې څه په خلهٔ ورتله، ورته ئې اووې ـ د اتوار چُټي ئې ورله منسوخ کړه ـ بونس ئې ورله هم بند کړو ـ

دوه ورځ کې نور سرې تیار شول خو یو هم مکمل سړې پکې نه وه ـ د چا نظر نه وه ـ د چا که یو لاس

وه نو پښې نه وې ، د چا سر وه نو مازغه پکې نه وه ـ بس داسې مات ګډ وو ـ نو ابلیس اډر ورکړو چې دا ټول لاهور ته ولیږئ ـ د داتا صیب د دربار په پَوړو به ناست وي او په پیسو ماړه خلک به ترنه د خپل دولت د حفاظت د پاره دعا ګانې غواړی او پیسه نیمه به ورله خیرات ورکوي ـ



Pukhto.Net

اخر يو ورځ چې مشر سائنسدان په ليبارټرۍ کې يو تازه قالب کولاؤ کړه او سړې ئې ترې راويست ـ ښه ئې ورته ښکته بره اوکتل راوکتل ـ بيا ئې ووې ـ" ډير ښه پوښ دې او ښه تن وجود ئې دې " ـ نو دې سړي ورپسې ګردان کړو ـ " ښه پوښ تن وجود دې" ـ

" وئې ! ده خو خبرې هم شروع کړې ـ وايه پوښ يم او تن يم " ـ مشر ابليس ورته ووې ـ

" پوښ تن يم" ـ

ـ " شاباسې ـ بيا اوايه ـ يو لس ځله اوايه" ـ ابليس ورته د خوشالۍ ووې ـ

او ده د ابليس په وينا ګردان شورو کړو ـ " پوښ تُن يم ، پوښ تُن يم، پوښتون يم، ـ ـ ـ ـ پښتون يم " ـ

" ودريږه" ـ ابليس ورته ووئيل ـ "دغه دې سم تکې اوې ـ پښتون ـ د اوسه ستا نوم پښتون شو ـ جواب راکړه"

"ستا څه نوم دې؟"



Pukhto.Net

" زما نوم پښتون دې" -

" ته کومه ژبه وائې؟" ابليس ترنه بيا تپوس اوکړو

" زۀ پښتون وائيم"

" نه مړه نه - ته پښتون ئې او پښتو کې خبرې کوې"

" زۀ پښتون يم - پښتو کې خبرې کوم"

ابليس ورته په ډيره خوشالئ اوې - "يو ځل بيا اووايه"

"زۀ پښتون يم، پښتو کې خبرې کوم"

" شاباشي د نر بچيه اوس زۀ کامياب شوم" ابليس د ډيرې خوشالئ په ټوپونو شو - او دا رنګ پښتو او پښتون د جنت په لويه ليبارټرئ کې پيدا شول -

اوس به دې بلې مسئلې له راشو چې د پښتون اصليت د محققين د پاره يو پټ راز دې - چې نا ساپه دا پښتون په زمکه د کومې رابنکاره شو؟ دوئې د دې حقيقت نوغي ته د رسيدلو کوشش کې، رنګ رنګ قيصې جوړې کړې دي - څوک وائي دا د بدهانو نسل دې، څوک ورته آرين وائي،



Pukhto.Net

اسرائیل دعویٰ لري چې پښتانه د هغوئې دولسمه ورکه قبیله ده ـ فرشته په خپل کتاب کې لیکي چې ما په مطلاعَ لانوار کې لوستي دی چې دا افغان د فرعون د پخواني مصریانو د نسل نه دي ـ څه ! ده سر ته ورسوله ـ د پښتون نه ئې د زنګي اولاد جوړ کړو ـ هغه زنګی چې د ابلیس خوښ شوې نه وه او افریقي ته ئې د لیږلو حکم ورکړې وه نو د فرعون هغه مصریان د هغه اولاد دې ـ د چا چې څه په خُله راځي وائې ـ پښتون خو د ماډرن انسان د ټولو قامونو پلار دې او دوئې د پلار نه ځوئې جوړوی ـ نو د داسې ځوئی پلار موندل څه اسان کار نه دې چې پخپله پلار وی ـ

محققین له پکار ده چې د نوغې نه خپل تحقیق شروع کړی ـ اول دې پښتون خپل پلار ومني بیا دې نور لټون کوي نو څه ځائې ته به ورسي ـ دا محقیقن خپلې نوکرئ ساتلو د پاره په زور پښتون له پلار لټوی ـ پښتانه خو د



Pukhto.Net

پلار په غم کې غمجن نه دې ناست ـ د پیسې د لاسه غمجن دې ـ

د مغرب سکا لرانو سره د پیسې غم نشته خو د پښتون د پلار غم اخستې دي ـ داسې خدائې وهلی دي چې په لنډه خبره نه پوهیږی چې د پښتنو پلار پښتون با با دې او د جنت نه راغلې وه ـ قیصه خلا صه ـ نور چرته ئې نشي لټولې نو په کتابونو ورشي او هغې کې ئې لټوي ـ دوئې ته چا وئیلي دي

چې پښتون په کتابونو کې پروت دې ـ چې کتاب نه وه نو پښتون وۀ ـ چې کتابونه راغله نو پښتون کتاب نه کتلو، نه منلو او نه ئې پکې ځان اچولو ـ او تر اوسه پښتون د کتاب نه آزاد قام دې ـ که ریسرچرز ورباندې ځان ستړې کړي نو په کتاب کې پښتون نشي موندې ـ پښتون د هندو کش په وچت غرونو کې تر زمانو اوسیدو ـ نودا خبره د لس شل کالو یا د سل کالو نه ده ـ د لکونو کالو ده ـ چې دې



Pukhto.Net

افغانستان کې اوسیږي ـ نور چرته اوسیدې شي ؟ نه ئې ځوک خپل کور، کلي یا وطن کې اوسیدو ته پرېږدي ـ هر ځائې چې وي مسافر دې ـ

د افغانستان په زمکه چې هیڅ ځوک نه وه نو پښتون وه ـ او پښتو ئې داسې جوخته ټینګه کړې وه چې که د غرونو نه ښکته راکوز شو نو پښتون به ترنه بره په غره پاتې شي ـ هره سخته ورته قبوله خو چې پښتو د لاسه لاړه نشي ـ

د پښتون د پاره خوریدل دومره اسان هم نه وه ـ هر پله چې به تله نو چا به ورته پخیر راغلې خو نه وئیل ـ په جنګ او په زور به ئې قبضه کوله ـ چې جنګ به ئې وګټلو او ټول عمر ئې ګټلې دې نو هسې وژله به ئې نه کول ـ یو شرط به ئې دا وه چې بئیللې قام دې ورته علاقه پرېږدي او بل د تاوان په بدل کې دې سورې راکړي ـ نو په دې جوړ به ئې ترنه ټولې ښائسته پیغلې لاس ته کړې ـ خو بیا



Pukhto.Net

افغانستان ته واپس نه شول ـ

کوم چې په خپل کور پاتې شول هغه اوس هم هغه پښتون دې لکه چې پنځوس زره کاله مخکې وه ـ هيڅ فرق پکې نه دې راغلې ـ اوس هم په سوَره صلح کوی ـ

خدائې خو بس يو پښتون بابا سم د سړی ځوې جوړ کړې دې ـ دا نور مخلوق خو هسې خشاک دې ـ زمکه ئې ورباندې ډکه کړې ده ـ بيا ئې په ټول مخلوق خليفه کړې هم دې ـ نن که د پښتون څخه خلافت نشته نو خير دې ـ بدمعاشانو ورله کار سم کړې وه ـ خو د امريکې کور وران شه ـ باچائې ئې ترنه واخستله ـ تشه باچائې نشته، خليفه خو اوس هم دې کنه ـ

د سائمن مهی يو جبلت دې چې په کوم مقام دې د اګو نه زيږيدلې وي نو چې ځلمې شي نو هغې مقام له ځان واپس رارسوي که نارينه وي نو هم او که زنانه وي هم اګو اچولو له هغې مقام له راځي ـ بنياد م ورته ناست وي



Pukhto.Net

او په شخړو ئې نيسی ـ تر لوئې حده پورې د انسان هم دغه خصلت دې ـ د دې خصلت د لاسه دا غټې غټې باچا ئې په افغانستان رامنډې وهي ـ او دَ افغانستان په دې وچه زمکه او غرونو کې ځان غرق کړي ـ خپلو حملو له که هر عزر پيدا کړي خو د ماهي هغه خصلت ئې دې ځائې له راولي ـ کنې په دې زمکه او په دې غرونو کې څه خځانې پټې پرَتې دی چې دوئې ورپسې فوځونه، سره د جنګ د سازو سامان راشی ـ خپل اباد، ښکلي او خوش حال وطنونه ورپسې پريږدی - دې وچو زمکو او غرونو کې ځان سره د باچايو غرق کړی ـ تاريخ ولټوئې او په دې نظر ورته وګورئې نو که سکندر وه، که چنګيز وه، که پيرنګې وه که روسې وه او اوس که امريکې سره د ټول نيټو دې ـ خپل دولت، اصلحه، فوځيان، خپل عزت او د خپل خلقو خوش حالي ، هر څه ئې پکې غرق کړل او چې څه لږ ډير پاتې دی هغه به هم غرق شی نو ټيټه ملا به



Pukhto.Net

واپس شي ـ

خان ته ډېر پوهه او عقلمند وائي ـ يره که د مهيانو دا خصلت پوره کوئي نو لکه د بنديانو ئې پوره کوئي کنه ـ راځي شل ځله راځي ـ پښتون به درته پخير راغلي وائي ـ په جمع راځي، هره ورځ راځي خو په امن راځي ـ په سيل راځي ـ پښتون به درته ښکلي ښکلي د سيلونو ځائونه جوړ کړي ـ د خپل پلار نيکه **جنم بهومي** کتو له راځي نو بلا قبرونه او مقبرې به ستاسو زيارت له جوړې شي بس ډالرې او پونډونه راوړئ ـ ښه ګراني ګراني هوټلې به درته جوړې شي ـ په مزو پکې پاتيکيږئ ـ لوئ لوئ شجرې به درله تيارې شي ـ هر چا له به پلاران نيکان را پيدا شي ـ د دغې خبرې غم مه کوئ ډېرې قبيلې به تاسو خپل کولو (Adopt ) ته تيارې شي بيا د خپل نوم سره دُراني ليکلي شئ، اپريدې ليکلې، يوسف زې ليکلي شئ ـ چې کومه قبيله مو خوښه وي ـ هغه ستا ده او ته د هغې ئې



Pukhto.Net

ـ بس دومره خیال ساته چې د خپل پلار نیکه د **جنم بهومي** زیارت له راځي نو جیب د ډالرو ډک راوړه ـ پښتون په ډالر جوړ تصویر باندې ډیر مئین دې ـ د پښتون وطن، بې جګړې، بې خپګانه ستا خپل دې ـ

اَے خلقو ! دَ زړه دَ اخلاصه زما خبرې ته غوږ کیږدی ـ

* ټول بنیادم د آدم او حوا اولاد دې ـ

* یو عربي په غیر عربي هیڅ برتری نه لری او نه غیر عربي په عربي څه برتری لری ـ نه یو سپین په تور څه برتری لری او نه تور په سپین ـ سیو ا د خپل نیکی او ښه کارونو ـ

* ځان پوهه کړی چې هر یو مسلمان د هر بل مسلمان ورور دې ـ او ټول مسلمانان په جمع یوه کورنی ده ـ

( د خطبتی الوداع نه اقتباس)



Pukhto.Net

# راځې چې دروغ وائیو

په کور که په بهر، دَ قلارې او امن ژوند غوارئ نو دروغ وینا نه سیوا بله سمه لار نشته ـ او که زا ن له غویمې ګورئ او خپلو پردو ته زا ن سپکوئ نو وائیې رښتیا ـ نتیجه به ئې پخپله او وینئ ـ یو اشنا راته صلاح له راغې وئیل ئې، دَ کور ژوند مې ډیر په عذاب کې دې ـ دَ ښځې ژبه مې ګز اوګږده ده ـ اِیله کورته مې قدم دننه کړې نه وی چې دَ دې ژبه لکه دَ قینچۍ زما په ماز غو پریکولو شی ـ ډیره مې وَ زورله، ډیره مې او وهله، خو دا کلکه



Pukhto.Net

ګټه ده هيڅ اثر پرې نه کيږی ـ نو ما ورته اوې، ګټې په ټکولو ماتيږی وِيلې کيږی نه ـ ته رښتينې سړې ئې ـ ريښتيا وئيل پريږده دروغ وايه نو بيا ګوره ستا دا ګټه ښځه څه رنګ ويلی کيږی ـ اول هغه ما ته بد بد اوکتل لکه زۀ ئې په بده لار راړوم ـ بيا ئې تپوس اوکړو چې څه دروغ ورته اوائيم ؟

" ښځه دِ ښائيسته ده؟ "

" توبه اوباسه "

"بيا خو ډيره اسانه ده "

" څنګه ؟ "

"هر وختې ئې دَ ښائيست صفت کوه "

" دا خو دروغ دی ! "

" نو زما نه صلاح ولې غواړې ؟ ما درته د رښتيا وئيلو صلاح خو نه ده درکړې ـ ته ئې نه منې ـ لګيا اوسه په ګټه سر ټکوه " ـ



Pukhto.Net

سړی سر وَښندؤ لاړ ـ ما وې، رښتيا خبره دَ چا زړه ته نه پريوزی ـ يو لس اته ورځې پس مې په بازار کې دَ يو تيلي سره ولاړ اوليدلو ـ تپوس مې ترے اوکړو چې څه اخلې ـ جواب ئې راکړو چې ښځې له لپ ستک اخلم ـ ما ورته امبارکی ورکړه ـ

دَ ډيزل ملا په ګاډی کې ډيزل خلاص شول ـ کورته نزدې وه ـ پياده روان شو ـ دَ کومې ورځې سياست کې اخته شوې دې نو په اول ځل ئې هلکان په لوبو او ليدل ـ تپوس ئې ترې اوکړو چې څه کوئ ـ هغوئ ورله جواب ورکړو چې يو ه ټرافی مو تياره کړې ده اوس دَ هغې سړی په لټون يو چې ډير لوړ دروغجن وی چې دا ټرافی ورته پيش کړو ـ ډيزل ملا يو سوړ سويلې وکړو ـ وئيل ئې ـ دا ټرافی زما قسمت کې نه ده ـ نو ټولو هلکانو په خوشحالئ په يو آواز چغه کړه چې شکر دے ملا صيب ته راغلې، زمونږ ګرانه دې مونږ ته آسانه کړه ـ تاسو دَ



Pukhto.Net

دې ټرافی اصلی حقدار ئې -

دروغ وئیل بده خبره نه ده، په نن وخت کښې رښتیا وئیل بده خبره ده - ځکه خو صدران دی که وزیران دی، ملان دی که پیران دی ، ټول ځان دَ رښتیاؤ نه په ډډه ساتی - په خطائیې که دچا د خلې نه رښتیا اوختل نو که صدارت وی که وزارت وی ، دَ لاسه به ئې ځې او کور به کښینی - چې داسې اوچتې مرتبې او دومره لوړ لوړ بند یان په دروغ وئیلو ښه ژوند تیروی نو مونږ غریبان ولې دَ رښتیاؤ په ګناه راګیر یو - وائې په دروغو دنیا ولاړه ده - نو که دروغ ترې ا وباسو نو قیامت به راشی - د قیامت نه دنیا ځکه تر اوسه بچ ده چې دَ دروغو دیوالونه د مضبوط سیمټو جوړ دی که دَ رښتیاؤ د خاؤرو ختو په دیوالونو دنیا ولاړه وې نو پخوا به قیامت راغلې وۀ - ریښتیا وئیل د غریبانو د پاره دی - رښتیا خو غریب هم نه وائې - دَ غریب دروغ هم لکه د هغه غریب وی -



Pukhto.Net

غریب بې مطلبه دروغ وايي او بې مطلبه دروغ خو د رښتیاؤ نه هم د کوزمعیار وی ـ کوم غریب سړی چې معیاری دروغ ایزده کړی ، غریبی ترې اوتښتي ـ دولت، لوړے مرتبې، او عهدے ، ټول په دروغو دومره مئین دی چي دَ رښتنی سړی نه په ډډه تیریږی ـ

دا نن په ما څه چل شوې دې ـ خدائ دِ خیر کړی ـ ما نه څه ګناه شوې دې چې زما خوله په رښتیا خبرو لګیا ده ـ

****



Pukhto.Net

إِنَّ اللَّـهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ ﴿40:28﴾
وَاللَّـهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ ﴿9:24﴾
وَاللَّـهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿61:7﴾
وَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ (42:16)

الله پاک دروغجن ته فاسق، ظالم او کاذب وئيلی دی ـ دروغجن د ځان سره ظلم کوی، د خپل خپلوانو سره، د ټول قام سره، د ټولو مسلمانانو سره او تر دې چې د الله سره هم ظلم کوی ـ ځکه الله پاک فرمائي چې فاسق، ظالم او کاذب له زه هدائت نه ورکوم ـ دې په ډير سخت عذاب کې پروت دې ـ ( إِلَّا تَنفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا )
که تا د دې عذاب نه پخپله ځان له د خلاصون لار پيدا نه کړه نو په ډير لوئې عذاب کې خو پروت ئې نو بيا به دربادنې (وَيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ) بل قام راولم او هغه بل قام به تا نه غلام جوړ کړی ـ ستا او ستا د پښتوبه ويخ وباسی او ته به د هغه هيڅ وران نه کړې شی (وَلَا تَضُرُّوهُ شَيْئًا ) ـ خپل چاپير چول ته وګورئ ـ نن پښتون د خدائې د عذاب په دې ( وَيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيْئًا) آخری مرحلې کې دې او که نه دې؟



Pukhto.Net

# ناراستی او نیستی

دَ ناراستی پشان خوړ احسا س هډو بل شته نه ـ که څوک وائي چې په هغه ناراستی نه راځی نو دروغ وائي ـ خدائ خبر چې په چرسو افیمو کې به داسې خوند وی او یا دَ شاعرانو د ښا ئیسته سا قی د لاسه شرابو سکلو کې ـ زما په خیا ل خدائي به هم نه وی خبر ځکه چې هغه به د ا دواړه څیزه نه وی څکلی ـ دَ دي دواړو څیزو نشه زر ماتیږی چې خبره پیسو له راشی ـ دَ ناراستی نشه زر نه ما تیږی ـ په دې کې دَ پیسو هیڅ کار نشته ـ دا دَ خدائ بې پیسو نعمت دې ـ



Pukhto.Net

چې دَ ژمی غرمه وی ـ په حجره کې دِ کټ په غرمو پروت وی، څادر دِ په ځان اچولې وی، پکې ملاست ئې او دَ ناراستی مزې لوټې نو هغه وخت سرې د ناراستۍ په نشه پوهیږی ـ که درته څوک اوائي چه زر روپۍ واخله او د نزدې پروت منګی نه ورله د اوبو یو ګلاس ډک کړه او ورکړه نوکه ستا په ځائ زه یم نو به ورته وائیم چې سبا زما نه زر روپۍ واخله خو تکړه شه پخپله اوبه اوسکه او ما مه تنګوه ـ دا وخت د ملاستې مزه د زرو روپو نه خوږه ده ـ هډو جواب به ورله نه ورکوم ځان به نور کلک اوده کړم ـ خپله د ناراستی نشه په خبرو ولې بې خونده کوم ـ

په روژو کې خو دَ ناراستی غلبه ډیره زوره وره وی ـ که نه وړې کیږې نه تږې کیږې خو ټول ټال به دَ ناراستئ په کنټرول کې ئې ـ که څه کار راته پروت وی او کوَل ئې غواړم نو ناراستی راته غوږ کې وائي ـ په



Pukhto.Net

قلاره کښینه مړه، سترې شوې ئې، روژه دِ ده، په روژه کې څوک کارونه کوی ـ سر دِ اوخری کارونه ـ اوس څمله، لړې پښې اوغزوه، او په قلاره اوده شه ، سبا به کتې شی ـ او بیا زهٔ اوده شم او سبا له مې بیا اوغوږلئی ـ اوده مې کړی او کارونه چرې سر ته او نه رسی ـ

دَ ناراستیٔ دَ نشې په مزه هغه وخت سړې پوهیږی چې په ناسته ورله خوب ورشی، دَ څملا ستو چرته ځائې نه مومی او په ناسته مجبور وی، بل خوا ئې ناراستی په خوب مجبورَوی ـ سړې دغه حا ل کې په ناسته اوده شی خو چې سر ئې یو خوا ته په غورزیدو شی نو ناڅاپه ویښ شی او بیا بې وسه، سترګې پټې کړی او بیا ئې سر یو ډډې ته ورغړی ـ راویښ شی او دغه رنګ د خوب او دَ ویښې دا جنګ روان وی ـ او دغه حا ل کې ئې مزه نوره هم زیاته شی چې سړې په اوږد مزل په بس کې په سفر وی ـ په سیټ دوه تنه ناست وی،



Pukhto.Net

دواړه دَ ناراستئي په قابو کې انختی وی ـ او سرونه ئې رغړی او رارغړی او د یو بل سره ټکرې وهی ـ کله ستا سر دَ هغه په اوږه او کله د هغه سر ستا په اوږه ـ او لا چې سړک هموار نه وی ـ دغه شان یو اوږد سفر دَ ناراستئي د لاسه په ما هم تیر شوې دې ـ د دیرشوکالو خبره ده ـ د ډیټرائیټ د ښار نه شکاګو ته مې په بس کې سفر کولو ـ دَ وه اتۀ ګینټو د بس لار وه ـ زما سیټ کړکئي سره وه او دننه غاړې ته راسره یوه ښه صحت منده، توره امریکئي پیغله ناسته وه ـ د بس د روانیدو په اِیله لس منټه شوي وۀ چې زما د سیټ ملګرې باندې ناراستئي خپل لاس واچوۀ ـ او سر ئې کله یو اړخ ته، کله بل اړخ ته په زنګید و شو ـ د څانګو دا لوبه لږ ساعت روانه وه چې ناڅاپه درز شو او سر ئې زما اوږې باندې راپریوتو، ما ئې د اوچتولو کوشش اوکړو خو سر ئې غټ هم وه او دروند هم ـ ما اوچت نه کړې شو نو مې



Pukhto.Net

او خنده وله، ویښه مې کړه ـ چې خپل سر دِ قابو کې او ساته نو سترګې ئې پرانستې او ساری ئې راته اوې او بیا ئې سترګې پټې کړې او سر ئې په زنګیدو شو ـ بیا د هغې سر وه او زما اوږه وه ـ یو څو ځله مې بیا ویښه کړه، خو اوس به هغې نه ساری وئیل نه به سمه ویښیده، لکه د نشئي به ئې نیمې سترګې اوغړولې او بیا به د هغې سر او زما اوږه وه ـ ستړې شوم، سوچ مې اوکړو چې څه چل خوپکار دې ـ دواړه لاسه مې د هغې د سر لاندې کړل او په زوره مې ټیل وهله ـ ما وې اوس خو به خا مخا ویښه شی ـ زما نصیب ! دا ویښه نشوه او سر ئې زما په غیږ کې را اوغورزید ـ ما ډیر کوشش اوکړو چې سر ئې اوچت کړم خو اوس ورسره د هغې د وجود وزن هم شامل شوې وه ـ سمه درنه میخه وه ـ ما او نه خوزه ولې شوه ـ ما وې خدائیه دا بلا به تر کومې په غیږ اوساتم ـ لږ ساعت مې ورته صبر اوکړو او په څه سکیم جوړولو



Pukhto.Net

اختنه شوم ـ ځان مې د خوزولو کوشش اوکړو نور د کړکئې خواته شوم ـ چې د دې سر زما د غیږ نه اوغورزیږی ـ دا لړه او خوزیده او سر ئې زما غیږې ته نور را د ننه کړو ـ زما د کړکئې پله په خوزیدو دې ته په سیټ ځائې زیات شونو دا پرې لا سمه راغله مخکې په ډده پرته وه او چې ځپک ځائې ئې نور بیاموندلو نو ملا ئې سمه کړه او نیغه ځملاسته ـ زما نصیب دِ وران شی ـ زما هر سکیم په ما اولټه کیږی ـ په دې کې شیطان مې مدد له راغې ـ غلی غوندې ئې راته په غوږ کې اوئیل چه تا د ځان نه د سړی ځوې جوړ کړې دې ـ په سړی توب به هم په دې حال کې تر شکاکو ځې ـ نو ټول سکیم ئې راته په غوږ کې برابر کړو ـ

اوس دا په خپله ملا ملاسته وه، مخ او سینه ئې ما ته بره وؤ ـ ما خپل سر بنکته کړو او په نا خوالئ مې ورله تورمخ بنکل کړه ـ سکیم دا وه چې په دې به دا



Pukhto.Net

خبره بده اوٰلړی ، را ویینه به شی ، ماته به څه بدرد
اوائي ـ خیر دې ـ زهٔ به ترنه په قلاره خو شم کنه ـ خو دا
سکیم هم اولته شو ـ هغې په اودو اودو خپل دواړه لاسه
زما دَ څټ نه چاپیره کړل او زهٔ ئې د خپل مخ سره نور
جوخت کړم ـ یا خدائیه دا په څه شرم اخته شوم ـ او چې د
دې لاس لړ سست شول نو خپل سر مې ترې را خلاص
کړو او نیغ کښینا ستم ـ دَ ځان سره مې فیصله اوکړه چې
دا اوس ستا سزا ده چې تر شکاګو به په دې حال کې
ځې ـ چې د حال سره مې روغه اوکړه نو په ما هم
نیستی راغله ـ خبر نه شوم چې څه وخت مې سترګې پټې
شوی دی ـ په خوب، که په ویښه دومره پوهه شوم چه په
خپله بشتره، د دوه پستو، پستو بالښتو تر منځنځ مې پړ
مخې سر پروت دې او اوده یم ـ چې د بس ډرائیور
راباندې آواز اوکړه

Get up you loving couple, we are in Chicago .

پاسئ شکاګو راغې " ـ مونږ سترګې مږلې پاسیدو ـ د



Pukhto.Net

بس نه په کوزیدو دې ماته اوئیل -" ستا سره په سفر زما ډیر ښه وخت تیر شو "- ما ورله هیڅ جواب ورنکړو ځکه چې زۀ په خپلو خپو د اودریدلو کوشش کې لګیا وم -

د خبرې نه خبره را اوزی - د اکبربادشاه د زمانې خبره ده - زمونږ د سوات بونیر خلک اکبر بادشاه ته او د هغه بادشاهی ته ډیر سپک ګوری - هغه ډیر ځله په دې علاقې حملې اوکړې خو هر ځل ورله پښتنو فوځونه تباه کړل او هغه بادشاه چې تاریخ ورته اکبرِ اعظم وائي او ټول هند ئې قابو کړې وه - د غرونو دې پښتنو ته ټینګ نه شو او خپلې لوئې بادشا هئ کې ئې د سوات بونیر غرونه شاملولو او د دې غرونو یوسف زو د قابو کولو ارمان ځان سره قبر ته یوړو -

دې خلقو ورپورې بلا توقې جوړې کړې دی - د ده خلق ئې په ناراستئ مشهور کړی دی - وائي چې یو



Pukhto.Net

ده ورته کتل او کورې قدرته ئې ورته اونه وې "
ځلمی ورپسې څپلۍ اوچته کړه او د دواړه نه ئې نیستی
اویسته ـ

فیروز افریدي صیب راته د اکبر ناراستو پورې دا
توقه واؤروله " د اکبر بادشاه په زمانه کې بیربل وزیر
اکبر باچا ته اوئیل چې دا لټان تول تکان دي او تا سره
دوکه کوي یعني دا لټان نه دي ستاسو د مهربانۍ نه
ناجائیزه فائیده اوچتوي او ګنې راځې چې معلوم ئې
کړو. دوئي هغه ځائي ته لاړل او هلته ئې هغۀ تولو لټانو
ته اواز ورکړو چې باچا سلامت وائي چې ما سره د لټانو
د پاره یو وزارت دې خو هغه ته به میلاویږي کوم چې
تر تولو زیا ت لټ وي. نو هر یو لټ خپل وړاندیز
ورکړو چې ګنې زه د تولو زیات لټ یم. چا لاس اوچت
کړو ،څوک په ډډه واؤړیدل او چا اشاره غوندې وکړه
یو سړې بیخې غلی ملاست وو. هغه له بیربل رانزدې



Pukhto.Net

یوسف زيِ ځلميِ د ده په علاقه کيِ په اس سور روان وه چيِ د توت د ونيِ لانديِ ملاست يو سړی ورته غږ کړو چيِ " په اس سور ځلميه ! د خدائي د پاره يو نيک کار خو اوکړه الله به درله ډير ثواب در کړی ـ دلته زما خوا کيِ د توت يو څو پخيِ دا نيِ راغورزيدليِ دی ـ دا اوچتيِ کړه او زما خوليِ کيِ ئيِ واچوه "

ځلميِ د اس نه کوز شو، زړه کيِ ئيِ سوچ اوکړو چيِ دا غريب به بيمار وی ـ دومره قدرته کار خو څه خبره هډو نه ده ـ د توت دانيِ اوچتولو د پاره په تيتيدو شو چيِ خوا کيِ ملاست يو بل سړی پريِ آواز اوکړو" نه ځلميه دا کار ورله او نه کړيِ

ځلمی ترِ تپوس اوکړو" وليِ ؟ "

نو هغه بل سړی ورته جواب ورکړو" دا ډير ناراست سړیِ ديِ ـ اوس لږ ساعت مخکيِ يو سپيِ زما خوا له راغيِ، لته ئيِ اوچته کړه او زما تول مخ ئيِ لوند کړو ـ



Pukhto.Net

# د چرګ ښِ

**نن** مي نیت دے چه تاسو له د یو مزیدار" ډ ښ" په پخولو لکچر درکړم ـ د اَخلی پخلی په خبرو ډیر وخت ضا ئبع کول نه دی پکار ـ په لنډو به ئې درته اوائېم چې نن به مونږ روغ چرګ پخوؤ۔

اول به یو چرګ راونیسی ـ د بازار دَ چرګانو اعتبار نشته چې بیمار وی که روغ ـ لږ په خپل چم ګاونډ کې ښه تحقیق اوکړئي او د صحت مند چرګ درک اولږوئي ـ دا د ټولو نه لوېه او ضروری خبره ده ـ بیا ئي د نیولو چل کوئي ځکه چه چرګ نیول د منزری نیو لو نه هم ګران کار دې ـ که تاسو چرته د منزرې نیولو کوشش کړې وي نو به درته پته وی ـ یا به ئې ته اونیسې یا به هغه تا اوخری ـ که ته ژوندې او روغ ګرځې نو مطلب



Pukhto.Net

دا دې چې تا سو لا تر اوسه د دې کار اراده هډو نه ده کړې ـ منزرې نه نيولې نو چرګ نيولې ـ يوه خبره ده ـ دومره ده چې منزرے په نيولو داسې نه تغيرېږي او نه زوګ کوی لکه چه چرګ تولـه دنيا خبره وی ـ بس دومره خيال ساتی چې د چرګ خاوند دربانډې خبر نشی کنې د هغه مبلمستيا به وچ په وچه ستاسو په سر شی ـ چم ګاوند خپل دې نو د چم تول چرګان خپل دی ـ پردے چرګ چې څومره خوږ وی بازاری چرګ کې هغه مزه نه وی ـ هسې خو د چم ګاوند تول چرګان خپل وی ـ پردې ئې مه ګڼړئ ـ د پردی چم ګاوند چرګ پردې وی ـ که په پردی چم کې د چرګ په نيوؤ تاسو اونيولی شوئې نو د هغې چم خلک به ستا نه چرګ جور کړی ـ

د ډيرې مودې خبره ده زۀ به د اتؤ کالو وم، د ګرمو ورځې وې مونږ درې دوستانو حجره کې لوبې کولې ـ هغه وخت حجره خوشې وه ـ خدائی خبر يو غټ با نګی د چرته نه را غې ـ زمونږ ورته نيت بد شو خو ګرانه دا پيدا شوه چې پخيرږی به څنګه ـ زمونږ يو



Pukhto.Net

ملګرے غریب غوندے وۀ ـ کور کې ئې یوازے مور وه، نور ئې څوک نه وۀ ـ هغه غاړه کښنوده چې زما مور به ئې پوخ کړی ـ بس بیا څه وۀ ـ چرګ مو اونیولو۔ هغه د څادر لاندے پټ کړو ـ مکوخه ئې ورله جوخته اونیوله او کورته ئې یوړو ـ مازیګری پورے چرګ پوخ وه ـ ورکره لاړو او ډېر په مزه مو اوخوړ ـ یقین اوکړئ چې داسې مزیدار چرګ مونږ چرې نه وه خوړلې ـ ماښام چه کور ته راغلم نو مور راته اوې ـ "هلکه ورشه بهر اوګوره هغه با نګی تر اوسه کور ته را نغې" ـ "کوم با نګی؟"

" زمونږ هغه سور غټ با نګی" ـ کوڅې ته هسې لړ او وتم بیا د ننه راغلم ـ " با نګی نشته "

" نشته نو څه شو؟"

" ګیدړو به خوړلې وی"

" ګیدړ د ورځې د کومې راغلل ـ کلې خو د سپو نه ډک



Pukhto.Net

دي

"نو سپو به خوړلې وی"

" دومره بند یا ن ګرځی چا خو به دغه سپی لیدلی وی کنه"

" څه خبر بندیانو خوړلې وی" ـ په زړه کې مې وې مور راله د چرګ ټول خوند بې خونده کړو ـ خیا ل ساتئ چې تاسو دا غلطی او نه کړئ ـ

مونږ به د آخلی پخلی په خبرو خبرې کوؤ ـ دچرګ نیوو په چل به بیا چرته ګپ اولګوؤ ـ نو تاسو د درویش صیب چرګ اونیولو ـ ډیر مو ښه اوکړل ـ دې چرګ د هغه ټول غولی نه آرټ ګیلری جوړه کړې وه ـ ښه شوه چې خلاص شو ترې ـ د هغه ورته پخپله د ډېرې مودې نه زړه وۀ خو هغه خپل کور پخولې نشو کنې د هغه بالښت او تولائي به په کوټه کې وۀ او شپه به ئې په جمات کې ـ ښه شوه چې تاسو د جمات د شپې نه بچ



Pukhto.Net

کړواو په خپل کټ ئې لړ په ارام شپه تېره کړه

خلک په چرګ غریب پسې چوړکې راواخلی ـ که تپوس ترې اوکړئ چې دا ولې نو جواب به درکړی "حلا لؤو ئې کنه " ـ داسې ظالمان دی بې ګناه چرګ به وژنی ـ

چرګ خو خدائې یو ځل حلال کړې دې نو بیا ئې حلا لولو ته څه حاجت دې ـ خدائےپخپله وائي " اے مسلمانانو ما تاسو له چرګ حلال کړې دې ـ خورئې او مزې کوئې " ـ خو د نن د مسلمان عقیده دومره کمزورې ده چې په خپل لاس ئې ډیر یقین دې ـ او د خدائې په وېنا ئې نشته

دوه کاره خو اوشول ـ چرګ اونیولې شو، او راوړې شو ـ اوس کتوئ پکار ده ـ کتوئ دومره لویه پکار ده چې دا چرګ پکې سره د وزرو او پښو ټول راشی ـ په وزرو کې چې کوم وټامن دي هغه د چرګ په غوښې کې نه وي ـ د وزرو یخني چینیان ډیر په شوق سکي ـ ځکه د هغوئې ساړه نه کیږي ـ او د چرګ د پښو



Pukhto.Net

خو هغوئې لیونې دي - که زما په خبره یقین نه کوئ نو بې شکه مه کوئ پخپله د هانګ کانګ بازار ته لاړ سیل له ورشئ نو په ربړو به اووینئ چې مارانو، چیندخو او چرمخکو سره پرتې وې او ښائسته ځلمې او ښکلې ښکلې سپینې جینکۍ ئې په مزه مزه خُرې - ستاسو کور که دومره غټه کټوئ نه وی نو د منګی غړئ ماته کړئ چرګ به پکې راشی - که تاسو پخول په ګیس باندې کوې او ځان د ګیس د لوډ شیډنګ نه بچ کول غواړئ نو خبر دې ، داسې به اوکړئ چې ګیس والا له به دعوت ورکړئ چې نن ستاسو کره چرګ پخیږی - او دا ورته هم اوائې چې ګېس کې ډیر زور نشته ، نو چې راځې، په لارې د تنورنه یو لس پنځلس ډوډئ را اونیسه - ځکه چې دا ګېس والا د بهر سړې دې - ډیر ساعت له ئې کور کښېنول نه دی ښه، هسې نه چې خپل کور ئې وګنړی او نیت ئې شپې ته د پاتې کېدو شی -



Pukhto.Net

مونږ په ډیر لږ ساعت کې بلا کارونه اوکړل ـ تاسو به ډیر وړی شوی ئي ـ مونږ به خپل کار جاری ساتو چې زر تر زره چرګ تیار شی ـ ډوډۍ به تیاره راشی ـ خوړل ئې زر پکار دی د پخلی اصل سامان لا پاتې دې ـ چمچې او کاشوغې ـ کاشوغې به پریږدو په چمچو ډیر ښه کار چلیږی ـ د اَخلی پَخلی د پاره د چمچو نه بغیر بله څه وسیله نشته ـ اصل کې دا د پښتو ټکي دې ـ مونږ ورته څمڅۍ وائیو ـ اردو با ن 'خ' نشی وئیلې او نه 'ۍ' ـ هسې هم څمڅۍ لږ پوست ټکي دې او هغه دوئیم مطلب ترنه، نه وځی کوم چې د چمچو مطلب وی ـ نو مونږ به ورته، څمڅۍ نه، چمچه وائیوـ په پښتو کې دومره بد هم نه ښکاری ـ

که پخلی د پاره کورکې څه وی او که نه وی ، چمچې خو به ضرور وی ـ د خوړلو سکلو نه بغیر خو ګذاره کیدې شی ـ روژه به اونیسې خو د چمچو نه بغیر



Pukhto.Net

ګذاره نه کیږی؟ - د چمچو روژه په یو پیغمبر هم نه ده راغلې - هسې کاشوغه یا ځمسۍ هم هغه شې دې خوهغه نیک او ښکلی خصوصیات پکې نشته کوم چې په دې درے تکو " چ م چ" کې دی - دا ډیر برکتی تکی دی - د دے په برکت ډیر غټ غټ خلک، تر دې چه غټ غټ بادشاهان د برے نه ښکته شوی دی - لکه چې دفتر کې افسران، او د وطن حاکمان د چمچو نه بغیر ژوند نشی تیرولې نو پښتو ژبه د دې تکې نه بغیر ځنګه ترقی کولې شی - او د پښتنو اخلې پخلې به د چمچو نه بغیر داسې وی لکه چه پخوانی پخوانی وختونوکې به خلکو ښکار کولو خو پروتین به ئې ورله په پخولو نه ضا ئیع کول - اوس پخلی زمونږ ژوند په ډیر ګرانو کې اچولې دې او د خلې خوند ئې راله بدو بدی بدل کړې دې نو چمچې ورسره هم داسې جوختې شوی دی چې په پخلی کې چمچې نه وی نو هغه پخلې څه پخلې خو نه شو



Pukhto.Net

چمچې ډیرې زیاتې نه دی پکار یو څو درزنه ډیرې دی ـ یو شپږ اته چمچې د مالګې د پاره ـ مالګه ډیره خوړل د بلډ پریشر د پاره ډېره ښه وی ـ دغه شا ن یو څو چمچې د مرچکی د پاره، هوښیاران وائي چې مرچکې د ګیډې د ټولو بیمارو د پاره تریاق دې ـ ریسرچ داسې هم وائي چې د کینسر وائرس ته چې مرچکې ورسی نو هغه سمد ستی په ځان وژلو شي ـ زما خپله تجربه هم داسې ده ـ چې کله ډېر مرچکې اوخرم نو په ښخو اوبو کې مې ډوبېدو ته زړه کیږی مرچکې چې څومره تریخ وی نو زیات فائده مند وی ـ د میده کړی مرچکی نه سیوا یو لس اته دانې د شنه مرچکې پکې هم واچوئ ـ یو څو چمچې د کورکمن د پاره، کور کمن ډیر خوړل ښه دی ، د ډیرو بیمارو سرکاری علاج په کې پټ دې ـ د ښځو د پاره خو ډیر ښه شي دې ـ وائي په دے رنګ سپینیږی ـ ځکه پنجاب کې د کورکمن لیټي د واده نه مخکې د ناوې



Pukhto.Net

په مخ، لاس او پښو ومږي چې د دغرمو هغه تور لوړي ترنه وځي او ناوې يو شپې له د سپوږمۍ يخ سپين رنګ واخلي - يو څو چمچې ګرمې مسالو له هم پکار دی - ګرمه مصاله هم ډير ښه شې دې - چې څومره ګرمه وی، اثر ئې هومره يخ وی -

دا ټولې چمچې د چرګ سره په کټوئې کې واچوئ که چرګ ئې په پښو تيل وهی او د کړ کړ آواز راځی نو دا د اخلی پخلی موسيقي ده - د پخلي سره سره ورته سر څنډول ډير خوند کوي - پياز، ادرک، اوږه او ټماټر چې درنه هېر نشی - او يو جام غوړی د چرګ په سر په ورو ورو اچوئ چې غوړ وي - سپوربډو ته ئې مه پرېږدئ - د ټولو نه اخرکې چرګ ته د غنمو لړې دانې هم واچوئې چې پرې مشغول وی- او د کټوئ نه د تېښتې خيا ل ئې زړه کې رانشی - ټول چلونه مي درته په اسانه ژبه کی اوخو وَل - کټوئ به پخيږی او زهٔ به لړ کور ته په



Pukhto.Net

منډه ورشم ـ وړې شوې بم ـ نوکر به دال پوخ کړې وی ـ ډوډۍ خوَړو نه پس به چکر او لګوم که تاسو کتوئ ښتلې وي نو زهٔ به پوهه شم چې تاسو زما لکچر ډیر په غور او توجه اوریدلې دې او عمل به وربانديې کوئ ـ په مخه مو ښه ـ

******

## د احسان بدله

د سحر د بانګ ډیوټی الله پاک چرګ له ورکړې وه ـ څکه به ورته خلکو بانګي وې ـ خو د بدې ورځې چې د کله نه لاوَډ سپیکر ایجاد شو نو مُلانو بانګي غریب په ځوانئ کې ریټائر کړو ـ انسان د هغه د زرګاوُ کالو د بانګ د خدمت په بدله کې ورپسې چاړه راخستې ده ـ



Pukhto.Net

# خدایٔ شته

دَ خدائي ډیر شکر دې چې هغه خپله یوه ډیوټي هم ما ته نه ده راکړې کنې زه به پخوا چرته د هندوکُش په ځنګلو کې پټ شوې وَم ـ هسې دَ نن سبا سیاستدانانو او پیرانو د خدائي بلا کارونه په خپل سر اخستی دي ـ خو خدائي ترنه بیا هم په ارام شوې نه دې ـ

سیاست دان خو خوشې خلق دې ـ خپل الیکشن پخپله نشی ګټلې نو د بل چا کارونه به څنګه وکړی ـ د الیکشن د پاره تقریرونه کوی ـ په پنډونو دروغ وائي په پیسو ووټونه اخلی او بیا وائي که خدائي ئې وکړی نو به وګټم ـ هلکه چې دا ذ مه واری هغه ته سپارې نو کور په قلاره کښینه ـ د هغه دا مخلوق دې ولې په آزار کړې دې ـ هغه



Pukhto.Net

پوهه شه او ستا اليکشن ـ خو په خدائې ئې يقين هم نشته کنه يريګی ـ هسې نه چې دهوکه شو ـ او ټول ووټونه د مخالف اُميدوار په صندوقړی کې واچوی ـ دا د بې ايماني دا کسب ئې هم د خدائې په غاړه کړې دې ـ

دې خلقو خدائې په داسې وړو وړو کارونو اخته کړې دې چې ټول لوئې کارونه ترنه پاتې شی ـ يو سړې وائی پښو مې ورکه شوې ده خو خير دې خدائې شته هغه به ئې وَلټوی او کور ته به ئې راله را ولی ـ بل يو کس کره ځوړې د هغه د ګټر په صفائې لګيا وه ـ يو وګود بانس ئې پکې اچولې وه ـ غړپه غړوپه ئې جوړه کړې وه خو بانس وه چې يو ځپک نه وړاندې کيدو ـ د کور خاوند ته ئې ګله وکړه چې ماته داسې ښکاری لکه چې برستن مو په دې ګټر کې منډ لې وی ـ بانس هډو مخکې خوزی نه ـ د کور خاوند ورته او وئيل ـ مړه ولې زړه کچه کوې ـ لګيا اوسه ـ خدائې شته ـ هغه به ئې کولاؤ کی کنه ـ



Pukhto.Net

اوس تاسو پخپله انصاف اوکړئ ـ دا سراسر ظلم اوکفرنه دې - چې د الله باره کې داسې فقرې وائي ـ هغه خلقوله نه پشوګان لټوی او نه ورله ګټرې صفاکوی ـ د ټول جهان نظام د هغه په لاس کې دې دا واړه واړه کارونه زمونږ فرض دی ـ مونږ له پکار دې خپله ژبه سمه کړو او د هغه نوم په عزت او مهذب طریقه اخلو ـ

اکرم او مکرم دواړه رونړه ډاکوان دی ـ د ډاکې په نیت روانېدو نه مخکې ئې اودس اوکړو ـ بیا ئې دوه رکعته نفل مونز اوکړو او خدائې ته ئې زاری وکړه چې مونږ خو ستا غریب مسکین او بیګناه بندیان یو او په کوم مشن روان یو د هغې کامیابی ستا لاس کې ده ـ مونږ په خیر خیریت روغ جوړ سره د غټ مال واپس راوله ـ بیا ئې اصلحه ډکه کړه او د ګولو پټې ئې د ملا نه چاپیره وتړلې ـ جیپ ته اوختل او روانشول ـ

په کوم کور چې ډاکه وه د هغو غریبانو بد حال شو -



Pukhto.Net

خدائې ته په ژړا زارو شو ـ چې د دې ظالمانو نه مو په امان وساتې ـ زمونږ مال دولت هم په خپل حفاظت کې اوساتې ـ مونږ چرې په چا باندې ظلم زياتې نه دې کړې ـ په ډيره خوارئ مو د رشوت د پيسو نه پيسه پيسه د لونړو د واده د پاره جمع کړې ده که دا ظالمان ئې رانه اوسي نو مونږ به تش لاس په ډاګه پاتې شو ـ خدايه اوس به ته زمونږ حفاظت کوې ـ

چې داسې سيچويشن پيدا شي نو په خدائې مې ډير ترس راشی ـ ډير مې ورباندې زړه خُوږ شی ـ خو څه کولې شم ـ زه خو يو کمزورې انسان يم او هغه لوئې طاقتور خدائې دې ـ د هغه خوښه ده چې د چا ډډه اخلی هغه په خپل کارونو ښه پوهيږی ـ

د پيرانو پير هم دې ـ دې پيرانو کې د اصلي او جعلی فرق که خدائې پخپله کولې شی نو وی به ـ ما ته خو ټول اصلي ځکه ښکاری چې قران او حديث ورباندې څه بحث



Pukhto.Net

نه دي کړي ـ هسې خو د مُلا هم چرته ذکر نشته ـ دا معامله د خدائي او د دوئي تر مينځ ده ـ مونږ خو ئي په هر کلی کوڅه او بازار کي ناست وينونو د پيرانو وجود نه انکار نه شو کولي ـ او د ا هم ډير لوئي نيک کار دې چي د خدائي بلا واړه ماړه کارونه ئي په خپل سر اخستي دی ـ خلق ورله په شخړو راځی او مُرادونه ئي سر ته رسی ـ خو خدائي ئي بيا هم په آرام نه دې پريښي ـ سائل ته وائي خدائي به درله مرادونه پوره کړی ـ د پير صيب نه پوښتنه پکار ده چي د سائل د مراد پوره کولو ټول بوج په خدائي وروئي نو ته د څه فيس اخلي ؟ ـ زما په خيال دوئی د فيس حقدار دی ـ

وکيل هم د حکومت په عدالت کي د خپل دروغو په سر فيس اخلی ـ پير صيب خو د خدائي په لوئي عدالت کي د سوالی فرياد رسوی ـ

د پيرانو ژوند ته مي لږ غور اوکړو ـ نو په مزو ئي



Pukhto.Net

سر دي ـ ما په سبقونو عمر تېر کړو ـ امتحانونو رابانديې شپې ورځ کړې وې ـ اوس پردو نوکرو کې مو شپ ورځ يو کړې دی ـ بيا هم رانه د کور او بهر هر څوک نا خوشاله دي ـ که لږه پيری مې کړې وې نو بده به نه وه ـ خو د شروع کولو چل نه راتلو ـ نو يو ډير بې ايمانه او چالاکه اشنا مې وه ـ نور کله به مې ترنه ځان لرې ساتلو خو دې کار د پاره راته ډير د کار سړې ښکاره شو ـ خدائې هيڅوک بې مطلبه نه دې بيدا کړې ـ هغه ته مې د چائيو ميلمستيا ورکړه ـ جواب ئې راکړو که د چائې سره پيکوړې، شامی کباب، فرنچ فرائز او ولائتی کيچ اپ وی نو ستا ميلمه يم ـ کنې ستا دا ميلمستيا راته بې مطلبه نه ښکاری ـ تا مخکې زه چرې ميلمه کړې نه يم ـ ما ورته اووئيل هر څه به وی ـ ته را خو شه ـ او خپله اراده مې ورته ظاهره کړه ـ نو جواب کې ئې راته او وئيل ـ پرګرام بد نه دې ـ ته د شکله هم لږ لږ پير ښکارې ـ په



Pukhto.Net

خبرو لږ کمزورې ئې خوخیر دې ۔ تجربه به درته د خبرو چل اوښائي ۔ نیک کار دې او په دې نیک کار کې به درسره زه نیم په نیمه شریک یم ۔ چې کوم فیس راځي ۔ نیم ستا او نیم زما ۔ حاجتمند به درله زه رالیږم ۔ په سبا له یوه جوړه راغله ۔ نوکر په ور کې ودرول او په خبرو شو ورسره ۔ لږ ساعت پس دننه راغې او راته ئې او وئیل ۔ ځوک ښځه او نارینه دی وائي پیر صیب لیدو له راغلی یو ۔ ما ورته او وې ۔ دا کور پریږده، په دې ټوله علاقه کې ځوک پیر نشته ۔ بهر ولاړ دی، نه ځی ۔ ما نوکر وزورلو چې د ځانه چا له ولې جواب ورکوې ۔ ورشه را ئې وله او په ډرائنګ روم کې ئې کښینوه ۔

د هغو د راتلو نه مخکې زه په ډرائنګ روم کې په صوفه ناست وم او د ځان نه مې ګرم شال چاپیره کړې وه ۔ دننه په راتلو سره هغه ځلمې په نیمه منډه زما مخې ته راغې او ډیر په عقیدت ټیټ شو ۔ ما ورته په ناستې



Pukhto.Net

ناستې يو لاس مخې ته کړو ـ نو هغه په خپل دواړو لاسو کې زما لاس واخستو او څلور پنځه ځله ئې بښکل کړو ـ ما ورته د ناستې اشاره وکړه نو دواړه ښځه خاوند زما مخې ته په فرش کښيناستل ـ لږ ساعت د پاره خاموشي وه ـ بيا ترنه ما تپوس اوکړو ـ وائيې بچو! ستاسو څه زاری ده ـ نو هغه ځلمی او وئيل ـ زمونږ د واده آته کاله اوشول ـ اوس راباندې خدائې مهربانه شوې دې ـ مازيګر ته به تېر هسپتال کې داخلوم ـ ډاکټر ووئيل چې نن شپه به ډيره درنه وی ـ ستاسو دعا له راغلی يو چې خدائې هر څه په خير سر ته ورسوی ـ او بله د خدائې نه زمونږ د پاره دا دعا وغواړی چې ځوې راکړی ـ

په دغه ساعت خپل زړه زه ملامته کړم چې دا څه منافقت دِ شروع کړو ـ ـ نه سمه کلمه درځی نه مونز او نه دعا غوښتو په چل پوهيږې او د ځانه دې د وچې پير جوړ کړو ـ دا ساده بنديا ن چې درته مخې ته ناست دی نو دوئې سره څه اوکړم ـ زړه مې کلک کړو او ورته مې او وې: الله



Pukhto.Net

پاک ستاسو زاری واؤریدله ـ اوس کور ته ځئ ـ پاسیدلم او دننه خپلې کمرې ته لاړم اوپه بشتره پریوتم ـ په سوچ شوم چې دا مې څه وکړل ـ توبې مې ویستې چې نه مې پیری پکار ده او نه رانه دا لوبې کیدې شی ـ لکه د بچه سقه، د یو ورځ دا پیری ډیره وه ـ

چې بنه سم هوش کې او نارمل شوم نو ځان سره په خبرو شوم ـ چې زما د یوې ورځې د دعا ګانو فیس پکی هسې لاړ ـ بیا مې او وې ـ ځدا ئ شته ـ معاف به مې کړی ـ

دې توليې لوبې زه دومره ډسټرب او ستړې کړم چې خیټې راته ګله شروع کړه ـ په سوچه غوړو کې سور کړی چرګ ته مې ډیر زړه لیوال شو ـ او هسې په خندا مې د ځان سره او وې ـ چې خدایه نن مې درله دومره کار اوکړو ـ پیرانو له دومره څه ورکوې په ما دې یو چرګ هم سود نه دې !ـ خبر دې زما د یوې ورځې پیری



Pukhto.Net

په خیرات کې لاړه - په دې کرولو رېبلو لګیا وم چې په ځان نه یم پوهېدلې، کله مې سترګې پټې شوې دی او اُوده شوې یم - سحر د چرګ په تغار راویخ شوم - نوکر راته په غېږ کې یو غټ، سُور بانګی نیولې وه - او راته ئې او وئېل چې دا ستاسو د پرونی مُریدانو د کوره راغلې دې او دا پیغام ئې وئېلو چې خدائې هغو له یو ښائسته، او صحت مند ځوې ورکړو - ما زړه کې او وې - خدائې ډېر لوئې بادشاه دې - هغه په ورکړه نه سترې کېږی - غواړه، درکوی به - ما ترنه چرګ غوښتې وه نو ښه غټ بانګی را ولېږلو -

*****



Pukhto.Net

# ریسرچ ګرانټ

هر نوې تحقیق اول د ګپ نه شروع کیږی اوکه یو سکالر په شوروا کې په اډوکې باندې د غوښې پُوټې بیا مومې نو ریسرچ ورباندې شروع کړی - اول هغه د یو غټ ریسرچ ګرانټ د پاره درخواست ورکړی - چې ګرانټ منظور شی نو د ریسرچ درزه دروزه شروع شی - نوې دفتر، نوې سټاف او نوې کمپیوټرې راشی - وډیو جوړَولو والا راپیدا شی - د سفر د پاره د جهاز ټکټونه او هوټلو کې کمرې بُک شی - ټي وي والا هم را ورسی - ته به وائې جوړ د خان د څلورو ودونو نه پس ورومبې واده دې -



Pukhto.Net

د کیلیفورنیا پوهنتون په کیفی ټیریا کې د امریکي سکالر پروفیسر هیګ، د درویش سره ګپ شپ :

پروفیسر هیګ : دا پښتون څوک دې ؟

درویش : پښتون پښتون دې، نور څوک دې

پروفیسر هیګ: زما مطلب د پښتون دې

درویش : ما درله هم د دغې مطلب جواب درکړو

پروفیسر هیګ: ما لا تر اوسه پښتون نه دې لیدلې

درویش : دروغ ولې وائې ـ ستا مخې ته ناست یم

پروفیسر هیګ: ته پښتون ئې ؟ ما وې ګنې پښتون به ........ ته خو ..........

درویش : ولې ما له څه چل دې؟

پروفیسر هیګ : زما دا مطلب نه وه ـ زما خیال وه د زوړ وخت د ننداړتلو پشان به شاړ شبړ او د ګیدړ د څرمن لنګوټې به ئې اچولې وې ته خو ښه سم زمونږ پشان بنیادم ئې "ـ هغه لږ کچه غوندې شو ـ



Pukhto.Net

درويش : زه سم بنيادم يم، ستا پشان خر نه يم ـ

پروفيسر هيګ : هاؤ ته ښه وائې ـ مونږ امريکيان خو واقعی چې خره يو ـ هغه د درويش د خبرې تصديق وکړو

درويش : ته د څه پروفيسر ئې ؟

پروفيسر هيګ : دَ آرکيالوجي ـ

درويش : پوهه شوم ـ هغه چې قبرونه کنی او د مړو اډوکي ترې را اوباسي ـ او د ماتو ټيکرو نه په برش په دومره پسته پسته خاؤرې څنډئ لکه چې د معشوق ميک اپ کوی ـ څکه درته پښتون د زړې زمانې مړې ښکاری

پروفيسر هيګ : په پښتون باندې مې يو ريسرچ پيپر ليکلو ته نيت دې ـ ښه شوه ستا سره مې ملاقات وشو ـ ستا نه به ماته بلا معلومات ملاؤ شی او دا معلومات به درست او authentic وی ـ په دې معامله کې په تا مکمل يقين کولې شم ـ

درويش : قسمت د ښه دې ـ سبا که خير وي دلته د کيفي



Pukhto.Net

ټيريا په يو خوشي ګوټ کې به کښېنو د مشرانو نه چې مې اوريدلی دی هغه ټوله کيسه به درته بيان کړم او څه به درته د خپلې ډډې پکې واچؤم ـ ستا ريسرچ به برابر شي او داسې نوي نوي معلومات به درته پکې واچوم چې نه به چا لوستي وي، نه به ئې اوريدلي وي ـ پښتون به ترنه پخپله هم خبر نه وي ـ او زه ترنه هم تر اوسه خبر نه يم ـ او هغه د سبا په طمع خوشاله خوشاله لاړو ـ

په کيفي ټيريا کې د ملاقات په دويمه ورځ :

پروفيسر هيګ: درويش صيب! نن د غرمې ډوډۍ او کافي په ما ده ـ

درويش : د دې تکلف څه حاجت خو نه وه ـ څه خير دې ستا د زړه د پاره مې ستا ميلمستيا قبول ده ـ خوراک به هم کوؤ او خبرې هم ـ کافي خو سړي له

اوده مازغه ويخ کړی ـ

پروفيسر هيګ : په دې مې لږ پوهه کړه چې دا پښتون د



Pukhto.Net

کومې راغلې دي ؟

درویش : بره د پامیر او هندوکُش غرونو نه ـ نور به د چرته نه راتلو ـ

پروفیسر هیګ: دغې غرونو ته د چرته نه راغلې وه؟

درویش : د نور برې نه ـ

پروفیسر هیګ : ستا مطلب دې د همالیه د څوکې نه راغلې دي ـ

درویش : که ته پښتون وې نو مطلب ته به رسیدلې وې ـ د همالیه څوکه دَ استوګړې ځائې خو نه دې ـ هلته خو ټول عمر د واؤرو طوفانونه وی ـ د بَره مطلب آسمان دې ـ

پروفیسر هیګ : اسمان ! د اسمان نه ځنګه را کوز شوې دې؟

درویش : په هیلی کاپټر کې ـ نور څنګه ـ

پروفیسر هیګ : په هیلی کاپټر کې ! دا ته څه وائې؟

درویش : تاسو پکې د واشنګټن نه د تورې بورې په غرونو کوځیدې شئ نو ولې پښتون پکې د اسمانه نشی راکُوځیدې ـ



Pukhto.Net

پروفیسر هیګ : او مې منله ـ مخکې ـ

درویش : مخکې ولې؟ ـ مونږ خو په شا روان یو ـ

پروفیسر هیګ : په شا دې وی ـ بیا ؟

درویش : وائي چې وَه اسمانه دی، خبر نه یم چې په کوم یو کې خو په یو کې جنت دې ـ په دغه جنت کې یوه ډیره لویه ریسرچ لیبارټری ده ـ زمونږ د پوهنتون د دې نه ډیره زیاته لویه ده ـ پښتون هلته پیدا شوې دې .........

پروفیسر هیګ : ولې غلې شوې ـ

درویش : کیسه خلاصه شوه کنه ـ

پروفیسر هیګ : پښتون جنت ولې پریښود او زمکې ته راغې؟

درویش : د ابلیس او خدائې په خپلو کې څه خپکان راغلې وه ـ نو ابلیس د پښتون نه حَسد کولو خو په ښکاره ئې ورسره اشنائي جوړه کړې وه ـ یوه ورځ ئې پښتون ته اوې، راځه چې په خپل پرائیویټ هیلی کاپټر کې دې د زمکې سیل له بوځم ـ

پروفیسر هیګ : په جنت کې د ابلیس څښنه هیلی کاپټر د



Pukhto.Net

کومې راغې؟

درويش : ستاسو دا سې آئې اې په داسې کارونوښه پوهيږې - په پټه ئې ورله ورکړې وه کنه - که چرې خبره د جنت نه تيښتې له راغله نو چې خپله سورلى خو ورسره وي -

پروفيسر هيګ : ښه ! دا مې ستا نه واؤريده -

درويش : نو د يَخو واؤرو ډک د پامير په څوکه ئې کوز کړو - ورته ئې اووئيل ته دلته لږ ايسار شه چې دُرخانئ درله راولم - هلته ئې په دې ټکئ يوازې پريښود او واپس پسې را نغې - تمتِ بالخير -

پروفيسر هيګ : مطلب دې کيسه ختم !

درويش : کيسه ختم او ستا ريسرچ شروع -

پروفيسر هيګ : مزه ئې اوکړه - د نيشنل جيوګرافيک نه به راته ښه سم ګرانټ منظور شى -

درويش : نو بيا ؟

پروفيسر هيګ : بيا څه - تيارې کوه - دواړه ياران به افغانستان ته ځو - په کابل او پيښور کې به په فائيو سټار



Pukhto.Net

هوټل کې زما میلمه ئې ـ بَره په غرونو به کیمپ لړؤ ـ سائنټ به ښبه کؤو، کنسته به شروع کیږی ـ او د فلم شوټنګ به کیږی ـ

درویش : دا خو ټول ستا کار دې ـ زه خو آرکیالوجسټ نه یم ـ زه به سیلونه کوم ـ یو ښه موټر او ښه تکړه ډرائیور راله کرایه کړه ـ د پیښور نه به مردان ته لاړ شم ـ د ډاکټر همایون هما او قمر راهی صیب سره به ملاقات وکړم ـ هلته نه به کلی ته چکر ولږوم ـ بیا به د ورور ملاقات له اسلام آباد ته ورښکاره شم ـ

پروفیسر هیګ : لاس راکړه ـ په دې فیصله ده ـ

او دواړه جدا شول او خپلو خپلو کورونو ته لاړل ـ

میاشت پس پروفیسر هیګ ډیر د خوشالی خبر راوړ چې پروجیکټ منظور شو ـ او په راتلونکی اتوار به سمه غټه مزیداره پارټی وی ـ

****



Pukhto.Net

# ورکړه خيرات، سخی له

خپل نوم ئې عبدالرشيد وۀ خو مونږ به ورته ګاندهي وې ـ دې نه زۀ خبر نه ؤم چې دا نوم ورله چا او کله ايښودې وه خو په سکول کې به ورته ټولو ګاندهي وې ـ قد ئې د نورو هلکانو نه لږ ورکوټې وه خو د خبرو ډير تيز وه ـ د کور مالي حالت به ئې دومره ښه نه وه نو د لسم نه پس د کنډا والا په شو روم کې نوکر شو ـ او زمونږ د کلاس نور هلکان په جدا جدا کالجونو کې داخل شول ـ او کله نا کله به يو ځو تنه را غونډ شول او د ګاندهي ملاقات له او کباب خوړو له، لارنس روډ د کبابچيانو اډې ته لاړو ـ دا د 1957 خبره ده ـ لا د ايوب خان مارشل لا نه وۀ راغلې ـ زۀ به هغه وخت د څوارلس کالو وم د لاهور په مال روډ دکنډا والا د



Pukhto.Net

موټرو ډیر لوئ شو روم وۀ ـ مخه ئې په مال روډ وه او شاته دروازۀ ئې په لارنس روډ د چرچ مخې ته وه ـ او دغلته به په زمکه ناست کبابچیانو خپل تبخي د سروَټکو په انګیټو ایخي وۀ او د کبابو ټیکی به ئې وربانديِ تللې

مونږ دوه دريِ دوستان چي به د ګاندهي لیدو له لاړو نو هغه به د شو روم په شاته دروازه بهر راغې کباب به هم خوړل او ګپ شپ به هم پکې چلیدو ـ ټول کبابچیان راسره بلد شوي وۀ ـ

د کبابچیانو او د شوروم شاته دروازيِ تر مینځ د خښتو دريِ فټه اوچت دیوال وه او بیا په هغه دیوال د سرئې یو فټ جنګله وه ـ وه ـ هغو به دغلته خیرات نه غوښتو ـ دغه ئې د ناستې ډیره وه او غوښتو له به اخوا دیخوا تلل

مونږ به په ولاړيِ ولاړيِ ګرم ګرم کباب هم خوړل او ګپ به مو هم لږوۀ ـ بیا په رو رو زمونږ ګپ کي کبابچیان هم شامل شول او د فقیرانو سره مو هم اشنائي



Pukhto.Net

جوړه شوه ـ او هغوئي هم زمونږ د ګپ د سرکل ملګري شول ـ بيا که به ګاندهي وزګار نه وه يا بهر راوتو له به ئې داؤ او نه لړيد نو مونږ به د کبابچيانو او فقيرانو سره ګپ اولړوؤ او خپل خپل کالج، هاسټل يا کور ته به واپس شو ـ يوه ورځ مو کباب وخوړل ـ چې پيسې مې ورکولې نو کبابچي راته ووې پيسې رارسيدلي دي ـ تپوس مې ترې وکړو چا درکړي دي نو جواب ئې راکړو ـ " پنو فقير" ـ

" پنو فقير درکړي دي ؟"

دغې ديوال شاته يو څلورپنځه خيراتيا نو زان له بې چته ډيره جوړه کړې "هاؤ" ـ

" هغه ولې درکړي دي ـ هغه خو غريب زان له سوالي دې !"ـ

ګاندهي ماته سترګه ووهله او ووې چې بلا ګټي ـ

خوا کې ناست پنو هم د ګاندهي د خبرې تائيد اوکړو او



Pukhto.Net

راته ئې او وې ـ" خان جي ! خفه کيږئ مه ـ غريب يم خو دومره غريب هم نه يم ـ د دې کبابچيانو، د ګاندهي او د دې شو روم د بابوګانو نه ، زما ګټه ډيره ده ـ دوئې چې په مياشته کې څومره ګټي، زهٔ ئې په ورځ دوه کې ګټم "ـ

تر ډيرو ورځو په دې سوچ شوم ـ چې ده مخکې خو چرې نه وهٔ وئيلي چې دده دومره ګټه ده ـ يو بابو يا د کنډا والا سيلز مين خو په مياشت کې سل يو نيم سل روپۍ ګټي او پنو فقير وائي چې دې په ورځ دوه کې دومره ګټه کوي ! ـ د پنو فقير خبرو په ما سر وګرځوهٔ ـ

يو څو ورځ پس د ګاندهي ليدو له لاړم ـ نو پنو هلته ولاړ وه ـ خو نن ئې ټول شکل صورت بدل وهٔ ـ ښه ښکلې ايستري کړې سپين قميص او پتلون ئې اچولې وهٔ ـ او تور پالش کړي قيمتي بوټان ئې په پښو وهٔ ـ ښه سپا حجامت ئې کړې وه او ويښته ئې هم سم جوړ وه لکه چې نن ئې لامبلي وي ـ ټوله ګونه ئې بدل وه ـ د هغه په ليدو



Pukhto.Net

زۀ ډير حيران شوم او سمدستي مې ترنه تپوس اوکړو " دا نن درباندې څنګه انقلاب راغې؟"

جواب ئې راکړو ـ " کله کله د خيرنو جامو او خيرن وجود نه تنګ شم نو ولا مبم او پاکې جامې واچوم ـ ما ته پته وۀ چې نن به ته راځې ـ نن به زما ميلمه ئې ډوډۍ به زما سره خورې"ـ زړه کې مې زان سره اووئيل چې يو ځل نيم ده د کبابو پيسې ورکړې نو تر دغې خو خير وه ـ خو د دې خيراتي ميلمه کيدل او ورسره ډوډئې خوړل ! نه دا نشي کيدې ـ نورې به مې د مرۍ نه څنګ تيريږي ؟ که نن ئې پاکې سپينې جامې اچولې دي نو څه ـ دې خو هم هغه سخا فقير چې په شليدلي پوزي باندې ناست وې ـ او په سړکونو ګرځي خير غواړي د ده سره به ډوډۍ ته کښينم ؟ ما ايسته ورته بهانې لټولې ـ چې نن وزګار نه يم بيا به چرته کښينو ـ ګپ به اولړوۀ ـ د ډوډۍ پکې حاجت نشته ـ خو هغه راته ووئيل چې بيا



Pukhto.Net

به بيا كتې شي خو نن زمونږ چودري سره ستا ملاقات دې ـ د كنډاوالا شوروم خوا كې د ولاړې ولاړې اشنائي بله خبره ده ـ د دې نه سيوا د خيراتيانو سره د نزديكت اشنائي مې په هيڅ جوړ خوښه نه وهٔ ـ خو هغه په خپله خبره اړ وهٔ چې لوئ چودري ته ما ستا دومره صفتونه كړي دي او ستاسو سره مې ملاقات ته راضي كړې دې ـ او ډوډئ هم دلته په مال روډ باندې په شيزان كانټيننټل كې ده ـ

دا چودري لا څوک دې او شيزان كانټيننټل ! زهٔ چې به د هاسټل نه د ګاندهي ليډو له راتلم او د شيزان په خوا به تيريدم نو ډير به مې زړه كيدو چې دننه لاړې او د خولې خوند بدلولو د پاره د مزې مزې خوراک مې اوخوړلې ـ خو د كوره به دومره پيسې راتلې چې هغې كې به د هاسټل بې خونده خوراک بِل ايله پوره كيدو ـ اود شيزان په دروازه په سپينه وردئ



Pukhto.Net

کې ولاړ څوکيدار ته به مې په کړه سترګه او کتل او تير به شوم ـ او نن دا پنو، فقير، خيراتي، چې هر وختې په سخا غليظ جامو کې ګرځي او خيرات له ئې هر چا ته لاس غزولې وي، ما له د ميلمستيا دعوت او هغه هم په شيزان کې؟ خداۍ د خير وکړي قيامت جوړ نزدې دې او دا ئې نښانې دي ـ دا نن زۀ عجيبه عجيبه، نوي نوي نومونه ولې اورم ـ يا که په ما هسې ملک ګرځي او زۀ بنديان، خبرې او ځائيونه ګډ وډ کوم ـ

پنو فقير ته مې اوې ـ اول به ګاندهي وينم بيا به ګورو ـ او په مال روډ د شو روم مخې ته لاړم ـ د شيشو نه ګاندهي زۀ وليدلم او سمدستي بهر راغې او په حيرانتيا ئې تپوس اوکړو چې خير خو دې ـ نن د مخې دروازې ته ولې راغلې ـ زۀ خو لږ ساعت له په شاته دروازه درتلو ته ؤم ـ ما ورته زر زر ټوله کيسه اوکړه چې دا نن يو دم داسې انقلاب ولې راغلې دې ـ او اوس زۀ څه



Pukhto.Net

اوکړم ؟

ګاندهي ښه په قلاره او مسکا جواب راکړو ـ " لاړ شه کنه، نن د شيزان کباب اوخره" ـ ما خپله خبره جاري وساتله ـ " دا چودري څوک دې او زما ليدو کې د ده څه دلچسپي ده ـ ما پيژني ويژني نه، او دومره ګران ريستوران کې د ميلمستيا څه مطلب دې ؟"

" مړه لاړ شه، ښه اوخره اوسکه، او يو غټ ډرکې واخله، خبرې ئې واؤره او بيا هاستل ته لاړ شه او اوده شه " ـ هغه په داسې انداز کې ووئيل لکه چې په لارنس روډ کباب او شيزان کې دعوت خوړلو کې څه فرق نه وي ـ " ما له د دې خبرې جواب راکړه چې دا چودري څوک دې؟" ـ ما ترنه لږ په سختئه تپوس اوکړه ـ

" چودري د لاهور هائې کورټ کې يو غټ وکيل دې" ګاندهي راته اوې ـ

" د غټ وکيل زما سره څه کار دې ؟" ما ترنه په دې



Pukhto.Net

جوړ تپوس اوکړو لکه چې ده ته د هر څه پته ده او زما نه ئې پته وي

" ویریږې ولې ـ تا د شیزان نه څوک اغوا کولې خو نشي ـ نه پنو فقیر او نه چودري دا کار کوي هغه ډیر غټ وکیل دې ـ ځلمو له د څه دندې، کاروبار او بزنس صلاح ورکوي"

" تا له ئې هم څه صلاح درکړې ده؟"

" هاؤ "

" بیا؟ "

" بس سمې مې پرې رانغې ـ نوکري نشم پریښودې

" څه د ویرې خبره خو پکې نشته کنه؟ "

" مړه زان ته پښتون وائې او د ویرې دې هسې پښې رپیږي "

زۀ بیرته د کبابچیانو اډې ته راغلم ـ پنو زما په انتظار ولاړ وۀ ـ تپوس ئې رانه اوکړو " ګاندهي دې ولیدلو؟ "ـ



Pukhto.Net

ما ورله جواب ورکړو " هاؤ " ـ

" ځنګه نو څو؟ چودري به په طمع ناست وي"

" څه چې څو "

چې مونږ ریستوران ته ننوتو نو د ائرکندیشن یخ باد راباندې ډیر خوږ ولګیدو ـ بهر ګرمي او دننه یخ ماحول ـ په هغه زمانه کې هر چرته دا مزې نه وې ـ که ډیره به وه نو د بجلۍ پکې به وه ـ او نه به د لوډ شیډنګ برکتونه وۀ ـ او چرته چې په داسې ګران او د اوچتې درجې، په پیسو موړ خلکو د پاره ریستوران وۀ په هغو کې به دا مزې وې ـ داسې یو دوه ځایه په ټول لاهور کې وۀ ـ دا غټې غټې هوټلې چې ترنه نن لاهور ډک دې یو هم نه وه ـ فلیټیز یو ګران او د اعلیٰ درجې هوټل وه ـ نو چې مونږ ریستوران ته ننوتو نو یو د ډې ته په ټیبل یو ځورب بریتو، په تور قیمتي سوټ کې یوازې ناست وۀ ـ پنو ورله نیغ ورغې، ډیر په ادب ئې ورته سر ټیټ کړو، او لاس



Pukhto.Net

ئې ورله ښکل کړل او خپلې سترګې ورباندې کېښودې ـ
په ما دا حرکت ډېر بد ولګېد ـ د ټيبل خوا له لاړم ـ په خله
مې ورته سلام و عليکم اوکړو ـ هغه خپل لاس رامخکې
کړو خو ما ورله لاس ور نه کړو ـ د پنو په حرکت مې
ترنه زړه بد شوې وه ـ د ناستې ئې راته ووې نو مخامخ
ورته په کرسۍ کيناستلم ـ بيره راغې نو ده ورته څه د
ډېرو څيزونو اډر ورکړو ـ او بيا ئې توجه زما پله کړه ”
پنو صيب راته ستا ډېر صفت کړې دې نو زما زړه له
راغله چې د داسې ځلمی سره ملاقات پکار دې ـ ځکه
چې تاسو ځلمی زمونږ مستقبل ئې“ ـ

د ارسطو هغه واقعه مې رايادہ شوه چې چا ورته اوې
چې پلانکی ستا ډېر صفت کولو نو ارسطو په ژړا شو ـ
هغه سړی ورنه تپوس اوکړو چې په خپل صفت ولې په
ژړا شوې ؟ نو ارسطو ورته ووې چې خدای خبر زما نه
کوم د جاهلانو غوندې حرکت شوې دې چې د دغې جاهل



Pukhto.Net

سړی خوښ شوې يم ـ ما زړه کې سوچ اوکړو چې ما خو دې خيراتي له چرې ټکه نه ده ورکړې نو زما کومه د صفت خبره ئې خوښه شوې ده چې چودري ته ئې زما صفت کړې دې ـ

چودري خپله خبره جاري اوساتله ـ " دې پنو ته ګوره ـ تاته به يو غريب خير غوښتونکې ښکاری "

" نور څه دې خو دغه دې نو " ـ ما ورله جواب ورکړو

" نه ! دې يو فنکار دې " ـ

" د څه فنکار دې د خير غوښتو؟ خير غوښتو ته، ته فن وائې "

ما ورله تريخ جواب ورکړو

" ته لا په دې حُقيقت نه پوهيږې ـ ستا سره د ملاقات مقصد هم دا دې چې ستا غوندې خُلمې په دې فن پوهه شي نو د ژوند ډيرې لارې به ورته کولاؤ شي ـ د تعليم په دوران کې او هغې نه پس به دولت تاله پخپله راځي ـ ته



Pukhto.Net

به ورپسې نه ځي ـ نوکرو ته، د پردو غلامی ته به دې حاجت نه وي ـ په خپل کور به بادشاه ئې ـ بل به درله ګټی او تاله به ئې درکوي ـ د پیسې ټکې کمې به چرې نه وینې ـ په مزو به دې سر وې" ـ چودري په دې اوتو بوتو لګیا وه " ما ته اوګوره ـ وکالت او دفتر خو ما زان له د سوشل سټیټس د پاره ساتلي دي ـ سل وکیلان هم زما همره ګټه نشي کولې ـ او ګټې له زهٔ لکه د وکیلانو خپل مازغه نه خټم ـ نور خلق ئې ګټي او ماله ئې راکوی "

" نو ته هم لکه د پنو خیر غواړې ؟ " په ما اوس د هغه خبرې بدې په لړیدوو شوې ـ

" زهٔ خو د چا نه خیر نه غوا ړم "

" نو پیري مریدي کوې؟ "

" پیران په څه کې دي ـ خیر خو هغوی غواړي" ـ هغه ووې ـ

" نو تاله د کومې راځې ؟"



Pukhto.Net

" زۀ د هر چا نه خپله برخه اخلم ـ لکه چې حکومتد خلکو نه ټیکس اخلي دغه رنګ زۀ هم ټیکس اخلم ـ زما خپل حکومت دې ـ د پنو پشان هر ښار کې زما کارندې دي ـ هغوئې ماله ټیکس راټولوي ـ هغوئې ترنه خپل کمیشن واخلي ـ نور ماله راؤړي" ـ

" تا زۀ دلته دې له راغوښتې یم چې زۀ هم تاله د خیرات ټیکس را جمع کوّم او درکوّم ؟" ما له اوس غصه راغلې وۀ ـ

" داسې نه ده ـ لږ زان پوهه کړه ـ دا ارګنائزیشن ډیر لوئ دې او د هر چا زان زان له ډیوټئ دې ـ ستاد پاره چې ما کومه ډیوټي سوچ کړې ده ـ هغه ډیره د عزت ده " اوس ورسره زۀ جګړې ته تیار شوې وم ـ خو دې راسره په ډیر سوړ زړه لګیا وه ـ "ګوره ځلمیه ـ هر څوک د بل نه خیر غواړي ـ بس د خیر نومونه زان له جدا جدا او بدل دي ـ او ګوره راتلونکي شل دریش کاله کې به ددې



Pukhto.Net

وطن هر سړی خیر غواړي ـ د کوڅې د سوالي نه واخله د ټول اولس مشر (صدر) پورې به په خیرات غوښتو اخته وي ـ کار کول به ورته شرم ښکاري ـ هر سړی به د بل نه خپل ټیکس، خپله برخه اخلي ـ دا لیډران، وزیران، جرنیلان او نور لویو لویو عهدو والا به د امریکې نه، برطانې ئې نه، روس نه او نورو ماړه ملکونو نه، د اولس په نامه، د ترقیاتي کارونه په نامه، د سیلاب او زلزلو د امداد په نامه به خیرات غواړي ـ کله به ورته قرض وائي، کله امداد ـ کله فوځي امداد، کله د تعلیم دپاره، کله د ماتو ګوډو د پاره خیرات غواړي او ځان له به پرې مزې کوي، خپل بنکونه به ډکوي ـ مونږ خو خپل پرائویټ تنظیم جوړ کړې دې او ښه کامیابه چلیږې او په ترقی روان یو ـ او ستا غوندې ځلمي چې نن راسره شامل شي نو سوچ اوکړه راتلونکي شل دریش کاله کې به هغه کروړپتیان وي، ځان له به بادشاهي کوي



Pukhto.Net

" ورکه دې شي ستا د خیرات ډوډۍ ، ستا تنظیم او ستا ګټه "

او نن پنځوس کا له پس دې وطن کې، چې ورته پاکستان وائي، هر سړې کشکول په لاس په خیرات دې غریب د بابو نه، بابو د افسر نه، افسر د غټ افسر نه، غټ افسر د وزیر نه، وزیران د صدر نه، صدر او جرنیلان د امریکي نه، د چین نه او د هر هغي وطن نه چې په جولۍ کې ورته دوه ټکې اچولو ته رضا شي ـ هر سړې خیرات له هر ځوا په منډو ترړو دی ـ

******

رسول الله (صل الله علیه و سلم ) فرما ئي :
" د بل چا نه څه غوښتلو نه دا غوره ده چې سړې دې سحر پړې (او تبر) واخلي او غره ته دې لاړ شي ـ لرګي دې پریکړي او بیا ئې خرڅ کړي او د دغې آمدن نه پخپله اوخري او خیرات دې ترنه هم ورکړي"

**بخاري شریف ۲ ـ صفحه 325 شمار 55**



Pukhto.Net

# مین کي کراں؟

(دپنجابۍ ټکې دې)
څه اوکړم ؟

**یو څو ورځو** له اپریل کې پاکستان ته تلې وَم ـ یوه ورځ لاهور کې، د ډاکټر هُما صیب سره د هغې خوئ ډاکټر شفقت هُما کره روان وۀ چې د نهر پل له او رسیدو نو څه ګورو چې د ګلبرګ مین روډ او د نهر چوک په عین مینځ کې د یو رکشا ډرائیور او یو موټر سائیکل والا، فري ستائیل باکسنګ ننداره وه ـ خلک پیاده که په موټرو کې، ټول په ننداره وۀ ـ څوک لیونې نه وۀ چې خلاصون



Pukhto.Net

ئې کړې وې ـ ټول ټریفک په ځای ولاړ وه ـ د سړک په غاړه، د یو وچ بوټي په سوري، د دوه ستار یو ټریفک پولس افسر ښه په قلاره ولاړ وه ـ ننداره ئې کوله ـ ډاکټر هما صیب د موټرشیشه ښکته کړه او ورته ئې وینا اوکړه ـ" کُچ کر تانړه دار صاب " ـ نو تانړه دار صیب ورله جواب ورکړو ـ

" **مین کي کراں ؟** " ـ

په دې فقره مې سوچ اوکړو نو دا خو مخکې هم ما ډېر ځله د اولس او د ذمه دار خلقو د خلې نه اوریدلې وه ـ او چې نور سوچ مې پرې اوکړو نو د دې په حقیقت پوهه شوم چې دا خو د پنجاب **قومي کلمه** ده چې د هر سړي په ژبه ده ـ

یو فقیر ته مې او وې چې په دې خیر غوښتو دې قوم وشرموه ؟ نو جواب ئې راکړو :

**مین کي کراں ـ**



Pukhto.Net

یو رشوت خور افسر ته مې او وې ـ ځان له دې آخرت خراب کړې دې نو جواب ئې راکړو :

**مېں کي کراں**

د پارلیمنټ یو اشنا ممبر ته مې او وې ـ ګوره حکومت او طاقت ستاسو لاس کې دې نو د دې بد حالۍ د پاره ولې څه نه کوئ ـ جواب ئې راکړو : **مېں کي کراں**

نو تپوسونه مې پریښودل خو خیالي تپوسونه مې شروع کړل ـ هغه په دې رنګ وۀ ـ

وزیرِ اعظم ته مې او وې چې ته د سپریم کورټ فیصله ولې نه منې ـ جواب ئې راکړو چې سپریم کورټ یو څه او صدر صیب بل څه وائي ـ زۀ خو بې اختیاره وزیرِ اعظم یم :

**مېں کي کراں**

د چیف جسټس نه مې تپوس اوکړو چې وزیرِ اعظم ستا فیصله نه مني ـ نو جواب ئې راکړوما خو فیصله ورکړه



Pukhto.Net

نور **مین کی کراں**

د فوځ د جنرل صیب نه مې تپوس اوکړو ـ چې دا فوځیان ولې خپل بې ګناه خلک وژني نو جواب ئې راکړو ـ حکومت زمونږ لاس کې نه دې ـ **مین کي کراں**

صدر صیب له اورسیدم چې ټول طاقت د ده په لاس کې دې ـ سم جواب خو به راکړي ـ عرض مې ورته اوکړو چې د ملک او قوم په حال رحم ولې نه کوئ نو خُله ئې چینګه کړه او جواب ئې راکړو ـ دا قوم د یو َټکې نه دې نو : **مین کي کراں**

آخر کې مې د ځان نه دغه تپوس اوکړو ـ نو دې ځان راله جواب راکړو چې ته لا څوک ئې نو ما اووې ـ **مین کي کراں**

په سوچ خو څه قید نشته ـ که ټولې لارې بندې دي نو خدائ خو شته ـ راشه خدائ ته درخواست اوکه نو سمدستي د غیب نه آواز راغې : **مین کي کراں**



Pukhto.Net

بجلي ډيره، ګيس به ډير وۀ
رنړا هم وۀ، ښه پخلي وۀ
اوس نلکو کې اوبه نشته
دَسو بِراؤ، کي کراں

که جرنيل دے او که صدر
که وزير دے که دا نور دي
خيرات غواړي امريکې نه
دَ سو بِراؤ، کي کراں

عزتمند به عزت دار وۀ
اوس کمسل عزتمند شو
عزت کړه ده اوس کړے
دَ سو بِراؤ، کي کراں

اميرانو، خواران لوټ کړل
غريب بم په لاس ولاړ دے
اخلي دوئي نه بدلونه
دَسو بِراؤ، کي کراں

اوس، حرام چې وۀ، حلال شو
له حلالو څه جوړيږي
چې پرے ګيډه نه ډکيږي
دَ سو بِراؤ، کي کراں



Pukhto.Net

دین ئې پرېښو ، مسلمان شو
په کلمه ئې یقین نشته
خو په لاس کې ئې تسبیح دي
دَ سو بِراؤ، کي کراں

بَد به نه وائي خپل ځان ته
که وطن ئې ټول تاله کړو
امریکې ته به ګناه کړي
دَ سو بِراؤ، کي کراں

***

# What Can I Do

**There used to be abundance of electricity and gas**
**Lots of light and food cooking**
**Now there is no drop of water in the Faucet**
**Tell me O' brothers!**
**What can I do?**

**Whether They are the Generals, or the President**
**The Ministers or others**
**All the time begging America, for Charity,**
**Tell me O' brothers !**
**What can I do?**

**There was respect, practiced by the respectables**



Pukhto.Net

**Now the downgrades have control over it**
**Respect has moved its quarters**
**Tell me O' brothers !**
**What can I do?**

**The rich extorted the poor**
**Now the poor is taking its revenge**
**With bomb in his hand**
**Tell me O' brothers !**
**What can I do?**

**Now Haram has turned into Halal**
**Halal is too meagre**
**To fill the belly**
**Tell me O' brothers !**
**What can I do?**

**They have quit their Faith to be Muslims**
**They don't trust KALMA**
**But carry Tasbeeh in their hands**
**Tell me O' brothers !**
**What can I do?**

**They don't blame themselves**
**Though they have looted the whole Country**
**!So what! America is there to be blamed**
**Tell me O' brothers !**
**What can I do? What can I do?**

*******



Pukhto.Net

# په سترګو مې نظر ولړيد

ډاکټرې زۀ لړ حيران کړم چې د ريګولر کليز چيک اپ په وخت ئې راته دا بې خونده خبر راکړو چې ستا په چپه سترګه کې لړ ګړ بړ دې ـ تپوس مې ترنه اوکړو څه ګړ بړ دې نو بل تاريخ ئې راکړو ـ او دومره ئې راته ووې چې سرجري به دې کيږي ـ

دا ډاکټره څه د پاسه ديرشو کالو زما د سترګو ډاکټره ده ـ ديرش کاله وړاندې زۀ د څه کم څلويښتو کالو ځلمې وَم ـ د ډاکټرې د عمر نه خبرنه يم ـ خو دا هم ځوانه جانه وۀ او په سترګو مې ښه ولړيده نو زړه کې مې ورته ووئيل چې د نن نه پس زما دا سترګې ستا شوې ـ ته ئې خيال ساته ـ



Pukhto.Net

بیا مې یاد نه دي خو لس پنځلس کاله پس ئې راته د لوست چشمې اولږولې ـ یو کال نیم اوشو چې د لرې لیدو چشمو ئې راته هم اوې ـ ما ورته اوئیل چې زما د لرې نظر خو سم دې ـ ته راته نن هم هغه شان ځوانه او ښائیسته ښکارې ـ اود سل ګزو نه دې په سل خلکو کې پیژندې شم ـ نو جواب ئې راکړو چې په نظر کې دې دغه نقص راغلې دې کنه ـ ډیر مې ورته ووئیل چې زهٔ په دې نقص خوشاله یم ـ خو زما خبره ئې آخوا دیخوا کړه او په ما ئې د چشمو اضافي خرچه واچوله ـ خو ورته مې اووې چې هیڅ فرق نه دې پریوتې د لوست چشمې سمې دي او د لرې چشمو راته حاجت نشته ـ خو ظالمې د ډرائیونګ محمکې ته ولیکل چې د چشمو نه بغیر ډرائیونګ نشم کولې ـ

په نوي تاریخ چې ورله لاړم نو ما وې چې سرجري به راله کوي خو د سترګو د ایکسرې تصویرونه



Pukhto.Net

ئې جوړ کړل او د بل سپيشلسټ سره ئې راله د اکتوبر تاريخ جوړ کړو او تر هغې وخت پورې ئې راباندې پابندي اولږوله چې ټی وي به نه ګورې او کمپيوټر به هم نه استعمالوې ـ ما وې ټی وی ورک کړه زۀ ئې ستا د وينا نه بغير هم نه ګورم ـ هغې کې د مرګونو، جنګونو او ورانې نه سيوا نور څه وي ـ بې ټې وي نه راته په ټوله دنيا امن ښکارې ـ خو کمپيوټر سره ملګيرتيا پريښودل راته ګرانه ده ـ چې نمسی مې خبر شول نو هغی په سم راغلل لکه چې په دې طمع ناست وۀ ـ زما کمپيوټر او ليپ ټاپ ئې سمدستی غيب کړل او زۀ ئې په ډاګه پريښودلم ـ

ډير سوچ مې اوکړو چې زۀ روغ جوړ يم ـ هر څه ښه سم وينم ـ او دا ډاکتره راته هم هغسې ځوانه ښکاری لکه چې ديرش کاله مخکې وه ـ نه مې سترګې خوږيږی ـ نو دا ولې ئې بې کمپيوټره کړم ؟



Pukhto.Net

ناڅاپه مې لکه د بجلۍ د برېښنا يوه تېره واقعه رایاده شوه ـ د کور نه یو څو مېله بېرته پکرنګ نومې ښاريه کې يو مال ته هسې سيل له وتې ؤم ـ په ګرځيدو سترې شؤم

نو په يو بېنچ کيناستم ـ لږ ساعت ناست وَم چې په خوا مې يوه ميمه تيره شوه ـ په شا ئې راته وکتل، بيا راوګرځيده او تپوس ئې رانه وکړو ـ " جوړ خو ئې ـ طبيعت دې سم دې ؟ ما ورله جواب ورکړو " روغ رموټ يم ـ لږ سترې شؤم نو دمې له کيناستم بيا هغه راسره جوخته خوا کې کيناسته او په خبرو شوه ـ زهٔ هم وزګار وم ـ نه مې څه کار وه، نه مې څه تادي وه ـ زهٔ ورسره هم په خبرو شوم ـ په خبرو خبرو کې ئې تپوس اوکړو چې اصلي د کينيډا ئې او که چرته د بل وطن نه راغلې ئې ؟ نو جواب مې ورله ورکړو چې نقلي نه يم اصلي يم خو ډير پخوا يو وطن چې نوم ئې پاکستان دې



Pukhto.Net

د هغې ځایه راغلې وم ـ یو دوه ځله بیرته ورغلې وم خو د هغه ځائې خلکو راته د خپلولۍ په نظر نه کتل ـ نو زر واپس راغلم ـ دلته مې خپل خپلوان دی ـ یاران دوستان دی او دا مې خپل وطن دې ـ هغې د خپل ځان باره کې خبر کړم چې هغه وړه وه نود مور پلار سره د جرمنی نه راغلې وه ـ اوس زما پشان دا د دې وطن ده او هغه نرسه ده ـ

" ښه ته نرسه ئې ځکه درته زۀ بیمار ښکاره شوم او تپوس دې اوکړو " ـ ما ترنه تپوس اوکړو ـ

" ته یوازې غلې او په سوچ کې ناست وې نو ما وې راشه ملګیرتیا درسره اوکړم ـ ته د نورو پاکستانیانو نه بدل شان ښکارې "

" نو د چا په شان ښکارم "

" لکه د ګریک یا اِټالین پشان ښکارې"

" زۀ نه ګریک یم، نه اِټالین یم ـ زۀ پښتون یم " ـ



Pukhto.Net

" پښتون څوک دی "

" پښتانه، پښتانه دی ـ لکه چې جرمن، جرمن دی ـ که د روس په قبضه کې وۀ نو هم جرمن وۀ او که آزاد دی نو هم جرمن دی ـ پښتانه په افغانستان او د پاکستان په شمالی صوبه پښتونخوا کې د قديم زمانې راسې اوسيږي ـ چې پاکستان نه وه نو پښتانه وۀ ـ صبا له به پاکستان نه وی خو پښتانه به وی ـ

" دا ستا سترګې ؟ " ـ

" د پښتنو سترګې شنې هم وی، د نسواری رنګ هم وی او تورې هم وی " ـ ما ورته جواب ورکړو

" ښه نو دا څکه ستا سترګې دومره ښائسته دی " ـ هغې زما د اصليت پيژندو، جواب کې اووې ـ

" ستا د خوږې ژبې زار شم ـ ته زما د ځوانی عمر کې چرته وې؟ " ما ورته ووې ـ هغې وخندل ـ بيا پاسيده او په خپله مخه لاړه او زۀ په بينچ ناست پاتې شوم ـ خبره



Pukhto.Net

هيره شو ـ څه وخت پس چې د سترګو ډاکټرې راباندې قدغن ولګولو نو د هغې دا خبره مې رایاده شوه ـ نو ما وې ـ پوهه شوم چې د دغې جرمن نرسې نظر اووهلم ـ خدائې خبر زما سترګو کې ئې څه ښائيست وليدو چې په دې عمر کې ئې راله سترګې د نظره کړې ـ ـ زهٔ خو روغ جوړ وم ـ د سترګو نظر مې ښه سم وه ـ هر څه مې سم ليدل ـ اوس هم سم وينم خو د ډاکټرانو په نظر کې مې په نظر کې فرق راغلې دې ـ په ۷ جون د يوې سترګې او بيا په ۲۸ جون ۲۰۱۳ د بلې سترګې سرجرى ده ـ د څلور زرو ډالرو وړوکې شان بل به راته په لاس کړى خو سرجن راته يو ښکلې خبر راکړو چې چشمو ته به دِ حاجت نه وى او نظر به دې د شلو کالو د زلمى پشان شى ـ ما ورته ورته په ډيره خوشالى او وئيل چې سرجن صيب زما څخه چې څه ډالرې دى ټولې واخله او زما نه د شلو کالو زلمې جوړ کړه ـ خو د خر بچى اوخندل او



Pukhto.Net

جواب ئې راکړو چې ټيکنالوجی لا دومره ترقی نه ده کړې - ما ورته ډيرپه مايوسئ اووې چې ستا د ټيکنالوجی ترقی ته به تر کومې ناست يم - سترګې راله سمې کړه چې په بوډئ ګانو د پيغلو شک نه خلاص شم -

*******

بِسْمِ اللَّـهِ الرَّحْمَـٰنِ الرَّحِيمِ

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ﴿١﴾ مَلِكِ النَّاسِ ﴿٢﴾ إِلَـٰهِ النَّاسِ ﴿٣﴾مِن شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ ﴿٤﴾ الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ﴿٥﴾ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ﴿٦﴾



Pukhto.Net

شد

# لاؤډ سپیکر

یَره سم جنتی سړی وه ـ که مسلمان نه وه نو څه وشو نیک کار خو ئې کړې دې کنه ـ  زما پوخ یقین دې چې په برزخ کې به ئې کلمه وئیلې  وی ـ مسلمان شوې به وی ـ هسې خو جنت ته نشی تلې ـ

تر اُوسه چې څومره ایجادونه شوی دی ټول تش خشاک دی ـ بس دغه لاؤډ سپیکر یو داسې ایجاد دې  چې ته ورته ایجاد وئیلې شې او چې په رشتیا  ایجاد دې ـ دې حقیقت ته ډیر سوچ او فکر پکار دې که لاؤډ سپیکر نه وې نو د لارو موټرو او هارنونو شورزوګ، د ریل ګاډو شور، د جازونو شور، دریډوانو زوګ  او د ودونو د بینډونود غوغا په دې زمانه کې د بانګ آواز چا اوریدې



Pukhto.Net

شو ـ دا ټول برکت د دې لاؤډ سپیکر دې چې پنځ وختـه، بغیر د څه رُکاوټه د بانگ آواز هر غوږ ته رسی ـ کـه نـن دا لاؤډ سپیکر نه وې نو هر خوا بـه د کفر تیـاره وه ـ زړونه به مړاوی وو ـ خلق به د دین نه بې خبره وه ـ

زما دا جومات په دې علاقه کې د ټولو جوماتونو نـه لوئ او په اوچت ځائ دې ـ او میناره ئې دومره دنـگـه ده که د علاقې د ټولو جوماتونو مینـارې په یو بل د پاسـه کیږدې نو زما د مینارې سر ته نشی رسیدې ـ که یقین دې نه راځي نو گز راواخله پخپله به دې یقین راشی ـ

په شروع کې مې یو لاؤډ سپیکر لږولـې وه ـ د بـانـگ اواز ئې په ټولو جوماتونو اوچت وه ـ خو د دې جوماتگو د مولانو په زړونه به اور بل وه ـ نو زان تـه ئـې دوه دوه سپیکرې اولگولې ـ ما زړه کې او وې ـ گوره دې مولاگړو ته، وزرې ئې اوکړې ـ خوبښ په مو شم ـ نو ما ورتـه لـور کړې ـ دوئې کې یو څو هم څلور کړې نو ما ورته اته کړه



Pukhto.Net

د کوڅې د کوټ جومات مولاګی ځان ډیر نیغ نیغ کړو او یو ئې پرې نور سیوا کړو ـ ما وې ښا په متو کې دې زور شته ـ ډاکې ته شه چې سره اوګورو ـ نو ما ورته د اتو نه دولس سپیکرې کړې ـ هغه ورځ نه تر اوسه د ټولو ملاګانې ماتې پرتې دی ـ زما باچائې ئې او منله ـ

شروع شروع کې به ما پخپله د سحر بانګ وې ـ زما اواز ډیر خوږ دې ـ خلکو به راته وئیل حضرت صیب ستاسو د سحر بانګ کې داسې سحر وې چې په ویخ سړی خوب غلبه شی ـ یوه ورځ مې ورته سوچ اوکړو نو ما وې زما مطلب خو خلک د خوبه ویخول دی ـ زه څه نورجهان یا لتا خو نه یم چې خوږې ګانې ورته اوروم ـ هسې خپلوکې ځان له خبره ده که زه هم دغه پله تلې وې نو بلا دولت به مې ګټلې وه او نن به په دې جومات کې نه وم ناست ـ سم شهرت به مې وه او اوچته سوسائټئ کې به مې ناسته پاسته وه ـ ښه سوچ مې ورته اوکړو ـ زما



Pukhto.Net

طالبانو کې يو هلک وه چې ډېر سپيره اواز ئې وه ـ د سحر د بانګ ډيوټی مې هغه ته ورکړه ـ ما وې اوس رانه تاسو اوده شئ ـ که د الله اکبر په اوريدو سره د کټه مو دنګلی نه وی نو زه به ستاسو حضرت صيب نه يم ـ د دې فيصلې دوه فائيدې وشوې ـ د سحر په مانزه ګنړه زياته شوه او بله دا چې زه سحر وختی د پاسيدو نه خلاص شوم ـ

يو سحر چې طالبانو ته مې سبق ورکولو نو يو سړې کونټی کونټی کيدلو جومات ته راننوت او زما خوا له راغې ـ ما وې ګنې نا روغه دې دعا له راغې ـ راته ئې او وې ـ مُلا تا کې دومره د سړی توب احساس نشته ـ سم د سحره په بقړو شې ـ زما پشان د چم ټول مريضان دې په عذاب کړی دی ـ ما وې بنه! او طالبانو ته مې اشاره وکړه سړې پوهه شو ـ ايغ نيغ شو ـ په داسې تيزه منده د جومات نه اوتښتيد ـ چې زه ئې حيران کړم ـ

********



Pukhto.Net



# دلیک خائیست

دتاج رحیم ساحب لیکونه د دے خبرے ثبوت دے
چه هغه په ډاګیزه وینا کی دسه مسلحت شکار شوے
نه دے۔ او دغه ئی دلیک خائیست دے۔

عظمت هما